


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم:: د ډیورنډ کرښه یا د ناسور زخم

لیکوال :: حبیب الله غمخور

کمپوز: خپله لیکوال

ډیزان:خالد هادي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډیورنډ کرښي د تړون پښتو متن

ژباړه : ډاکتر محمد حسن کاکړ

په داسي حال کي چي دهندوستان په خوا کي دافغانستان دسرحدي سيمي په هکله ځيني مسأ لي رامنځ ته شوي،او په داسي حال کي دواړه والاحضرت امير او دهندوستان حکومت هيله من دي چي دغه مسألي ددوستۍ په فهم او ددواړو دنفوذ دساحو دحد په ټاکلو سره حل کړي ،تر څو په آينده کي ددغو متحدو حکومتونو تر منځ ددغي موضوع پر سر دنظر اختلاف نه وي ، په دي وسيله په لاندي ډول سره موافقه وشوه.

۱ /دوالاحضرت دتوابعو ختيځه او سهيلي سيمه دي له واخان نه دپارس تر پولې پورې دي هغه ليکه تعقيب کړي چې په هغي نقشي باندي ښودل شوی چې له دغه توافق ليک سره مله ده.

۲ /د هندوستان حکومت به هيڅ وخت په هغو سيمو کې چې له دغي ليکي نه آخوا د افغانستان په لور پرتې دې مداخله ونه کړي، او الاحضرت امير به هيڅ وخت په هغو سيمو کې چې له ليکې نه آخوا د هندوستان په لور پرتي دې مداخله ونه کړي

۳ /دبرتانيې حکومت په دې ډول موافقه کوې چې والاحضرت امير دي اسمار او تر چاناک پوري پورته ساحه وساتي . له بلي خوا والاحضرت موافقه کوې چې دی په هيڅ وخت په سوات، باجوړ يا په چترال کې دباشګل يا ارنوايي درې په شمول مداخله نه کوې .دبرتانيې حکومت داسي هم موافقه کوې چې والاحضرت دي دبر مل سيمه ولرې کومه چي په هغه مفصلې نقشې کې ښودل شوي چې والاحضرت ته لادمخه سپارل شوې ده،او والاحضرت دپاتې وزيرستان او د داوړپه هکله له خپلي ادعانه تيريږي ،په همدې ډول والاحضرت دچاغي په باب له خپلي ادعانه اوړې.

۴ / دسرحدي سيمي ليکه به دافغان او برتانوي ګډو کمشنرانو له خواله دې وروسته په تفصيل سره وکاږله شي او حد بندي به شي په کوم ځاي کې چې دتطبيق وړ او مطلوب وي . ددغو کمشنرانو مقصد به داوي چې دسرحد په ټاکلو کې متقابل فهم ته سره ورسېږي داسي چې دغه ليکه دې تر نهايي امکان پوري دهغي نقشې له مخه وي چي له دغه توافق ليک سره مله ده،په داسي حل کې چې ددغي سرحدي سيمي دګانډيوکليو دموجودو محلي حقوقو رعايت پوره وشي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ /دچمن دموضوع په ارتباط والاحضرت دبرتانوي نوي قشلې په هکله له خپل اعتراض نه تېرېږي او برتانوي حکومت ته دهغه حقوق پرېږدي چې دسرکې تایلري په اوبوکې یې په خپله په بیه اخیستې و. دسرحدي سیمي له دغه ټکي نه به لیکه په لاندي ډول وکاږل شي.

دغه لیکه به پشا کوتل ته نژدې دخوجه امران غروله لوړي نه چي دبرتانیې په سیمه کې به پاته کیږي ،په هغه لور کښله کیږي چې مرغه چمن او دشربو چینه به افغانستان ته پاته کیږي اود نوي چمن چاونۍ او دافغان پوستي چې خلگ یې لشکر ډنډ بولي تر منځ نیمایي پوري رسیږي . دغه لیکه به بیا دریل وي ستیشن اودهغي پوښتۍ تر منځ چې دمیان بلاک په نامه یادیږي ،تر نیمایي پوري رسیږي او په داسي حال کي چي دجنوب په لور به روانه وي له خوجه امران غروسره به بیا یو ځاي کیږي .په دي ډول غوښه پوسته به دبرتانیې په علاقه کې او دغوښي په جنوب او لویدیځ کي دشوراواک سرک به افغانستان ته پرېږدي . دبرتانیې حکومت به ددغه سړک تر نیم میلي پورې مداخله نه کوي.

٦ / ددغه توافق لیک دغه پورته فقرې دهندوستان دحکومت اودافغانستان دوالاحضرت له خوا دنظر ټول عمده اختلافات چې دسرحدي سیمي په باب ددوي تر منځ پیدا شوي وو ،دپوره او قناعت ښوونکې فیصلې په ډول گڼل کیږي او دواړه دهندوستان حکومت اووالاحضرت په ذمه اخلي چې جز ۀ یاتوپه باب ټول اختلاف لکه هغه چې له دي وروسته به دهغو منصبدارانو له خوا پري غور کیږي چې دسرحدي خط دحد بندۍ دپاره ټاکل کیږي ،ددوستۍ په روحیې سره به فیصله کیږي .ددي دپار چي تر هغو چې ممکنه وي ددواړو حکومتونو تر منځ دشکونواو غلط فهمیو سببو نه له منځه ولاړ شي.

۷ / دهندوستان حکومت چي دبرتانیې حکومت په نسبت دوالاحضرت له روغ نیتې نه په پوره ډول ډاډ من شوی او غواړي افغانستان پیاوړی او خپلواک ووینې دوالاحضرت لخوادجنگي لوازموپه رانیولواو واردولوباندي به اعتراض ونه کړي ،او دوي به په خپله دغه په هکله خه مرسته ورسره وکړي .برسېره پردي ددې دپاره چې دوالاحضرت دهغې دوستانه روحیې نښه وساتله شي چي په دغو مذاکراتو کې یې ښودلې دهندوستان حکومت ژمنه کوي چې په هغه دولسو لکو کي شپږ لکه روپۍ زیاتۍ راوستل شي چې والاحضرت ته هر کال دمالیې مرستي په ډول ورکول کیږي.

هنري ماتمر ډیورنډدهندوستان دحکومت دباندنیو چارو وزیر

امیر عبدالرحمن خان دافغانستان او دهغه دتوابعوامیر

کابل دنومبر 1893.12

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ برخه

دافغانستان دڅوسوه کلن تاریخ په مطالعي سره هر انسان ته داباورپیدا کیږي چي افغان ولس ته خپل ټاټوبۍ تر هر څه ګران دی،هیڅکله یې دا نده منلي چي دپردو تر اسارت لاندي ژوند وکړي . له یوې خوا دافغانانودغه ملي غرور او له بلي خوا دافغانستان جیو پولیتیک موقعیت دنړۍ دټولو زبرځواکو پاملرنه،نه یوازي پدي خاطر چي ددغه سرکښ ولس دټاټوبي له طبعي زیرمو څخه دخپلو هیوادو په ګټه کار واخلي بلکه دا شوم هدف یي هم در لود چې دا سرلوړۍ ملت پر ګونډو او خپل غلام وګرځوي ، تر څو دافغانستان له سیاسي اوجیوپولتیکي ارزړښتمن موقعیت نه دخپلو استعماري موخو دسرته رسولو په خاطر ګټه پورته کړي.

دافغان وسل سره دنړۍ دهر زبر ځواک دښمني یا دوستي په منطقه کښي دخپلو سیاسي ،اقتصادي او نظامي ګټو دخوندي کولو پر بیاد ولاړه وه ،داحالت تر ننه هم دوام لري.

له هغي ورځي چي دانګلیسي استعمار ګر قوت داستازو پښې پخواني هندوستان ته رسېدلي او دهند دتر لاسه کولو تکل شروع سوی ،همدغه استعمارګر او زبیښا ک ګر ځواک دافغانستان دنیولو او پر هغه باندي دخپل تسلط دټینګولو خیال هم په خپلو مغذوکي ژوندی ساتلی دی.

دپرنګیانو لخوا زموږ پر پاکه خاوره دري ځله وسله وال تیری سوی چي پایله یي دلنډ وخت لپاره زموږ په هیواد کي ددوي سیاسي سلطه ګرځېدلې ده . تر کومه ځایه چي انګیزانو ونه سوه کولاي دهمیش لپاره پر افغانستان خپل واک ټینګ کړي ، ددریمي جګړي په پایله کښي زموږ هیوادد انګریزانو له منګولو خلاص او افغانستان دیو آزاد هیواد په توګه په نړۍ کي په رسمیت وپېژندل سو.

نن زما دلیکني موخه په افغانستان کي دانګلیسي استعمار ګر ځواک دریو ځلو ماتو خوړلو ته ستاسو دپاملرني راګرځول ندي . غواړم ددغي مسلي په هکله دتاریخي اسنادو پر بنیاد بحث وکړم چي:

1-دافغانستان او پاکستان دداسي ژوري دښمنۍ لامل څه دی ؟

2-کېداسي هغه لاملونه چي دا دښمنۍ یې زېږولې ده له منځه ولاړه سي ؟

ددي لپاره چي دغو دو لویو سوالو ته مو ځواب ویلی وي ددغي دښمنۍ دپیدایښت تاریخ ته په ځغلنده توګه ستاسو پاملرنه راګرځوم . یو ټکی غواړم لوستونکو ته عرض کړم چي همدا لهظه زه یوه تحقیقاتي مفصله مقاله نه لیکم او نه کومه کوچنۍ رساله ،یوازي پدیې ورستیو شپو او ورځو کي زموږ د هیواد په کورنیو چارو کښي دپاکستان بربنډو مداخلو او لاس وهنو مجبور کړم یو څه ولیکم ، او دا ثابته کړم چي ، پرویز مشرف دا پنجاپۍ جنرال پخپلو ویناوو کي صادق نه دی چي وایي : (( موږ له افغانستان سره هیڅ کومه ستونزه نلرو موږ په افغانستان کې دیوه غښتلي مرکزي حکومت ملاتړ کوو،اویا داچي وایي ، موږ تل دافغانانو سره هر اړخیزه مرستي کړي دي )) . له بلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا غواړم دهیواد داوسنیو چارواکو او دهغوي دنړیوالو مرستندویه هیوادونو پاملرنه دغه بنیادي ټکي ته را واړوم ، اوله دوي نه تپوس وکړم : که چیرې تاسو په رښتیا غواړۍ چي افغانان په خپل کور کې په ارامه ژوند وکړې ،ددولتي دواک پر سرسیالۍ چي دافغانانودژوند، اوهیواد دویرانۍ په کچه رواني دي پاي ته ورسېږي، دا اوسنۍ تاوتریخوالۍ ورک سي، اوټولو بهرنیو اقتصادي ، علمي ،تخنیکي او فرهنګي مرستو څخه پر ځاي ګټه واخیستل سې دافغانستان او پاکستان تر منځ د دتش په نامه ډیورنډ کرښي دتاریخې لانجې حل یې یوازنۍ اوا ساسي لاره ده . تر څو داترسلو کالو زیاته پاته سوې غوټه خلاصه نسې ، افغانستان ته ستاسو مفتي او یاپور ، مالي او تخنیکي مرستي به افغان ولس ته ګټوري تمامي نسې، هر څه به برباد ولاړ سي . حتا دا ډار هم شته چي تاسو به هم دافغانستان دلیرې او نژدوهمسایه ګانو په ځانګړې توګه دایران او پاکستان دپټو او ماهرانه لاس وهنوپه پایله کښې دروسانو پشان له افغانستان څخه د خپلو پښو ایستلو ته مجبور سۍ.

تاریخي حوادثو او جریاناتو دا ثابته کړې ده چي پاکستان ته یو پر مختللي او غښتلي افغانستان دمنلو وړ نه دۍ ،ځکه یې تل دلته دخپلو اجنټانواو نوکرانو پلاس هرڅه له خاوروسره برابرکړیدي . زه پخپله پدې باور یم چي په افغانستان کي دټولو بهرنیو لاسو هنواو افغان ولس دبدمرغیویو له عمده او بنسټیزو لاملونو څخه په 1893زکال دنوامبر په 12ورځ دامیر عبدالرحمن خان او دبرتانوي هنددبهرنیو چارو سلاکار ((هانري مار تیموردیورند)) لخوادافغانانووپر ښارګ ددغه په وینو لړلي د 2310 کیلومتره په اوږدوالي کرښي تیرېدل وه ،ددغه تور سند په لاسلیک سره انګریزانو وکولاي شول د پښتنوداغښتلي او باتور قوم پر دووبرخوووېشي، په افغانستان کي دیو غښتلي حکو مت دجوړېدو مخه نیسې او له بلي خوا ددې هیواد له بدنې څخه دیوه لویه ټوټه دپراخو ورشوګانو او دنګو غرولمنې جلاکړې ، په تاریخ کي دا منحوس سند د ډیورند دکرښي دسند په نامه شهر ت لري.

دا هغه لعنتي لوزنامه وه چي دلوي احمدشا ه باباپلاس جوړ سوۍ افغانستان یې داسي ټوټه کړچي دکرښي ها خوا پراته پښتانه او بلوڅ غښتلي قومونه مجبور سو ل نږدې 54 کاله دانګریزانو ظلمونه او له 1947 زکال څخه بیا تر نن ورځې پوري دپنجاپي سرې خورو او وحشي جنرالانو دظلم او ستم پېټۍ پر اوږو یوسي ، او دخپل مورني ټاټوبي نه جلا ژوندوکړي.

زیات تاریخ پوهان او څیړونکي پدي باور دۍ چي دډیورنډ دکرښي لاسلیک په هغه وخت کي کله چي عبدالرحمن خان دافغانستان دسیاسي او نظامي ناخوالو شرایطو سره لاس په ګریوان و پر هغه په زور ومنل سوه . مګر حقیقت دادۍ کله چي پرنګیانو په مخامخ جګړه کي ماته وخوړل او له افغانستان څخه وتلو ته مجبور سوه ، له دې ډارنه چي افغانان به په برتانوي هند کي دپرنګیانو پر خلاف ملي تحریک وهڅوي او یابه تزاري روسیه وکولاي سي دافغانانو په مرسته دافغانستان له لاري هند ته درسیدو پلان عملي کړي ، انګلیسانو پرېکړه وکړه چي عبدالرحمن خان له نظامي او سیاسي پلوه تر تهدید لاندي ونیسي، تر څو هغه مجبور سي اودداسي یوه تړون لاسلیک ته غاړه کښیږدي چي په هند کې دافغانستان دلاس وهنواو دتزاري روسي دنفوذدپراخوالي امکانات لږ کړ. انګریزانو دمخه تر هغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دډيورنډ دلوزماني په باب دافغاني مقاماتو سره خبري وکړې دوي دافغانستان په سرحداتو کې وضعه په خپله ګټه مغشوشه کړه ،،دوي په سرحدي سيمو کې دقومونو تر منځ خونړۍ جګړي پيښي کړې او قومونه يې يو دبل په مقابل کې دورول . زما په عقيده په هغه وخت کي دديورند کرښي دا رول ولوباوه او دافغانستان دسياسي اغېزي سيمه دومره کوچنۍ سو ه چې خپله عبدالرحمن خان هم ددغي نقشي په ليدلو حيران پاته سو ،اوله بلي خوا دکرښي بل طرف ته پراته قومونه چي ددي سند دلاس ليک سره يي سخت مخالفت ښکارکړ هم له عبدالرحمان خان څخه خوابدي سول ،داډول حالت او مناسبات دانګليسانو په ګټه واوهم په قبايلي سيمو کي ددوي دسياسي نفوذ دپراختيااصلي لامل وګرځيد.

تاريخ پوه پوهاند عبدالحی حبيبي دغي لوظنامي ته تحديد نامه وايي او هغه عبدالرحمن خان ملامتوي ، حبيبي صاحب وايي عبدالرحمن خان بيله دېنه چي دولس او قومي مشرانو سره جرګه سي او دهغو ي نظر وغواړي پر خپل سر يې دا سند لاسليک کړ هغه ليکي : (( ديګر ازکارهاي سياسي که امير بدون خواهش يا تصديق جرګهٔ مردم افغانستان انجام داد،ودر تاريخ افغانستان مسوليت بزرګ رابذمت شخص وي مي اندازدامضاي يحديد نامه ديورند است که بادولت هند برطانوي سرحدات شرقي وجنوبي افغانستان را تحديد کرد،لوي استاد وروسته ليکي :وزير خارجه هند هانري تيمور ديورند برياست کميسيون تعين حدود سرحدي به کابل امد،واعضاي اين کميسيون کلنل اليس وکپتان مانريس اسمت ، مستر کلارک ومستر وانلد وچند نفر هنديان ديګر بود. مذاکرات سياسي در کابل با خود امير آغاز شد،ودر نتيجه تحديد نامهٔ منحوس ديورند امضاګرديد ...که به موجب آن خط سرحدي ديورنداز حدود بلوچستان تا چترال وواخان تعين ګرديد،وخاک هاي چمن ،پښين ،چغۍ ،وزيرستانوبلندخيل وکورموپاراچناروافريديوباخوروسوات وبنيرودير وچيلاسوچترال که از بقاياي خاکهاي افغاني بود ،از افغانستان جداوبه هند شامل شد)) . اريخ مختصر افغانستان 300او 301مخونه . ١

زموږ دهيواد يوبل تاريخ پوه او څيړونکی ښاغلی غوث خيبري پخپل ((پښتانه دکلتوري ښکيلاک په زنځيرونو کي )) دا مسله داسي څېړي : دامير عبدالرحمن لخوادډيورند کرښي دتړون ياسند دلاسليک له امله دټولو نه غټ زيان يوازي پښتون قوم ته ورسيد...)) ٢ . ددې کرغيړني کرښي پايله دپښتون واحد قوم توکړې کېدل او دستر احمد شاه باباپه لاس د نوي جوړ سوي افغانستاندتاريخي خاوري تجزيه وه.

اوس راځو دې حقيقت ته ، دا کرښه لکه مخ کښي چي ورته اشاره وسوه يوازي يو کس لخواچې هغه دافغانستان امير و بيله دينه چې دافغان ولس او يا ددوي له استازو سره سلا او مشوره وسي لاس ليک سوه ، ددې کرښي دلاس ليک کولو سره دبل هيڅ افغان اراده نه وه او نه هم دلاس ليک کيدو تر وخته حتا ددربار جګپوړي پدي خبر وه چي داسي يوه منحوسه لوزنامه به لاسليک کيږي . همدا تاريخي دليل دې چي ددي کرښي منل دافغانستان لپاره دقبول وړنه دی .که پخپله دامیرد خاطراتو پاڼي راواړوو د هغوله لوستونو نه دې پايلي ته رسيږو،چي دانګريزانو تحديد او يا دسرحد ي ځيني قومونو څخه دامير خوابدې ددې لامل وګرځيدل تر څو دا توره کرښه لاسليک سي ؛ چې په هر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال ډېر ژر دامير سدبيا سرته و رغلې . دبيلگي په توگه کله چي امير دکرښي نقشه له بر تانوي هند څخه وغوښتل او نقشه يي وليدل ،هغه هک پک پاته سو .هغه ددغي نقشي دليدو په هکله دخپلو خاطراتو د دوهم ټوک په157 - 158 مخونو کښي داسي ليکي ( (وزير ،نوی چمن او هلته داورگاډي ستيشن ،دوموندو ټوله علاقه اسمار ،چترال او په منځ کښي يې ټولي مځکي دبرتانوي هند په لوري په نښه سوي دي )) . ۳ پوهاند کاکړ او نوروڅېړونکو پدي اړوند پخپلواثارو کي ځوځله دا په گوته کړېده چي امير ددغه سندتر لاسليک وروسته هيڅکله هم دا نه ده منلې چې دا قومونه به له افغانستان څخه په دايمي ډول بيل سي . يوه ټکې غواړم په گوته کړم دزبرځواکونو دسياسي موخودپلي کولو دميتودونوپه نظر کې نيولو سره دامسله هم دانسان په فکر کښې راگرځي ددې لپاره چې امير عبدالرحمن خان او داوسني ډيورنډ کرښي ها خوا پرتو قومونو تر منځ اړيکي خړ پړ شي تر څو امير پر هغوي دخپل نفوذدساتلو په موخې فشار راوړې ،مگر خلک ياغي وې دغه حالت راپيداکول هم په لوي گمان سره دانگريزانولخوادخپلو پلانو دپلي کولو لپاره راپيدا شو. انگريزانو دځينو ملکانو او روحاني ملايانو په وسيله خلک دامير پر خلاف راپارول تر څو دامير له امرونوڅخه سرغړونې وکړې ؛دغه سرغړونې امير يوله هغو لاملو څخه بولي چې گواکي ده غوښتل دڅه مودې لپاره ځان دهغوي له شره خلاص کړې . متاسفانه امير پدغه ټکي نه پوهيده اونه يي هم داهل خبرهو سره مشوره کول.

که څه هم امير عبدالرحمن خان له انگريزانوڅخه نارازه و، ولي متاسفانه دخپل اقتدار دساتلو په خاطر يې دا جرات نسو کولای دانگليسانو په مقابل کي په ځغرده دوريږي او دخپل هيواد دملي گټو څخه په ټينگه دفاع وکړي، دمثال په توگه هغه دخپلو خاطراتو ددوهم ټوک په 159مخ کښي ليکي : ((انگريزان وايي چي موږ دافغانستان په لور نورو مځکو ته ضرورت نلرو،موږ يوازي غواړو چي افغانستان يو پياوړی شاهي مملکت وي . خو بلي خوا دبلوچستان دخواجه په غونديو کي دتونل ايستل غواړي ، چي دهغه لاري داورگاډي پټلۍ زموږ ملک ته را ورسوي ،لکه چي زما په کولمو کي چاړه وهي)) ۴. مگر امير دغه چاړه وحلو په هکله انگريزانوته په خپله هيڅ ندي څرگند کړي . داسي ښکاري چې امير دانگليسي امپراتورۍ اوپه افغانستان کښي دهغوي دنفوذ دپرتاختياواو لاسوهنوپه هکله کومه ثابته پاليسي او معين دريز نه درلودهدا دليل وچې دامير لخوا کله کله په پټه د توريو ،وزيرو،اپريدواو مومندو خلک هڅول کېده چي دپرنگيانو پر خلاف حملي وکړي او دهغوي پوستي له منځه يوسي ،مگر کله چي دنگريزانو وکولاي شول همد قوم دده په مقابل کې ياغې کړې بيله تحليل اودحوصلې نه کار اخيشتلو څخه يې دهغو نه داسي خوابده شول چې ددې خوابدۍ جبران تر اوسه هم نشي کيداي . انگريزان هم دډيورنډ لاين دکرښي دلاسليک کولويو له ستر لاملوڅخه دځان په وړاندي ددغو قومونو او ولسونو سرکښي او مخالفتونه بولي کوم چي امير هغوي ته په دغه سيمه کي راپيدا کړي وه،مگر دوي پدغه څرگندونه کې رښتيانه وايي دوي غوښتل ددغه سند په لاسليک سره په برطانوي هند کې دروساونو دمداخلو مخه ونيسي اوله بلي خوا پښتنا جلا کړې .ددغي کرښي په لاس ليک سره دامير او پښتنو تر منځ اختلاف نور هم غښتلې کړې ،لوي افغانستان په يوه وړوکې هيواد بدل کړې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت خو دادی چي ددیورند دکرښي په ټاکلو سره دبرتانیا اساسي او سیاسي موخه داوه چي دختیځ او سهیلي افغانستان په قبایلي سیمو کي دافغانستان دددولتي اغېزې دشته والي مخنیوی وکړي . ددغي اغېزې دمخنیوي هدف دا نه وچي دورځنیو عادي تبادلي ،راشه درشي ،سوداګری ،ټولنیزو دیني او مذهبي مراسیمو په سرته رسولو کي خنډ وګرځي . خو انګریزانو دا غوښتل چي قبایل دخپل مورني هیواد څخه جلا کړي او پدي توګه دبرتانوي حکومت پر ضد دمقاومت او وسلوالو حملو ځواک کمزوری کړي.

ځکه انګلیسانو پر امیر دخپل سیاسي او نظامي فشار دراوړلو تیره څوکه دغه ټکي ته راوګرځول چي دافغانستان څخه دا قبایلي سیمي چي دپرنګیانو په مقابل کي تل بغاوت کوي له خپل مورني هیواد نه غوڅي کړي ،متاسفانه دعبدالرحمن خان دضعیف سیاست له مخې ددي کار جوګه هم شول . زموږ ټول تاریخ پوهان او څېړونکې په یوه نظر دا څرګنده وي چي امیر عبدالرحمن پر خپل سر دانګریزانو سر ه دا کرښه لاسلیک کړه . ځکه هیڅ داسي یو سند نسته چي هغه دي ددې ښکارندوي وې چي دډیورنډ دکرښي دسند په لاس لیک کښي دي دافغان ولس او یا ددوي دنماینده ګانو نظر غوښتل سوی وې.

پدې هکله زموږ مشهور تاریخ لیکونکی غبار صاحب لیکي : دیورند با شش نفر افسر به کابل رسید .... مدت اقامت این هیئت در کابل متجاوز از 40 روز طول کشیدومذاکرات غیر دوستانه به سردي وکندي پیش رفت در حالیکه سپاه انګلیس مقابل سرحد افغانستان در حالت تیارسی بود .پشنهاد انګلیس اینطور خلاصه میشد : یا بر عهد نامه مرتبه انګلیسي ونقشه مدونه انګلیس امضا ګذاشه شود ،ویا مناسبات دولتین منقطع وبه عبارت اصلي جنګ طرفین مشتعل خواهد شد ، شق سوم وجود نداشت،اینجا بود که امیر عبدالرحمن خان در معرض امتحان سختي واقع ګردیدودر نتیجه نشان داد که او طوریکه مردم افغانستان انتظار داشتند شخصیت آهنین واز خود ګذري نیست. امیر در در طي مذاکراتي که با دیورندنمود، ودر افغانستان منتشر نګردید،بلغزید ویکبار دیګر در تاریخ مسؤلیت بزرګي بر دوش ګرفت او طبق معمول بدون راي ګیري از مردم افغانستان ویا نماینده ګان انها وحتي بدون مشوره باماموړین ودربار خود بر این معاهده امضا ګذاشت . افغانستان در مسیر تاریخ 688 مخ ، ۵

که څه هم امیر پسله هغه چي معاهده یي لاسلیک کړې وه یوه مشوره تي جرګه چې فرمایشي بڼه یې در لوده راوغوښتل ، ولي دا هغه وخت و چي کار تر کار تیر سوی و . امیر پدغه جرګه کي وینا وکړه دهیواد دشمالي ،غربي ،له چین سره شرقي پولي او انګلیسانو سره دهیواد دسهیلي او شرقي پولو ټاکلو په هکله یې تشریفاتي معلومات ورکړل ، هغه وویل ددي لپاره چي په دوستی کي ژوند وکړو لازمه وګڼل سول چي دولتي حدود وټاکو، دا کارمو زما په کور کښي وکړ . که څه هم په همدغه فرمایشي جرګه کي دغبار صاحب په وینا دغونډې دبرخه والو له نامه څخه یوه وینا چي له پخوا نه برابره سوې او لیکل سوې وه دغونډې دیوتن برخوال لخوا امیر ته ورکړه سوه،چي هغه وینا بیا پخپله امیر ولوستل،په دغه وینا کي دامیر دغه کار ته دافغان ولس په ګټه دیوه حرکت نوم ورکړه سوی و اودمعاهدي دلاسلیک څخه ننګه سوي وه . همدلته باید په ډاګه سي چي ددې غونډې برخوال د هیچا لخوا دغي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډي ته نه وه ټاکل سوې ،دلته هغو کسانو ګډون درلود کوم چې له دربار سره په تړاو کې وه او تل ددربارلخواتشریفاتي غونډوته رابلل کیدل ؛ او له بلي خواداکرغېړنه لوزنامه لا پخوا لاسلیک سوې وه ، که احیا نأ دکوم چا افغاني غیرت په ښور راغلی واي او مخالفت یې ښکاره کړي واي ،ددوي مخالفت کوم رول او ارزښت نه درلود . دغونډي دګډون کونکوپه هکله تاج التواریخ دلمړي او دوهم ټوک 421 او422 مخونو ته مراجعه وشي ، ٦

داسنادو په مطا لعي سره داسي معلومیږي چي عبدالرحمن خان دډیورنډلاین دکرښي هاخوا پرتو یو شمیر قومونو څخه خفه و او هغه یې یاغیان بلل ، دهغه دا شان احساساتي او غیرمسولانه برخورددډیورنډ دکرښي سره موافقي یو له عمده لاملوڅخه ګڼلاي سو. سره له دي چي امیر دډیورنډ دکرښي سره دواړو خواو ته دپرتو قومونو مخالفت دسر په سترګو ولید مګر دغه مخالفت او مقاومت ته یي کوم ارزښت ور نکړ ؛ځکه چي هغه ته دخپلي واکمنۍ مسله تر هر څه زیات ارزښت لرونکې وه ؛ دحیرانتیا ځاي دا دی چي امیر پخپله دبرتانوي هند له وایسرانه غوښتنه کړې وه چي هغه عالي جناب دي په خپله خوښه په نقشه کي هغه ځایونه اوسیمي په نښه کړي چي ضرورت ورته لري . پدي اړه امیر پخپل ژوند لیک کښي داسي لیکي : (( از فرمان فرما خواهش نمودم نقشه به جهت من بفرستد،وخطوط سرحدي را بطوریکه خودشان میخواهند معین نما یند روي نقشه مذکور تخمینا مشخص کنند تابدانم کدام نقاط یاغیستان را خیال دارند تحت نفوف ودر حیطه اقتدار خود بیاورید.)) تاج التواریخ ،امیر عبدالرحمن خان جلد اول ودوم 417 مخ ، ۷ که دا تړون دچوکۍ دساتلو، دډار یا ځیني قومونو څخه دخوابدۍ او یا بل کوم دلیل پر اساس لاسلیک سوی دی دا )) 112 ((کاله کیږي چي ددې سیاسي تیروتني او خطا په وینو لړلې دروند پېټی ټول افغانان او دکرښي هاخوا پراته قومونه پر اوږو وړي . دا سل کاله تیر سوه خودا دناسور زخم جوړ نه سو.

دکرښي هاخوا پرتو قومونو ته دډیورنډ کرښه هیڅکله دزغم او منلو وړنه وه . مولوي محمد ظاهر شاه وزیر پخپل اثر کي لیکي : دډیورنډ دکرښي دنه منلو په خاطر دوزیرستان څخه یوه (570) کسیزه ډله دملا پیوند ،مولاناهمزالله خان او قاضي حاجي محمد په مشرۍ چي څو تنه ښځي هم پکښي شاملي وې دجرګي په ډول حتي دننواتي په توګه کابل ته ولاړه چي هلته دامیر سره دډیورنډ دکرښي په اړه خبري وکړي ،او نوموړی لدي لاري نه بیرته راوګرځوي اود پرنګیانو دظلمونواو ناروا حال ورته بیا کړي ، لیکن جرګه په نهیلۍ او ناکامۍ بیرته راوګرځیده او امیر ورسره دلیدني کتني وخت ونه موند.

کله چي جرګه بیرته تش لاس راوګرځیده نو دوزیرو او مسیدو قومي مشرانو په جرګه کي پرېکړه وکړه چي دکرښي دماتولو او بي ارزښته ګڼلو په مقصد به پښتانه پر پرنګیانو باندي مرګوني ګذارونه کوي ،لومړۍ حمله یې پر وانه باندي وکړه اوپه دي حمله کي یې 1763تنه انګلیسان ووژل . دخپلواکۍ جګړې، مولوي ظاهر شاه وزیر 22-21-20مخونه ۸

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرجمن خان په خپلو خاطراتو کې اعتراف کوي چې پښتانه دډيورنډدکرښي دلاس ليک پر خلاف مقاومت کوي ،هغه ليکي : ((اگر چه لردلنسدون درماه جون 1894م وقتي که ازهندوستان حرکت مينمود ،نطقي نموده از قراريکه شنيده ام اظهار داشت که اين قرارداد به جهت اين داده شده است که طوايف سرحدي ديگر اسباب زحمت دولت هند برتانوي نشوند،وليبر خلاف اظهارات او بر طبق اظهارات من جنگ چترالوجنگ باجوروجنگ ملاکندوجنگ وزيري وجنگ افرېدي تماماً بعد ازتاريخ مذکور با همين طوايف سرحدي که در حوزه اقتدار دولت انگليس آمده بودندحادث گرديده ،چرا که انها ديگر اميدي ندارندکه تحت حکومت حکمران مسلماني در آيند ونمي خواهندمطيع حکمراني انگليس ها بود باشد.

يو تريخ واقيعت چي لوستونکی يې دافغانستان دسرحدونو دټاکلو ،يا دروسانو او انگليسانو سره دسياسي چال چلند په هکله دعبدالرحمن خان خاطرات مطالعه کړي ليدل کيږي چې امير دقوي او غښتلي عزم خاوند نه و ، هغه افغاني شهامت اوملي غرور دخپل واک او په خپل قلمرو کښي که څه هم کوچني وي دارامي دساتلو پلوی و،هغه دهغه ځايه بيزاره و چې له مرکزنه ليري پروت و اوياهلته خلکو دمرکزي حکومت په مقابل کښي بغاوت کاوه ،سره له دې چې دامير په مقابل کښي په ټولو بغاوتو کښي دبهرنيو هيوادو لکه دروسي امپراتوري او انگريزانو لاس و. عبدالرحمن خان پخپلو خاطراتو کښي زمادخبري سپيناوي داسي کوي ،هغه ليکې : ((... درباب ولايت داخان که جز مملکت من گرديده بود قراردادم که تحت محافظت دولت انگليس باشد ،چراکه ولايت مذکور از کابل بسيار دور واز مملکت من فرد افتاده بوداز اين جهت خيلي مشکل بود که ولايت مذکور را به خوبي مستحکم نمايم )). تاج التواريخ ،امير عبدالرحمن خان جلد اول ودوم 420 مخ ۹

انگريزانو د ا ولس هيڅ وخت پر ارامه ندي پرې ايښی تل يي په يوه او بله بهانه هلته پوځونه ځاي پر ځاي کړي دپښتنواو بلوڅود قومونو دقوت او غرور دماتولو هڅه يې کړې ده .دهندي برتانيادبهرنيو چارو مرستيال وزير(( دينس بري)) په سيمه کښي د انگليسي استعمارگرودسياست څخه د1923 زکال دمارچ په پنځمه نيټه ديوي وينا په ترځ کي دهند پر ثابته او نه بد لېدونکې څارنه باندي ټينگاروکړ او ويي ويل : (( هغه څه چي هند يې لري بايدپخپله دهند په لاس کي وي)) . ده عقيده لرله چي دابه له خطره ډک کاروي که قبايل (( په خپلو ناوړه پخلنځيوکي آزاد پرېښودل سي او مورږ ته نايابه ستونزي را پخي کړي )) . شلمي پېړۍ تر نيمايي دافغانستان دبهرنيو اړيکو تاريخ لوډويک اډاميک ليکنه،دډاکتر نثاراحمدژباړه 172مخ ، ۱۰

دينس بري غوښتل چي دمسودو قوم په زور تر کنټرول لاندي راولي اودا خبر ه يي په جار کوله . د1922زکال په دسمبراود1923زکال په جنوري کي هندي پوځونو پر مسودو خورا کلکي حملي وکړې، پر سرحد باندي داسي ستر هوايي عمليات هيڅکله هم نه وه سوي . ددغي هوايي حملي په پايله کي 20 نفره په شهادت ورسيدل ، 30 تنه زخمي سول او تر دو زرو زيات حيوانات له منځه ولاړل . داچي دپرنگيانودا وحشانه حمله دقومونودکلک غبرگون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مخامخ سول او پرنګیان دېته اړسوه چي دا حمله یوه تیروتنه او سهوه وبولي،دقومونو څخه بخښنه وغواړي او دوي ته اړول سوی تاوان ورکړي ،پخپله دانګریزانو دویري او ډار ښه بیلګه ده.

دانګریزانو دا حمله 1923زکال دجنوري په( 31 مه ) دافغانستان دحکومت لخوا په رسمي بڼه په کلکه وغندل سوه او دا عمل یې د1921زکال دانګلیس_ افغان دتړون پر (11مه) ماده او هغه لیک باندي ښکاره تیری وباله کوم چي سرهنري،ددي تړون دیوي برخي په توګه لیکلی و.

دا ډول مخالیفتونو دهند تر آزادۍ او پاکستان تر زیږېدو پوري په خپل ټول قوت او شدت دوام درلود .کله چې برتانوي هندپر دو برخو پاکستان او هندوستان ویشل کیده انګلیسانو په عجیبو او غریبو مهارتو، بهانو وکولاي شول چې په افغانستان کي دهغه وخت دحاکم دولت له بي غورۍ نه دډیورنډ دکرښي ها خوا پرتو قومونو سرنویشت په نامعلومه حالت کې پاته سو . دډیورنډ دکرښي سهیلي او ختیځ پلو ته دپرتو دپښتنو او بلوڅو مشرانو قومونو د خپل سرنویشت دټاکلو په لار کښي په کلونو کلونو زندانونه او تبعیدونه ګاللي دي او دخپل قوم دآزادۍ بیرغ یې اوچت ساتلی دی.

کوم وخت چي دهند وایسرا((لاردمونت بټن)) دهند دوېشلو پلان خپور کړدهغو سیمو په اړوند چې دانګلیسانوتر مستقیمي ولکې لاندي وې څه نه وو ویل سوی .کله چي دافغانانو لخوا دغه مسله او دسرحد دخلکو غوښتنه پرنګیانو ته وړاندي سوه ،دبرتانیا حکومت داسي وښودل چي ګواکي اوس ناوخته دی ،ځکه دهند دویش مسله د برتانیا له پارلمان څخه تیره سوې ده ،دغه موضوع به ریفر نډم ته وړاندي کړو. د1947زکال داګست په 15ورځ دهند له ویش څخه وروسته ددو هیوادو جوړېدل ، هند او پاکستان اعلان سول او دسرحدي خلکودسرنویشت دټاکلو لپاره دریفرنډم اعلان وسو.

دغه ریفرنډم 1947م کال دجولاي دمیاشتي پیل او لس ورځې یې دواوم درلود، دانګریزانو لخوا په ډیره خاینانه توګه پلې سو یعني لومړی خو سرحدي خلکو ته دوه انتخابه وه پاکستان او که هند، له چاسره غواړي یو ځاي سی ؟ بله لار نه وه پرېښودل سوي چي انتخاب یي کړي،پداسي حال کي چي بایدهرومرودافغانستان نوم هم باید هلته ذکر سوی واي ، ځکه دا سیمي له افغانستان څخه هغه وخت جلاسوي وې چي دغو هیوادو وجود نه درلود،نو دکوم قانون ، انصاف او منطقو له مخي پښتنو او بلوڅو ته وویل سوه چي دهند او پاکستان په منځ کي یو انتخاب کړي ؛ بله دا چي ددغه ریفرنډم په خاینانه مفهوم دسیمي سیاسي ګوندونو، دقومونو مشران لا له پخوا پوه شوي وه ځکه یې دریفرنډم سره پرېکړون اعلان کړه . انګریزانو دلته هم دمذهب څخه ناوړه استفاده وکړه اودپاکستان په پلوې درایو ورکولو صنوق وبغل ته یې دمسلمانانو مقدس کتاب قرانکریم کښېښود او همدا شان دولتي ټولودولتي مامورینو او دوسله والو قواو مربوط کسانودانګریزانوپه دستور هغه صندوق ته رایه واچول کوم چي وبغل ته یې دا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقدس کتاب پروت و ،دریفرنډم پایلي چي هر ډول وي دافغانانو اودکرښي هاخوا ټولو پرتو قومونو دقبول وړ ونه ګرځېدې او هغوي ددغو پايلوسره ورسر غوځ مخالفت اعلان کړ.

دپښتنو ستر مشر خان عبدالغفار خان د1967زکال دسپتامبر په لومړۍ نیټه دپښتونستان دورځي په مناسبت په یوه وینا کي وویل : فیلډ مارشال ایوب خان ادعا لري چي دپاکستان له جوړېدو مخکي په شمالي صوبه سرحد کي ریفرنډوم وشو .زه دا په کلکه ردوم . لومړۍ ،دریفرنډم ناروالوبه دبرتانیا دحکو مت له لوري په هغو مسئلو باندي پیل شو چي زموږ ددلچسپۍ وړ نه دي.

دوهم : هغه دمحدودو رایو پر اساس و،یعني یوازي دصوبه سرحد په اداري ساحو پوري منحصر و،چي په سلو کي نه ځلویښت دهغو سیمو اوسېدونکو په دغه په اصطلاح ریفرندم کي برخه واخیسته دازاد سرحداوبلنچستان په سیمو کي اصلأ په ریفرندم څوک خبر شوي هم نه دي.

دریفرندم پایلي داسي وې:

دصوبه سرحد ټولي رایي 572798

دپاکستان دالحاق په ګټه 289244 رایي

دهند دالحاق په ګټه 2874 رایي

دټولورایي ورکونکو شمیر 292118

دنه ګډون کوونکو شمیر 280680

یعني دصوبه سرحد دخلکو له جملي نه هم په سلو کي یو پنځوس کسانو په ریفرندم کي برخه اخیستي وه .مروت فضل الرحمن ،په افغانستان کي دکمونیزم ظهور او تکامل 273مخ . ۱۱

دریم : پر رایو ورکولو باندي څارني او لار ښووني هیڅ وجود نه درلود.

څلرم : په راي ورکولو کي زیاته لاس وهنه وشوه.

پنځم : په راي ورکولو کښي زیاتو پښتنو برخه نه وه اخیستې.

افغانستان هم په خپل وار سره دانګریزانو لخوا اعلان سوي ټول پوښتنه یوه غولونکې کړنه وبلل او هغه یي په کلکه وغندل. دریفرنډم په هکله یي دټولو افغانانو نیوکي او غبرګونونه د((لاردمونټباټن)) تر غوږو ور ورسولې ، مګر پرنګیانو دافغان ولس پر ټولو غوښتنو سترګي پټي کړې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګلیسانو په دغه سیمه کي دخپل سیاسي ،نظامي واک او نفوذ دساتلو په منظور همیشه تلاش کاوه چې دافغاني پاچاهانو سره نیک روابط او ښې اړیکي ولري، پدې منظور یې دلاندي دریو میتودنو په پلي کولو سره دافغانستان په اړوند سیاست پر مخ بیوه:

اول : هرکال دمعینو مالي مرستو تر سره کول

.

دوهم : دافغانستان دبهرني سیاست واک پلاس کي درلودل ،یعني که به افغانانو انګریزانو ته ماته هم ورکړه متاسفانه دوي تل توانېدلي دي چې په افغانستان کي داسي څوک د سیاسي واک پرګدۍ کښېنوي کوم چې دهغه دحاکمیت په وخت کي دافغانستان دبهرنیو اړیکو دټینګولو صلاحیت تر ډېره دبرتانویانو پلاس کي و.

دریم : افغانستان ته پر ټولو وارداتو ،په ځانګړي توګه دهغو وسلو پر راوړلوکوم چې دبرتانوي هند له لاري افغانستان ته راوړل کېده ثابت کنترول . دا هغه دري اصله وه کوم چې پرنګیانو دافغانستان سره په اړېکو کښي تل په نظر کي نیول.

دانګلیسانو داسیاست داماناالله خان تر واکدارۍ دوام در لود . خو دغه حالت دامان الله خان لپاره دزغم او منلو وړ نه و ځکه یې پرېکړه وکړه چې هیواد په کامله توګه دانګریزانود سیاسي او نظامي استعمار له منګلوڅخه خلاص کړي.

اوس دغه ټکي ته یوه لنډه کتنه کوو چې دا سند دنړیوالو نورمونو پر اساس څومره داعتبار وړ یو سند دۍ:

الف : دا سند یوازي او یوازي دیوه شخص لخوا لاسلیک سوۍ دۍ ،هغه څوک چې دا سند یې دخپل ولس دارادي خلاف امضاکړۍ و مړ سو . دنړیوالو قبول سو قوانینو پر اساس ددولت نوۍ واکدار داحق لري چې زاړه تړونونه بې اعتباره اعلان کړي، داشان مثالونه دبشر په تاریخ کي په لسهاو لیدل کیداي سي . څنګه دا قبوله سي چې دبرتانوي هندسره لاس لیک سوۍ سند دي هرو مرو تر کومه چې دپاکستاني چارواکو زړه غواړي اعتبار ولري؟

دهغه تر استعمارلاندي هیواد او س اثار هم نشته ،منطقي به وي ؟ هغه دولتي جوړښت چې اوس دمځکې دکرې په حدودکې هیڅ وجود نلري ،لوزنامي دې پر افغان ولس وتپل شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې نانديريزي كرښې دلاسليک له ورځې څخه راپدې خوا دنړۍ دمختلفو پوهانو لخواګڼ شمير څېړني تر سره سويدي ،دداسي څېړونکو غوځ اکثريت په خپلو تحقيقاتي مقالو او ليکنو کښې ددې توري کرښې دناقانونيت ثبوت واضح څرګندکړ يدی . دداسي څيړنو په ډله کې د هولديچ (1910 -- 1901) او بارټن ( 1939) څېړني ډيري مهمي او دژور غور او تحقيق وړ دي چې د ((لويي دوپري ))په کتاب ،((افغانستان)) کې يې بشپړه يادونه سوې ده.

((اولف کيرو))چې دهغه کتاب ،((پټهان)) له دوه مخې ،ريا او دروغو نه ډک دی ،ولي په وروستی برخه کې يې هڅه کړې چې رښتيا ووايي ،هغه ليکي (( . . . دا رښتياده چې پدې تړون کې کرښې ته دهندوستان پوله نه ده ويل سوي ،مګر دامير دډومينيون کرښه ده چې دهغې شاته به هيڅ لورۍ دلاس وهني حق نه لري )).

فريزرټايټلرپه خپل ((افغانستان )) نومي کتاب کې پدې هکله يادونه کوي چې (( دډيورنډ کرښه له ايتنو ګرافي ،ستراتيژي او جغرافيايي نظره بې منطقه کرښه ده . هغه داباسين داوبه خور اساسي کاسه پرې کوي،يوملت په دوو برخو ويشي او حتې قومونه سره بېلوي )).

دپيښور پوهنتون دمنځنۍ اسيا دڅېړنو مشر ډاکتر عظمت حيات خان د((ډيورنډ لاين))په نامه کتاب کې ليکي چې : ((...دافغانانو ادعاوي پر دې فرضيه ولاړي دي چې پښتانه له دوي سره قومي ،ژبني ، ديني ،دوديزي ،تاريخي اوجغرافيايي ريښې لري .دهغوي بنسټيزه ادعا داده چې په افغانستان باندي دډيورنډ تړون په زوره تحميل سوی،او امير عبدالرحمن خان په داسي حال کې له انګريزانو سره پدې اړه خبري کولې چې له کورنيو او بهرنيو فشارونو سره مخامخ و. ځکه نو دا کرښه دهغه تړون پر بنا بې اتباره ده . ډاکتر حيات خان بل ځاي راوړي چې دويانا دکنوانسيون (( دوه پنځوسمه ماده )) تصريح کوي (( يو تړون که چيري دنړيوال قانون پر خلاف په زور او يا دزور په ګواښ تر لاسه سوی وي ،د اتبار وړ نه دی ، له نړيوال قانون سره سم په عمومي توګه اقتصادي او سياسي فشار د((زور)) دتوکي په مفهوم کې شامل دی نو له دي کبله د افغاني او افغان پلوه سرچينو لخوا دډيورنډ تړون بې اعتبار بلل سويدی.

يو برازيلی سياست پوه پوهاند ايکولي (Accioly) پخپل يو ليکل سوي اثر دبين المللي قانون نومي کتاب کښې راوړي (( نوي ملکونه نوي شخصيتونه لري،پخواني تړونونه له هغو سره ندي لاسليک سوي . يو بل عالم انزيلاتي (Anzilotti)ليکي بين المللي تړونونه مشخص خصو صيتونه دي چې له يوه نه بل ته انتقال کيداي نسي . که چيري يو ملک دبل ملک لخوا ونيول سي پر لومړي ملک باندي تړونونه تحميل کيداي نسي . پوهاند فرانکويس (Francois) دهالنډ دهاک نړيوال قانون پوه وايي : هغه حقوق او وجايب چې دداسي تړون پر اساس منځته راغلي وي بل ميراثي ملک ته په وراثت نه رسيږي . کاوليري (Cavalieri) پدې عقيده دی چې داصولو له مخي که پخوانی دولت له منځه ولاړ سي دهغه وجايب او حقوق هم ورسره له منځه ځي .او کله چې يوه برخه له يو ملک نه بيله سي دا برخه بايد په آزاد ډول دخپلو تړونونو په باب خبري وکړي . عبدالرحمن پژواک د((خپل پښتونستان ))دکتاب 48 مخ . ۱۲

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خو دسرحدي ايالت والي کمانډر خليل الرحمن پر دغه تاريخي واقعيت باندي په اعتراف سره ژورنالستانواو دپژواک خبري اژانس سره په يوه مرکه کي وويل چي دډيورنډ دکرښي وخت څه موده وړاندي پوره سويدی ،پاکستان بايدله افغانستان سره پدې اړه له سره لوظنامه وکړي . پدې هکله دپژواک خبري اژانس دروان 1384هجري شمسي کال دتلي په څلورمه نيټه دپاکستان دکورنيو چارو دپخواني وزير نصرالله بابر سره په مرکه کي پوښتنه وکړه . نصرالله بابر په ځواب کي داسي وايي : لومړی بايد درته ووايم چي دډيورنډ دکرښي لوظنامه موږ دخپل حکومت پر مهال په 1967زکال کي له سردارمحمد داودخان سره تازه کړې ده چي دهغه دلاسليک سره موجوده ده ،په دې لوظنامه کښي ويل سوي ووچي(( دډيورنډلاين مسله دي د اوس لپاره همداسي پاته وي څنګه چي اوس ده ))،او پکي وخت نه ووټاکل سوی . دا ښاغلی جنرال په قهريږي او خپلو خبرو ته ادامه ورکوي وايي : ((زموږ نااهله مشران په داسي بيانونو سره ددواړو هيوادونو او ولسو نو تر منځ تاو تريخوالی ډيره وي )) . دخندا وړ خو داده چي بابر دغه اوسني حالت ،دافغانستان او پاکستان روابطوته ولي دځان په ګټه ددوستانه اړيکو نوم ورکوي ،متل دی وايي (( شل يې مړه کړه دی يې لا بدي نه بولې)) ،دا اته پنځوس کاله دوي دخپلي دښمنی او تاريخي عقدو دسرته رسولو په خاطر افغان ولس ته دسر په کاسه کي اوبه ورکړي او دکرښي هاخوا قومو سره يې چي څومره اړين بللې ناروا او تادا کړې ده. ولي متاسفانه په زياته سپين سترګی جنرال بابر داټول دوستانه لورې يني بولي دغو مناسباتواو اړيکو ته چې هره ورځ سرې وژونکی او ډاراچوونکې راليږې اويا له هغوي نه په يوه او بل نامه ملاتړ کوي دوستي وايي.

زما لپاره دا جواب که څه هم يو وزير ويلی دزيات اهميت وړ دی . لومړی ښاغلی بابر دپاکستان ديوه جګپوړي پخوا ني چارواکي په توګه چي په افغانستان کي دخپل بل سيال حميدګل پشان دشرارت او فساد اچولو او زموږ په هيواد کي دکورنی جګړي داور دلمبو دپيل او تازه ساتلو يو له اصلي عامیلینو اوعلاقمندانوڅخه دی دا اعتراف کوي چي دا کرښه ده ، نه دسرحدونو تعين . او دوهم داچي داجناب قانع دی چي ددغي لعنتي کرښي پر سر دلاسليک سوي سند داعتبار موده رښتياهم دولس کاله پخوا تير ه سوې ده . اودبله پلوه دټولو افغانانو پام دغه ټکې ته را اړه وم چې داښاغلی وايي موږ دډيورنډدکرښي دسرنويشت په هکله له محمد داودخان سره خبري کړي ،يوسند دهغه په لاسليک تروت دی چې دډيورنډ دکرښي دبرخه ليک په هکله ليکلې چې (( دډيورنډلاين مسله دي د اوس لپاره همداسي پاته وي څنګه چي اوس ده)) دلته يوه ټکي ته غواړم ددرنو هيواد والو پاملرنه راوګرځوم چي دډيورندکرښي لوظنامي ته دا دسلو کالو داعتبار موده چاورکړه ؟ او دکوم نړيوال حقوقي منل سوو قوانينو پر بنياد دا خبر ه کيږي ؟ پدغه سند کي داعتبار نيټه نه ده ټاکل سوي ، دا يوه خيالي افسانه ده . متاسفانه له هغه وخت نه راپدې خوازموږ دهيواد ټولو واکدارانو له يوه مخي (ټولو) کله نا کله دپښتونستان دسياسي مسلي دحل خبره کړې ده ولي کله چي دبهرنيو زبرځواکونولخوا چي ددغي مسلي په دغه شان پاته کيدوکښي يې ګټي نغښتي وي غاښ چيچنه احساس کړې ده ډير زرپه خاص سياسي مهارت تر دغه مسلي تير سوي دي ،ځکه په مرموز تبليغ دخلکو تر غوږ داورسېدلې وه چې دا سند ګوياسل کال داعتبار معياد لري ؛په رښتياسره هيڅ يوه پاچا او جمهور رئيس ددغي مسلي داساسي حل په منظور دنړيوالو پاملرنه نه ده راجلب کړې او نه يې ددغي مسلي دنړيوال کيدو لپاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هانداو تلاښ کړی دی . المانیان چي دخپل هیواد او المانیانو دویش سره مخالف وه دواړو خواوو ولسونومبارزه کړي او دفدرالي المان حکومت چي دالمان پر زیاته خاوره یې حاکمیت درلود خپله ملي او دولتي دنده بلل په هر شکل چې کیږي باید دواړه المانه سره یو ځاي شي چي داسي هم وشوه ،دویتنام ،یمن بیلګې باید دتولو په یاد وي .
ب : د مرحوم داودخان سره دا سند چي (( دا خبره دي اوس پر خپل ځاي پاته وي ))،زموږ دهیواد په مطبوعاتو کي هیڅ کله نه ده راڅرګنده سوې ، زه پدې باور یم چي دابه هم یوه معامله او په مرحوم داودخان تور لګول وي، په هر حال که ربښتیا مرحوم داودخان داسي یوه لیکنه چي هغه دمعاهدي بڼه نلري لیکلې وي اودجنرال بابر په وینا یو لیک دي نو دا لیک ته معاهده نسو ویلاي اونه هم دا کوم سند کیداي سي ځکه داودخان دي اوس خداي وبخښي هغه مړ سو دمړو خبري دمړو سره ولاړې . اوکه پاکستان داسند په هغه ډول چې موجود دی ټکي په ټکې په مطبوعاتو کي خپورکړې په هغه صورت کښي به دسند پر مخ خبري معلومداره او حرګندي پیل شي . او بل بابر خپله وايي چي مرحوم داود خان ولیکل چي ((دا خبره دي اوس پر خپل ځاي پاته وي)) دا پدې معنا نده چي بیا سل کاله ددې تاریخې لانجي په هکله څوک څه نسي ویلاي.

دبابر خبري هغه تاریخي او ژوندۍ سند دی چي اوس باید ددغه لعنتي کرښي سرنویشت دتل لپاره دنړیوالو په مرسته او دهغوي د سیاسي مداخلو، دملګرو ملتودسازمان او امنیت شورا دلاري لکه څنګه چي نوري نړیوالي دا شان خپل منځي لانجي حل کړ یدي دحل لاره ولټول سي . دامسله اوس اوس دافغانستان او نړۍ پدغو شرایطو کښي دزور او جګړې له لاري نشي حل کیداي ،دحل یوازنې لار یې دنړیوالو سازمانو په مرسته دسیاسي حل لاري چاري لټول دي . د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هم د پاکستان د کورنیو چارو وزیر معین الدین حیدر افغانستان ته له دوو اجنډاوو سره لاړ چې یوه یې د افغانستان او پاکستان ترمنځ یو بل ته د مطلوبه جنایتکارانو د سپارلو تړون او بله اجنډا د ډیورنډ کرښې په اړه د تړون لاسلیکول و خو طالبانو لومړۍ خبره ورسره ومنله او ډیورنډ لاین په اړه یې له تړون کولو انکار وکړ . BBC 2006.04.06 ، ۱۳

که تاریخي حقیقتونو ته وکتل شي نو ډیورنډ کرښه د دواړو هېوادو ترمنځ اساسي لانجه ده چې ورڅخه د پاکستان او افغانستان اوسني حکومتونه هم سترګې نه پټوي خو د دغې لانجې چینل یې د نورو موضوعاتو په لور بدل کړی دی . پاکستان هر وخت له کوچنۍ امکان څخه هم استفاده کړې چې تر امیر عبدالرحمن خان وروسته دپاکستان له حکومت سره دډیورنډ دکرښې په هکله کوم تړون امضأ کړي ،له نیکه مرغه دوي ونشوه کولاي داسي سند تر لاسه کړي . د ځینو رپوټونو ترمخه پاکستان ان د ډاکټر نجیب الله سره د ډیورنډ کرښې په اړه د معاملې هڅه وکړه خو بریالی نه شو. BBC 2006.04.06 ،۱۴ غواړم لومړۍ دافغانستان ولسمشر ، دولتي چارواکواو په ځانګړې توګه دبهرنیو چارو له وزیرنه دافغانانو دا پوښتنه یو ځل بیا تکرار کړم ،چې که چیرې مرحوم داودخان داسي یو لیک پاکستاني چارواکو ته لیږلی وي ددغه لیک دڅرنګوالي په هکله باید دبهرنیو چارو دوزارت لخوا ژر تر ژره د افغانانواو نړېوالودخبر تیا او پوهاوي لپاره مفصل معلومات خپور سي . دوهم : دپاکستان دکورنیو چارو دپخواني وزیر او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسرحدي صوبي دچارواكي دخبرو په هكله چي هوايي او ساده نه وې ، ولي تر اوسه دولتي چاراواكي چوپه خوله پاته دي ؟؟؟ دولت اخلاقي او رسمي مكلفيت درلود دداسي ملي او دو هيوادو تر منځ لانجمني مسلي په هكله چي تر يوي پيړۍ زيات وخت يي افغان وسل او تر كرښي هاخوا پښتانه او بلوڅ قومونه ربړولي دې بايد رسمي غبرگون يې ډير ژر اعلان كړی واي . هر ډول چوپه خوله پاته كيدل دمسلي دحل سره نه داچې مرسته نسي كولاي ،بلكه دامسله نوره هم لانجمنه او دكړ كېچ ولور ته كشوي . د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيكو يا جگړې لوی لامل د ډيورنډ كرښه ده چې د افغانستان اوسنی حكومت يې په اړه په ډانگ پيلې خبره نه كوي او پاكستان بيا د داسې هڅې كوي چې دغه كشاله په رسمي توگه راپورته نه شي دواړه هېوادونه په دې اړه خپلې اندېښنې په زړه كې ساتي خو د يوبل د تنگولو لپاره نور موضوعات لكه پر پوله باندې د مشكوكو جنگياليو اوړېدل راوړېدل راپورته كوي او دا هغه څه دي چې د دواړو هېوادو ترمنځ يې په اړيكو كې لويه ستونځه رامنځ ته كړې ده.

ت : امير عبدالرحمن خان په خپله هم دخپلي تير وتني په پوهېدو سره په وار وار پدي خبره ټينگار كړی دی چې دا ليكه نړيواله پوله نه ده،بلكه ددواړودولتونو (افغانستان اوبرتانوي هند)داغېزې دسيمي دټاكلو لپاره كښل سوې ده.

ډاكتر حسن كاكړ زموږ پياوړي تاريخ پوه په مستندو شواهدو سره دا حقيقت څرگند كړی دی چي حتي پخپله ډيورنډهم له هندوستان سره دافغاني سيمو دتړلوخيال نه لاره بلكي غوښتل يې چي هغه يې داغېزې سيمه وي.

برتانوي معاصر تاريخ پوه(( پرسي سيكس ))دخپل كتاب په 219 مخ كي چي په 1926 زكال كي يې ليكلی دی وايي : انگريزي ديپلومات ډيورنډ داسي وراندېز نه وكړی چي گوندي دهندوستان اداري پوله وړاندي وغځوي ،بلكي داكار يي تنها دسياسي كنترول موندلولپاره كړی و.

ث : دډيورنډ كرښه دپولي ترون نه و او نه هم دی ،په ټولو اسنادو كي دكرښي په نامه نومول سوې ده.

ج : دبرتانوي هند په رنگېدو سره نوربه دنيا كي دبرتانوي هند په نامه كومه دحقوقي صلاحيت لرونكې اداره اويا هيوادپاته نشو،او نه هم دهنداو پاكستان دويش او جوړېدو په سند كښي دبرتانويانو لخوا ليكل سوي دي چي له افغانستان څخه دډيورنډ دمنحوسي كرښي په وسيله جلا سوې سيمي به له انگليسي پلار او هندي مور نه زېږېدلي پاكستان پوري اړه و لري؛او دبرتانوي هند دټول نړېوالوتړونونووارث پاكستان دی . دغه ترون دهيڅ نړېوال قانون له مخي پاكستان ته په ميراث نسي رسيداي ؛كه پاكستاني مارشالان،ميجران، جنرالان او ديو شمير افغان دښمنه گوندونو رهبران زيات نه خفه كيږي ،دا تر لمر روښانه او څرگند حقيقت دي ومنې چي دا بي پلاره او بي موره وطن يعني پاكستان دا دنړۍ دزبر ځواكو نوكر هيوادپرنگي استعمارگر او زبېښاكگرقدرت دافغاني او هندي ولس سره دخپلي دښمنۍ دتر سره كولواو دخپلو هغو نوكرانو لپاره چي په سووكلونو ددوي پلار او نيكه دانگريزانو په چوپړ كي وه دخوشحالۍ، په هند، افغانستان او سيمه كښي دنوروملكونو پر خلاف دخپلو شومو او ځېښېنونكو موخودسرته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسولو په منظوردهندوستان او افغانستان له پاکي خاوري څخه دتوتو په غچي کولو جوړکړ . په همدې اساس دا خبر رښتیاده چي پاکستان یو بې ریښې او بې تاریخه هیواد دی.

ح : داسي اسناد اوبیلګې نسته چي برتانوي منابعودي دډیورنډ کرښه دنړیواله معاهدي په توګه منلې وي

خ : تر امیر عبدالرحمن خان راوروسته دافغانستان په تاریخ کښي تر اوسه پوري هیڅ حکومت دډیورند کرښه په رسمیت نه ده پیژندلې ،داچې ددغي تاریخي لانجي او لاینحله مسألې دحل لاري یي ولې ندي لټولي ،فکر کوم دوي هم دعبدالرحمن خان په څیر ولي په اوسنیو شرایطو کښي دخپل قدرت دټینګولواوکله ناکله دنړیوالو دپام اړوني لپاره یوې خوا او بلي خوا کوم څه ویلې دې .مګر دحل اساسي لاره یي نده لټولي.

دپخوانیو حکومتونو داډول بي مسؤلیته کړنو څخه همد اوس دډیورند دکرښي دعادلانه حل دښمنان ددروغجنو دلایلو او تهمتو په وژاندي کولو سره غواړي دپاکستان په ګټه خپل تاریخي رسالت تر سره کړي ،که نور هیح نه وې دغه ډله ښاغلې لیکوال نه غواړي پاکستان ته دتلو لار دځان پر مخ بنده کړې ،داسي وطنپرستانو تل هیواد نیۍ او ولسي ګټې په دروغجنو شواهدو او دلایلو تر ځانې ګټو قربان کړیدې ،داډول لیکوال اوس ورځ په ورځ په بهر کې زیاتیږي . فکر کوم یو ځل بیا په هیواد کې دپاکستان دغښتلې نفوذ ته سترګي په لار دې ،له وحمه هم داشان دپاکستان په ګټه لیکني کوي . ځینې خولا په افغانستان کې د اوسنیو نا ارامیو،ترواو ځانوژنو بي امنیتیو عمده لامل پاکستان ګڼل ګناه بولي.

څ : کله چي په 1947زکال دنړیوالي دوهمي جګړي په پایلو کي انګریزان مجبور سول چي دهند په لویه قاره کي نور خپل سیاسي او نظامي شتون ته دپای ټکۍ کښیږدي ، دوه هیوادونه (هندوستان او پاکستان ) چي اساس یي دمذهب اختلاف جوړاوه دنړۍ په نقشه کي نوي منځته راغلل.

اما دافغانستان څخه په زور دجلا سوو قومونوبرخلیک همدا شان نامعلومه پاته شو . داکار دافغان ولس لپاره دمنلو وړ نه و،په همدې اساس د1949دجولاي دمیاشتي په 26نیټي جوړي سو لویي جرګې کښي چي په کابل کي جوړه سوه د برتانیا سره یې ټولي سرحدي موافقي بي اعتباره وبللې ،او پریکړه یي وکړه چي هندوستان ته دخپلواکۍ له سپارلوسره سم دبرتانیا او افغانستان تر منځ د1921 زکال تړون منسوخ دی . حکومت ته لارښوونه وسوه چي په نړیواله کچه ددې موضوع دڅیړني او سپیناوي په لټه کي سي چي ایا په قانوني بنیادونو دهندوستان دویش په پایله کي پاکستان دبرتانیې حقوقي وارث ګڼل کیداي سي او که نه ؟ . له بدمرغه حکومت لکه دتل پشان ددغي لویي جرګي دپریکړو په عملي کولو کي لټي وکړه،دبهرنیو زبرځواکو پر هدایاتو یي غوږ کښېښود او دپښتنواو بلوڅو دبرخه لیک ټاکلومسله یې پرخپل ځاي پرېښودل ،یوازي دپښتونستان دورځې په جشن نیولو او په راډیو کښي دپښتونستان په نامه دځانګړي پروګرام په خپرولو یي دکرښي دواړوخواوپښتانه غولولې دې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټولو اسنادو له مطالعي څخه څرګندېږي چي انګريزانو نشو کولاي او يايي نه غوښتل افغانستان ته دډيورنډدکرښي په هکله دقناعت وړ ځواب ورکړي نو به يي په يوه او بله بهانه موضوع ځندول.

ددې ټکي په ډاګيز کيدوسره چي دډيورنډ دکرښي دمسلي دحل لپاره دافغانستان دولتي چارواکو زښت زيات تاريخي امکانات لکه دکرښي هاخوا پرتو قومونو په لسها و ځله ښورښونه ،دتزاري روسي ،او بيا راوروسته دشوروي ر وسې او انګلستان تر منځ داختلافاتو مهال،لومړۍ او دوهمه نړيوالي جګړې ،دهند دلويي وچي ويش ،دبنګله ديش دآزادۍ وخت او داسي نور فرصتونه دخپل واک او اقتدار دساتلو لپاره دلاسه ورکړي دي، غوارم څرګنده کړم چې نه دپاکستان حکومت او نه هم دافغانستان دولتي چارواکودډيورنډ دکرښي دمسلې نوم پر خوله اخيستۍ دی ،دواړوهيوادو دپاکستان دجوړيدو څخه بيا تر نن ورځي په خپل منځ کښي رښتياني دوستانه مناسبات ندې لرلې ،تل اختلافات ،يودبل پر خلاف تبليغات آن دعمومې سپر برۍ تر سرحده ولې يوې خوا هم دډيورنډدکرښي په هکله چې دپاکستان او افغانستان دمناسباتو دبنسټ ډبره ده په ډانګ پېيلې خبره نده کړې.

دافغانستان او پاکستان تر منځ دڅرګند اختلاف پيل د1947زکال دسپتامبر مياشت ده بللاي شو ، يعني پسله هغه چې انګريزانو ديوي ناروا صحنه سازيی يعني ريفرنډم جوړولو ننداره پاي ته ورسول ؛ اوپه مقابل کښي دډيورنډدکرښې جنوبياو شڑقي لور ته دپرتو قومونودسرنويشت پر سر دملګرو ملتوپه سازمان کي دپاکستان دګډون سره دمخالفت اعلان و کړ ،او دکرښيې دها خواپرتو خلکو دسرنويشت مسله يې په دغه ونډه کې مطرح کړه . په تاسف دملګرو ملتو دسازمان دګې غونډې دافغانستان و وړانديز او طرحي ته دزيات ارزښت په سترګه ونه کتل او مسله همداشي لا ينحله پاته شوه.

د1949زکال دجولاي دمياشتي په26مه دافغانستان دملي شورا ديوې تاريخي غونډې په ترڅ کي هغه ټولي معاهدي دډيورنډ دکرښي په ګډون دبرتانوي استعمار په وخت کي چي په زورمنل سوي وې لغوه اعلان سوې . ددغي پريکړې په ملاتړ داپريدو خلکو په يوې لويه تاريخي غونډه کي چي دسرحد دقامونو او قبايلوډير مشرانو پکښي ګډون درلود،دهند دوېشلو دا پلان چي دسرحد خلکو ته هيڅ حق نه و پکښي ورکړه سوۍ په کلکه وغانده او غونډې دټولو نه غوښتنه وکړه چي دپښتونستان په جوړېدو کي سره يو او متحد سې.

دپښتنو ستر مشر پاچا خان چي دبرتانيې داستعمار پر خلاف يي اوږدې مبارزي کړي وي دسرحدي پښتنو دجنبش په سر کي ولاړو او دپاکستان له واکدارانو څخه يې ددخپل قام دحق مطالبه کول.

پاکستان له افغانستان سره خپلي اړيکي خرابي او پر افغانستان يې د بهرني تجارت دترانزيتي مالونو دراوړلو بنديز ولګاوه او دپاکستان له لار افغاني سوداګروپر مخ بلکل بنده سوه.

پدغه وخت کي دافغانستان او شوروي اتحاد تر منځ هم روابط چندان تاوده نه وه ،شوروي نه غوښتل چې افغانستان دي له غربي نړۍ او امريکا سره ښه روابط ولري . شوري په 1952زکال په افغانستان کښي دملګرو ملتو دهغو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارپوهانو پر فعالیت اعتراض وکړ کوم چي په شمال کښي يې دتيلو دپلټني کاردملگرو ملتو دتخنيکي مرستو نه په استفادي سره پر مخ بيوه . هغه وخت شوري حکومت په خپلو تبليغاتو کي په افغانستان کي داقليتونو دحقوقو موضوع راپورته کړه ،چي افغانستان دخپلو اقليتونو پر خلاف عمل کوي .د1950زکال دشوروي په دايرت المعارف کي ليکي : دافغانستان دولت يو بورژوا او ملت غوښتونکی دولت دی،پداسي حال کي چي دغير افغان قومونو لپاره چي په هغه هيواد کي اوسېږي دآزادی او خودمختاری حق نه ورکوي دهند افغانانو دنهضت پلوي کوي او غواړي چي دپاکستان يوه برخه بيله او پښتونستان جوړ کاندي .)) له غير افغان څخه ددوي هدف بيله پښتنو دانور وړه کې توکمونه دي ،شورويانو هم پر دغه روڼ حقيقت ستر گي پټولي چي داسيمه له افغانستان څخه جلاسوې او په برتانيو هند پوري تړل سوې وه ، له بلي خوا شورويانو داقليتونو دحقوقو څخه ددفاع تر نامه لاندي دانه شوه زغملاي چي په بغل کي يي دافغانانو قوي اوپر مختللي دولت موجود وي،ځکه يې په افغانستان کي داشان تربگنيو او دافغانانو تر منځ اختلاف ته دړنگېدو تر ورځي لمن وهله او اوروسي وارثان يې اوس په هيواد کي دخپلو لاس پوڅو په وسيله کله دفدراليزم او کله دافغانستاني په نومونو زموږ ورونه قومونه سره ويشي ، شورويانو هيره کړې وه په هغه نظام چي دعدالت ، مساوات ،او مترقي پر مخ تللي ټولني دجوړېدو شعارونه ورکول کېده په خپله امپراتورۍ کښي يې دازبکو ،تاجکو،ترکمنو ،قزاقانو،چيچين ،اينگوښو ،تاتارو او نورو لږکيو قومونو سره کوم سياست چلاوه دنړۍ په دغه سيمه کي تر دوي شاته پاته سيمي او قومونه اوس اصلا وجود نلري.

دا دافغانانو سرنويشت او تور بخت دی،په هغه وخت کي دامريکا سره هم اړيکې دومره تودې نه وې،امريکا دپاکستان جوړښت ته ترهر څه زياته خوش بينه وه . په 1949زکال کي دپاکستان حکومت امريکا ته وړانديز وکړ چي دکمونيزم دسياسي اغېزو دمخنيوی په منظور امريکاکولاي سي دپاکستان په خاوره کښې پوځي اډه جوړه کړي . همدا لامل وچې په 1950زکال امريکا پاکستان ته اتومي رياکتور ورکړ ه پداسي حال کې چي هغه وخت دسيمي ډيرو هيوادوهغه نه درلوده،او همدا شان يي په 1953زکال دپاکستان سره دپوځي مرستو اعلان وکړ. په واقعيت کښي له همدغه تاريخ نه پاکستان دامريکا په نظامي لومو کي داسي بند او را ښکيل سو چې تر اوسه يې په پاکستان کښي د امريکاسياسي اونظامي بر لا سي خوندي ساتلې ده . همدا اوس هم دامريکا دملي شورا ځيني جگپوړي چارواکي په ډاگه وايي چي پاکستان په سيمه کي ددوي دهر اړخيزي اغېزي يوه مطمينه ، باثباته پايگاه او تکيه گاه ده.

دبيلگي په توگه کله چي په 1954زکال داکتوبر په مياشت کي مرحوم داودخان دصدارت پر مهال هغه خپل ورور سردار محمد نعيم خان امريکا ته دپوځي مرستو دتر لاسه کولو په منظور ولېږه دهمدغه کال په دسمبر کي دامريکا دبهرنيو چارو وزير (( دوليس )) دافغانستان دغوښتني په مقابل کي وليکل : وروسته له زياتو څېړنو داسي وپتېيل سوه چي پوځي مرستي به په افغانستان کي پرابلمونه را پيداکړي .افغانستان بايد دوسلو دغوښتلو پر ځاي له پاکستان سره دپښتونستان دمسلې پر سر خپله ستونزه حل کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي دا په ډاګه ويل چي افغانستان دوي ته کوم ستراتيژيک اهميت نلري اوکه بين المللي شرايط او اوضاع دا ايجاب کړي نو افغانستان به شوري تر خپل کنترول لاندي راولي .دامريکا سياست والو لا ډير پخوا زموږ دهيواد برخه ليک په شورويانو پوري تړلې و، او دستراتيژيکوګټود سيمو په ويش کښي يي افغانستان شوريانو ته سپارلې و. ځکه امريکايانو دافغانستان سره له ډير پخوا دخپلو ګټو دساتلو په منظور دوه مخې سياست پر مخ بېوه او تلاښ يې کاوه چي خپلي پښې په سيمه کې دخپلو ستراتيژيکي ګټو دساتلو په منظورپه پاکستان کښي ټينګې کړي . کله چي په 1954زکال دامريکا جمهور رئيس مرستيال ((نکسن ))افغانستان ته سفر وکړ او دافغانانو لخو ا ډير استقبال سو،افغاني چارواکو دهغه سره دافغانانو ستونزي شريکې کړې ،که څه هم دوعده يې وکړه چي دافغانستان په اړوند به پخپل ديدکي نوې کتنه کوي ، مګر کله چي امريکا ته ورسيد نه يوازي دا چي دافغانانو ستونزي يي يادي نکړې بلکي افغانستان يې دامريکا دمرستو جوګه هم ونه باله . ١٥

که ددغو اسنادو يادولو ته نوره هم ايشاره وکړو دليکني تر توان وزي .په لنډه توګه بايد عرض کړم چي په سلهاو داسي تاريخي اسناد او شواهد سته چي زموږ هيواد دتودو او سړو جګړو په وداران کي دنړيوالو زبرځواکونو دسياسي ،نظامي او اقتصادي ګټو قرباني سوی دی . هيڅ يو هيواد هم که هر څومره يې دبشر دوستي ،عدالت ،انصاف او دانسان مقام ته ددرناي نارې سورې وهلي افغان ولس يي لکه دنړۍ نور کمزوري ولسونه تر خپلو ګټوقربان کړي دي .يوډير ساده ولي پر ځاي متل دی وايي : ((ورورہ خپل جواري ساته دشکاڼه په قسمو باور مه کوه )) ،وړانديز مي دادی چي افغانان بايد خپلي ملي ګټي پخپله درک او له هغو نه پخپله دفاع وکړي ،دملي ګټود لومړيتوب حق منل زموږ دهيواد دښيرازۍ يوله بنسټيزو لاملو څخه ګڼلاي شو.

امريکا ډير تلاښووکړه چي افغانستان په منطقه کي دنظامي پکټونو غړی کړي ،مګر افغان ولس تل په بيطرفۍ کي ژوند کړی او دنړۍ دهيوادوسره يې دهمدغه اصل په پيروۍ اړيکي ساتلي دي . دا هم يو دلامل و چي امريکاتل زياته تکيه پر پاکستان کړې او افغانستان يې تر پاکستان قربان کړ يدی.

مګر تاريخي واقعيت خو بيا دادی چي دامريکا او پاکستان ددومره دوستانه اړيکو څخه پاکستان زياته ګټه پورته کړې ده ،د انکار نه کونکو شواهدواو بيلګوڅخه دا جوته څرګنديږي هر هغه څه چي پاکستان دځان په ګټه بولي په هغه کي دامريکا سره قانع دی ، ولي هغه څه چي پاکستاني جنرالانوته زيان رسوي دوي په يوه او بله پلمه دهغو دمنلو نه سر غړولې دی . دا دامريکا دسخاوتمندانه مالي ،تخنيکي او مادي مرستواو په افغانستان کي دجهاد په نامه دبل شوي اوربرکت ؤ چي اوس پاکستان دنړي داټومي هيوادو په قطار کي ولاړ دی ، ځکه امريکا او دنړۍ يو شمير هيوادو دشوروي دنفوذ دمخنيوي په خاطر دافغان مجاهدينو په نامه په ميليارډونو ډالر او ډول ډول وسلي پاکستان ته راليږ لې . پاکستان افغانستان ته حکومتونه جوړول ،او دا دهمدغو مرستو برکت و چي پاکستان او افغانستان دالقاعده دنړيوال ترريستي سازمان په مرکز بدل سو، دا دی اوس دومره پيسې دالقاعده دسازمان او هغوي درهبرانو دله منځه وړلو په خاطر مصرفيږي چې ډير ژر به يې شمير ناشونی وي . دهمدغو مرستو برکت و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي پاکستان دهغو په میلیاردو ډالرودقرضو څخه ځان خلاص کړکوم چې له بهر نه يې تر لاسه کړې وه . دهمدغو مرستو پایله وه چي دا اته پنځوس کاله پاکستاني جرنیلانو دافغانستان په کورنیو چاروکي دبربنډي او پټو لاس وهنو او مداخلونه لاس نه دی اخیستی ، زه به يې دلته بیلګي ددي لپاره راوړم تر څو ښکاره کړم چي پاکستان دامریکا او انګلیستان په مرستو دډیورنډ دکرښي پر سر له افغان ولس سره په کومه کچه دښمني پر مخ بیولې ده.

پدغه اته پنځوسو کالو کې دافغانستان او پاکستان روابطو ډیري لوړي ژوري لیدلي ،څو ځله دسفارتخانو او دپلوماتیکي مؤسسو دتړلو تر کچي پوري داړیکو خراب تیارسېدلي ده. که ددغو ټولو اسنادو او شواهدو لوستونکی عادلانه او بې پري قضاوت وکړي پدي به اعتراف وکړي چي افغانستان هیڅ کله ندي غوښتي په پاکستان کي ددولتي رژیمونو دړنګولو تکل وکړي او یا دهغه هیواد په کورنیو چاروکي مداخله وکړي .که همدا لهظه يو لوستونکې ددغو جملو په ویلو سره سوال وکړي چي دا دپښتونستان دمسلي دحل غوښتنه مداخله نه ده ؟؛ غواړم دغه پوښتونکي ته ځواب ووایم نه ! دا مداخله نه ده دا دافغانستان ددولتونو ملي او انړپواله دنده وه او ده چي دډیورنډ دتش په نامه کرښي دهاخوا پرتو پښتنواو بلوڅو قومونودسرنویشت دټاکلو مسله چي دډیورنډ دلعنتي کرښي پر اساس له خپلي مورنۍ خاوري نه جلا سویدي تل دپاکستان سره په اړیکو کي مطرح وي ، نړېوال باید دغه ټکی ډیر جدي په پام کې ولري اودا هیره نکړي چې تر اوسه دپښتنو او بلوڅو دسرنویشت د ټاکلو مسله لاجمنه اولا ينحله پاته ده،چي ددواړو هیوادو تر منځ يې مناسبات ترتیاره سیوري لاندي راوستي دي . تر لمر روښانه واقعیت دادی چي پاکستان هیڅ وخت په افغانستان کي دولس دخوښي حکومت نه دی زغملی ،دا اته پنځوس کاله يې دامریکا او خپلو نورو پلویانو په مرسته زیار ایستی چي په افغانستان کي داسي يو ځواک قدرت تر لاسه کړي کوم چي بیله کوم دلیل او برهان څخه دپاکستان هرامر ورته د قبول وړ وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخځليکونه

١ /تاريخ مختصر افغانستان 300او 301مخونه.

٢ /غوث خيبري پښتانه دکلتوري ښکيلاک په زنځيرونو کې154مخ

٣ /عبدالرحمن تاج التواريخ لومړی او دوهم ټوک -157 158 مخونه

۴ /همدا اثر 159مخ

۵ /غبار افغانستان در مسير تاريخ 688 مخ

٦ /عبدالرحمن همدا اثر 422-421 مخ

٧ /دعبدالرحمن تاج التواريخ لومړی دوهم ټوک دوهم ټوک 417 مخ

٨ /دخپلواکۍ جګړې، مولوي ظاهر شاه وزير 22-21-20مخونه

/9دعبدالرحمن همدااثر 420

١٠ /د شلمې پېړۍ تر نيمايي دافغانستان دبهرنيو اړيکو تاريخ لوړويک اډاميک ليکنه،دډاکتر نثاراحمدژباړه 172مخ

١١ /مروټ،فضل الرحيم ،په افغانستان کې دکمونيزم ظهور اوتکامل 273مخ

١٢ /عبدالرحمن پژواک خپل پښتونستان 48 مخ

١٣BBC 2006.04.06 /

١۴ /همدااثر

١۵ /پولاد افغانستان او امريکا 148مخ

١٦ /همدا ډول ديوري کوزنتس له کتاب ،جنګ وجاسوسي درکابل ، دري ژباړه ، 2003 م کال څخه هم استفاده شوېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهمه برخه

دپاکستان اوافغانستان تر منځ دډیورنډ دکرښي پر سر داختلاف پايلي.

تاريخ شاهد دی دی هر وخت چي زموږ په هيواد کي هر مثبت اوښتون راغلی او يا په نړيواله کچه دافغانستان نړيوال علايق غښتلي سوي پاکستان ته دزغم او منلو وړنه دي ګرځېدلي . او سمدستي يې په مداخلو او لاس وهنو پيل کړی دی . غواړم دپاکستان څرګنده لاس وهنو ته دمرحوم داودخان تر کودتا وروسته لنده کتنه وکړم.

کله چي په افغانستان کي د1973زکال دجولاي په 17 ورځ دچپي پوځي افسرانو په غوښنه ونډه سردار محمد دودخان په داسي وخت کي چي محمد ظاهر شاه په ايتاليا کې و دولتي واک تر لاسه کړ،هغه دګوند دمرکزي کميټي دپرېکړي په اساس په افغانستان کي جمهوري نظام اعلان او خپله يې دجمهور ريس دنده پر غاړه واخيستل . خلکو ته دخطاب په وينا کښي يې چي درادیو افغانستان له لاري خپره سوه د خپل دولت دراتلونکي کړنلاريزو کرښو اساسي ټکي افغان ولس ته اعلان کړې ، هغه پخپله دغه بيانيه کي دپاکستان سره درورابطو په هکله داسي وويل : ((له پاکستان سره دارېکو په ارتباط بايد ووايو چي دا يوازنی هيواد دی چي دپښتونستان دمسئلي پر سر ورسره اختلاف لرواو تر اوسه يې په حل نه يو بريالي سوې .زموږ دايمي کو ښښ به دپښتونستان دقضيې دحل لپاره دوام وکاندي )). سره له دې چي داودخان دخپل انقلاب ملګري يوازي وطنپال وبلل ، دکيڼ لاسو موجوديت امريکا او غربي اروپاته داندېښنې وړ و،بينالمللي عکس العملونه هم متفاوت و. پاکستان دهغه دښمنی او اختلاف پر اساس چي له مرحوم داودخان سره يې دهغه دصدارت له وخته لاره دامريکا او غربي نړی په اشاره سمدستي په دي بهانه چي ګويا دهغه سره کمونستان ملګري دي او دهغه حکومت يو شوروي پلوه رژيم دی پټو او ربرنډو لاس وهنواو مداخلو ته ملا وتړ ل ؛ غربي نړی او امريکاوه نه غوښتل چي په سيمه کي دي دشوروي سياسي اغېزې وده وکړي.

سره لدې چي دنړيوالو اړېکو په نورمونواو اصولوکوم چي داودخان ته يې ديو ولسمشر په صفت دا حق ورکاوه چي دکوم هيواد سره څه ډول اړېکي وساتي تر هر چا ښه پوهېدل . له بده مرغه دملګروملتودسازمان هغه پرېکړي چي يو هيواد په بل هيواد کي دهيڅ ډول مداخلي او لاس وهني حق نلري دکاغذ پر مخ ليکل سوي بيله دېنه چي عملي بڼه غوره کړي دهغه سازمان دفترونوپه الماريو کي پرتې دي . تر کومه ځايه چي دپرېکړو پلي کول لازمي بڼه نلري ، سوپر پاور هيوادونه دخپلو سياسي ،اقتصادي اوپوځي موخو دسرته رسولو لپاره دکمزورو هيوادو په وړاندي هر کاره چي ګټې يې وغواړي سرته رسولاي سي . افغانستان ديوکمزوري هيواد په توګه دپاکستان دهغو بر بنډو مداخلو او لاس وهنو ښکارسو چي پايلي يې تراو سه لا ندې څرګندي.

دذوالفقار علي بوټو په وخت کي دافغانستان او پاکستان اړېکو بل رنګ واخيست . دپاکستان چارواکو وخت غنيمت وباله او دداودخان پر خلاف يې تبليغات غښتلي کړه ، له کودتا څخه دوي ورځي وروسته دجولاي په نولسمه نيټه دکراچي راډيو په يوه خبر ي راپورکي وويل سوه ، چي په افغانستان کي دجولاي په اولسمه ديوې نښتي په ترڅ کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو زيات شمير كسان وژل سوي دي ، دورستيو راپورونو له مخي په كابل كي مارشل لا اعلان سوېده ،دافغانستان پولي تړل سوي دي ، دكابل هوايي ډگر تړلی دی او دخلكو پر گرځېدو بنديز لگول سوی‌دی .اسلام آباد دافوهاتو په خپرولو پيل وكړ،چي داود خان كمونست دی او په افغانستان كي اسلام د خطر سره مخامخ دی . دلوېديځو مطبوعات او دډلييزو رسنيو وسايل هم لدې ډنډورې سره يو ځاي شول او داودخان يې روسي پلوه باله . په لندن كي ،دلندن ټايمزورځپاڼي وليكل چي دپښتونستان مسلي ته په اشاره سره ((...داودخان يو زوړ زخم بيا راسپخولی دی ...))، پدې پسي دفرانس پريس اژانس ( AFP) راپور وركړ چي دافغانستان نوي رژيم ((...له افغانستان څخه دټولو پاكستانيانو دسمدلاسه ايستلوامر وركړی دی ...)) ، پاكستاني چارواكو په ډير محافلو كي پدې هكله بحثونه كول چي په 1971زكال كي هند وستان له پاكستانه څخه بنگله ديش غوڅ كړ ،اوس افغانستان غواړي چي دورسانو په مرسته پاكستان تجزيه كاندي . دا تبليغات پداسي حال كي شورع سول چي د داودخان دقدرت لومړی ورځي وې ددغو تبليغاتويوازنی لامل يې د داودخان په لومړی بيانيه كي دپښتنو او بلوڅو دسرنويشت دټاكلو او دهغي دعادلانه حل يادونه وه.

دير وخت لانه و تير سوی چي ذوالفقار علي بوټو په افغانستان كي دجمهوري نظام دنسكورولو لپاره په يو لړ عملي گامونو پورته كولو لاس پوري كړ .دمجيد كلكاني په مشری يوي ډلي د((ستم ملي )) په نامه له يوي بلي ډلي سره په گډه چي د ((سازمان انقلابي مردم افغانستان )) نوم وركړه سوی و دبوټو دحكومت لخوا ور سره اړيكي ونيول سوي او دهغوي د پوځي روزني لپاره يي دكرښي ها خواكمپونه پرانيستل . په اخوان المسلمين مشهوره يوه بله ډله چي په افغانستان كي يې فعاليت كاوه هم بو ټو تر خپلي حمايي لاندي ونيول، دا ډله چي د((جوان مسلمان )) او ((اسلامي نهضت )) په نامه يادېده دكابل پوهنتون دشرعياتو پوهنځی درئيس پوهاند غلام محمد نيازي په مشری د په اصطلاح ((كمونستانو ))پر ضد په زوره ور پټ او ځرگند فعاليت كي لاس لاره ، د((جوان مسلمان )) گوند په 1974زكال كي دداودخان دحكومت پر خلاف يوه پاڅون كي برخه لرل . داودخان پر دغه حركت مرگونی گذار وكړ ، دپوهاند نيازي په گډون دوه سوه كسان ونيول شول ، برهان الدين رباني،احمدشاه مسعود،او گلبدين حكمتياريو په بل پسي پاكستان ته وتښتېدل،او هلته دپاكستان دآي ايس آي ،او سي آې اې تر گډي لارښووني لاندي يې دنوروځوانانو په تر بيه لاس پوري كړ . ددې موضوع په هكله سيد قاسم رښتيا دخپل كتاب ،((خاطرات سياسي سيد قاسم رښتيا 1932-1992)) په 427مخ كي ليكي چي (( البته تفصيل واقعه را اكثر هموطنان اطلاع دارند كه در واقع به ابتكار ذوالفقار علي بوټو صدراعظم پاكستان توسط گروههاي اسلامي وابسته به جماعت اسلامي پاكستان حمله عليه رژيم متمايل به شوروي سردار محمد داود صورت گرفت .)) دبي بي سي خبريال جيورج اراني چي په 1986او 1988كي يې په پاكستان كي دنده لرل دافغانستان په اړه خپل كتاب په 132مخ كي ليكي چي ((بوټهو له 1973زكال نه راپدي خوا تبعيدي افغانانو ته چي هدف يې همدا درباني ،احمدشاه مسعود او گلبدين ډلي دي مالي او اكمالاتي مرستي وركولي ،هغوي ته اجازه وركړه سوه چي په پېښور كي خپلي قرار گاوي پرانيزي ،او گام په گام دپاكستان لخوا تمويل كيده )) . نصيرالله بابر يو ځاي وايي ((د افغانستان په يو شمير ولايتونو كي دبغاوت دشروع په ترڅ كي بوټهو داود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پیغام واستاوه ددي نغاوت ګڼ شمیر له هغه سره (په افغانستان ) کي دملاتړ دنشتوالي له کبله ناکامسول )) . دپاکستان دډلییزورسنیو لخوا دپنجشیر دپیښي په اړه دکراچي راډیوپه یوه راپورو کي وویل سوه چي دپنجشیر په سیمه کي چریکان اوس غرونو ته وختلي ... داووسو په شاوخواکي قومي لښکر دجولاي په 22 نیټه پر دولتي پوستو پر دولتي دفترونو یر غل وکړ او زیات شمیر دولتي پولیس یې وژلي دي ، دتلفاتو دقیق شمیر ندی معلوم ویل کیږي چي دشپږ سو تنو په شاوخوا کي به وي.

ددوي داغه ماته او د داود خان لخوا ددوي ځپل ددي باعث وګرځیده چي رباني او ګلبدین پر دو ډلو سره وویشل سي ،رباني دجمیعت اسلامي او ګلبدین دحزب اسلامي په نامه ګوندونه جوړ کړه او دپاکستان دآي ایس آي په لار ښودنه دافغانستان پر ضد په فعالیت بوخت سول . دغه تنظیمونه چي دشوروي تر تېري وروسته یې شمیر په پاکستان کي اوو او په ایران کي نهو ته ورسید له هغو اولنیو پوځي ښوونو له کمپونوڅخه دپاکستان حکومت له دوي نه دخلک دموکراتیک ګوند دحاکمیت پر خلاف، افغانستان ته دروسانو تر راتګ وروسته درسانوپر ضد، بیا پخپله درباني ،ګلبدین ،سیاف ،خالص ،مجددي ،ګیلاني پر ضد تر هغه وروسته دطالبانو او دادی اوس دکرزي دحکومت پر خلاف دهغو نه کارا خلي . هغه زوړ پلان زړې موخي، زوړ تیاتر، ولي تنها د دغه تیاتر لوبغاړي په وخت او زمان سره د پاکستان او امریکا د استخباراتي ادارو لخوا بدل سوي دي.

دمرحوم دا ود خان په مقابل کي داسلام څخه ددفاع په نامه حرکت موخه په افغانستان کي دپاکستان لپاره د جمهوري نظام او مثبت تغیررتو مخ نیوی و ، له بلي خوا داودخان دپخوا نه له پاکستان سره دډیورند دکرښي پر سر دښمني درلوده ، داودخان دصدارت په وخت کي و چي دپاکستان پرضد دعمومي سپر برۍ اعلان وسو. دا ځل بیاد داودخان او پاکستاني چارواکوتر منځ دپښتنو او بلوڅو دسرنویشت پر سر تاوتریخوالی داسي لوړ ي کچي ته پورته سو، چي دامریکا مجبوره سوه دسعودي عربستان او ایران دپاچا هانواو نورو هیوادو په مرسته د افغانستان او پاکستان تر منځ دنورمالو روابطو درامنځته کیدو تلاښونه شرو ع کړه ، داسي فکر کېده چي ددغو دو هیوادو دپاچاهانو او مشرانو دتلاښ په پایله کښي به دپاکستان او افغانستان روابط ده مخامخ دښمنۍ له بهراني حالت څخه دسیاست ډګر ته راووزي او دسیاسي روابطو په لرلو سره به دښو اړیکو په رڼا کي دډیورنډ دکرښي دبرخلیک په هکله د یوي تاریخي پرېکړي پر سر سره موافقي ته ورسېږي . په 1976 زکال دجون په میاشت کي دپاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بوټهو وهڅول سو کابل ته سفر وکړي ،هغه دخپل سفر نه مخکښي خان عبدالغفار خان چي د خان ولي خان اونشل عوامي پارټۍ نور غړو سره یې په 1975زکال دفبروري په ((8 () نیټه دپیښورپه پوهنتون کي په یو بمي چاودنه کي دحیات محمد شیرپاو اودهغه ورسره اتلس ملګرو له منځه تللو نه وروسته زنداني کړی وله زندان څخه خوشي کړ.

عبدالصمد غوث چي دمحمد داود خان او ذوالفقار علي بوټو په مذاکراتو کي حاضر و لیکي (( داود خان بوټو ته وویل چي ځیني هیوادونه دپاکستان او افغانستان په دوستۍ خوشحاله نه دي ،که څه هم داودخان دکوم هیواد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم وانه خيست ولي هدف يي شوروي اتحاد و. داودخان دا هم وويل چي ځيني پاکستانيان په دې عقيده دي چي موږ دپاکستان ورانول غواړو، دا حقيقت نه لري ولي چي موږ په خپل څنګ کي يو قوي پاکستان غواړو . داودخان دا هم وويل چي دخان عبدالولي خان په شمول دصوبه سرحد ټول پښتانه نه غواړي چي ددوي سيمي دي دپاکستان څخه بيلي سي . دوي دپاکستان اساسي قانون ومانه اودپاکستان په انتخاباتو کښې يې برخه واخيسته او موږ ددوي دغه عمل تائيدوو)) . زما په عقيده دا دمرحوم داودخان خپل شخصي نظر و او ځانته يي څرنګه چي جمهور رئيس و د ((موږ)) خطاب کړی دی ،ځکه داودخان هم کابل ته دبوټهو تر راتګ دمخه دافغانانو له کومو استازو سره په دې هکله مشوره نه ده کړې ،دا چي په رښتيا هم دغو پښتنو قانون منلی او په ټاکنو کښې يې برخه اخيستې او دا اوس هم برخه اخلې ، دا يو تاريخي ضرورت دی ځکه دوي مجبور دي چي دا کار وکړي ؛ ولي ددغو ټولو کړنو سره ددغه سيمي دغوڅ اکثريت ولس پرېکړه په دې هکله چي دوې غواړي دپاکستان سره پاته سي نشته ،عمده او لانجمنه مسله هم داده چي دغه ولس ته په واقعي بڼه په يوه دموکراتيکه فضا کي بېله مستقيمي او غيرمستقيمي مداخلي او تأثير ښندونوواک ورکړه سي چي خپل برخليک په خپله وټاکي.

دپاکستان صدراعظم بوټهو داود خان ته وويل (( زه په دې خوشحاله يم چي دافغانستان مشر په خپلو خبرو کي پر پاکستان باندي دارضي ادعا خبره ياده نه کړه )) . درنو لوستونکو تاسو داکوچنی کرښه ښه دقيقه ولولی بوټهو هم پدي پوهيږي چي ارضي ادعا خو سته ، ولي دا چي دا ود خان ياده نه کړه نو دی ډير خوشحاله دی او هغه ته يې ګويا کورودانی ووايه.

دبوټهو دسفر په پاي کي ددواړو هيوادونو تر منځ يوه ګډه اعلاميه لاس ليک سوه . په دغه اعلاميه کي داختلافونو حل دباندونګ دکنفرانس دګډژوند دپنځو اصلونو پر نبا غوښت سوی و . ځيني تاريخ پوهان پدې نظر دي چي دبوټهوکابل ته پدغه سفر کي دافغانستان ته دپاکستان له کراچي بندر څخه دتجارتي مالونو دترانزيت په توګه دمالونو دوړلو راوړلو پر سر خبري سوي دي او بوټو دنړيوالو هغو نورمونو په اساس په وچه پوري تړلي هيوادونو ته حق ورکوي د هغه همسايه هيوادد بندرواوخاوري له لاري چي بحر ته لار لري خپل ټول مالونه دترانزيت په شکل خپل هيواد ته راوړي پر مسله تر مذاکراتو وروسته موافقه ښودلي ده .که څه هم پدې هکله نږدې درو پنځوس کاله پخوا (1950زکال) داسي يوه موافقه دپاکستان او افغانستان تر منځ لاس ليک سوې ده ، خو تر ننه پوري پاکستان دغه موافقي ته وفادراندی پاته سوی ،کله دترانزيت مالو دوړلو راوړلو لپاره ليست جوړه وي او کله بيا دوه يا درې قلمه شيانو ته اجازه ورکوي ځيني وخت دټولو نړيوالو نورمونو خلاف دافغانستان دسوداګرو پر مخ بندر تړي ،دځينو خبري رسانو په خبر دافغان سوداګرو هغه مالونه چي په 1980او ياتر هګه وروسته دکراچي بندر ته رارسېدي يو زيات شمير يې تر اوسه هلته په کانتينرونو کي پراته دي دا چي دغو افغان سوداګرو ته زيان رسېږي پاکستاني جنرالان او صدراعظمان يې پر وا نه لري . داودخان په 1976زکال داګست په شلمه دڅلورو ورځو لپاره پاکستان ته رسمي سفر وکړ. په هغو مذاکراتو کي چي دسيد وحيد عبدالله او عزيزاحمد تر منځ وسوې ،عزيز احمد داسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پشنهاد کړی وچي که پاکستان دپښتنو او بلوڅو مشران دبنديخاني څخه ازاد کړي ،آيا دهغه په مقابل کي افغانستان دډيورنډ کرښه په رسميت پېژني ؟ او دپښتونستان تر موضوع تېرېږي ؟ په پاي کي داسي فيصله وسوه چي په اوسنۍ ګډه اعلاميه کي دي دکابل داعلاميي تايد وسي . عبدالصمد غوث دافغانستان سقوط 146مخ ددغو وداړو سفرونود پايلو څخه خلکو داسي ارزو لرل او فکر يي کاوه چي ددواړو هيوادو تر منځ به اړيکي ښه سي . خو د1977زکال دجون دمياشتي پر پنځمه ورځ دجنرال ضياالحق لخوا په پاکستان کي پوځي کودتاوسوه او ددواړو هيوادو تر منځ تماسو نه پرې سول . مګر امريکا تر حه مودې وروسته ضياالحق وهڅاوه چي دشوروي دنفوذ دمخنيوي په خاطر افغانستان سره ښه روابط وساتي ،په همدې اساس جنرال ضيا د1977زکال داکتوبر په مياشت کابل ته سفر وکړاو دسفر په وخت کښي يې داود خان ته پاکستان ته دسفر بلنه ورکړه . په دغه وخت کي چي جنرال ضيا دبلوڅو او پښتنو ټول بنديان ازاد کړي و د1978زکال دمارچ د مياشتي پر پنځمه نيټه داودخان پاکستان ته سفر وکړ . داود خان دپښتنواو بلوڅو دمشرانولکه ،خان ولي خان ، غوث بخش بيزنجو،عطاالله منګل،او خير بخش مري سره دجنرال ضياالحق په مخ کي ليدنه وکړه . د داودخان دسفر په وروستۍ ورځ دپاکستان خارجه وزير آغاشاهي افغاني هيئت ته يو ليکلۍ متن دامضالپاره وړاندي کړ چي په هغه کي ليکل سوي و،((افغانستان دډيورنډ کرښه په رسميت پېژني ،افغانستان دپښتونستان تر ادعا تېرېږي ،دواړه هيوادونه به يودبل پر ضد پروپاګنډ نه کوي ،دواړه هيوادونه به يو دبل سره اقتصادي مرستي کوي )) . سيد وحيد عبدالله ددغو مطالبو په هکله آغاشاهين ته وويل چي افغانستان ددغه ليک نور مطالب مني ولي ددغه ليک لومړۍ دوه ټکي بايد دافغانستان دلوي جرګي له خوا تصويب سي . په پاي کي دمحمد داود او جنرال ضياالحق داسي موافقه وسوه چي داعلاميو پر ځاي بايد دواړه هيوادونه يو پر بل باندي اعتماد وکړي.

دمارچ دمياشتي په اتمه نېټه داودخان په يوه مطبوعاتي کنفرانس کي برخه واخيستل ،ده ديوه خبريال ددي پوښتني په جواب کي چي آيا د ده او جنرال ضيا تر منځ دډيورنډ دکرښي په هکله خبري سوي دي او که يه ؟ داود خان په جواب کي وويل ،((ما او جنرال ضيأ پر ذيعلاقه ټولوموضوعاتوباندي خبري کړي دي چي هر موضوع به په خپل وخت کي ددواړو هيوادو تر منځ حل سي )) . عبدالصمد غوث هغه اثر 146 مخ

زموږمنلی شاعرګل پاچا الفت وايي : (( ښه سړی چي دبدانوسره منل سي دده فکر دهغو فکر کي حل سي))

زه پدې عقيده يم چي دپاکستان دکورنيو چارو پخوانی وزير جنرال بابر دپژواک دخبري اژانس سره په مرکه کښي دداودخان داخبر ه تکرا ره وي کوم چي خبرلوڅ ته يي کړي ده ممکن هلته يي هم آغاشاهي ته دا خبره کړې وي . داودخان دخپل واک په لومړيو وختو کي دشوروي سره ښه روابط لرل مګر امريکا ته دا دمنلو وړ نه و،له هري خوا يي پر داودخان فشار راوړی چي دروسي سره خپلي اړيکي ضعيفي کړي ، په دې خاطر يي دايران او سعودي پاچاهانو ته دنده سپارلي وه او همدا شان دمصر جمهور رئيس انور السادات پدي ګمارل سوی و چي داودخان له شوروي سره دښو اړيکو نه واړه وي . هغه ددغه کار په سرته رسېدو بريالی سو دداودخان روابط دروسې سره ساړه شوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجمهوریت په دوهم کال یي دشوري پلوه ټول هغه کينې اړخه کودتاچیان چي دې یې واک ته رسولی و له دولتي څوکیو گوښه کړه ،او دهغو ځاي دامریکا اوغربي اروپا پلویانوته ورکړه سو . داهغه وخت دی چي افغانستان د نړۍ دمخالفو دو زبرځواکو دمبارزې او سیالۍ میدان وگرځېد.

په دې وخت کي دساړه جنگ سړوبادونو سره هرڅه له منځه وړل او نړۍ ددو زبرځواکو دسیاسي اغیزو او اقتصادي گټو دترلاسه کولو په خاطر ټوله نړۍ په زور یا رضا پر دو برخو وېشلې وه او هغه چي ځانته یي بیطرفه وایه هغه مجبورېده چي یو طرف ونیسي.

زه فکر کوم دډېرنۍ دکرښي ددواړو خواو پرتو قومونوداسي تور بخت دی ،کله چي دا کرښه لیکل کېده عبدالرحمن خان یو خو خپل واک ساته او بل دمسیدو او وزیرو څخه خفه و،هغه وخت چي داود خان ددې مسلي دحل تکل وکړ امریکا وتوانېدل د داودخان په مقابل کي دشوروي رهبر بریژنیف دځان غوښتني سیاست دښکاره کولو څخه دومره گټه پورته کړي چي هغه هم نور ونه غوښتل له غربي نړۍ ،امریکا ،ایران او پاکستان سره اړېکي خراب کړي ځکه یې وویل ددواړو هیوادو تر منځ باور اساسي خبره ده او کوښښ یې شروع کړ چي دپاکستان سره خپل اړېکي داوستانه کړي دا چي داودخان به بیا بل وخت څه کول او دډیورنډ دکرښي په هکله یې څه پلان لاره متاسفانه څوک نه دي خبر ،ځکه دخپلو پټو پلانو په هکله هغه دهیچا سره راز نه دی شریک کړی . واک ته ورسېد هغه هم ډېر ژر دنورو هیوادو تر سیاسي تاثیراتو لاندي راغلی ، امریکا وتونیدلاي سوه دمختلفو لارو هغه هیوادونه چي پخوا یي په افغانستان کي اقتصادي سرمایه گذاري نه کول په پانگه اچونه شروع کړي،او له بلي خوادافغانستان په اړوند دشوروي اتحاد سیاسي تگ لاره داسي وه چي بل هیڅ هیواد ته یې اجازه نه ورکول چي دافغانستان سره نږدې سیاسي ،اقتصادي او فرهنگي اړیکي ولري ،دپوځي اړیکو په هکله فعلا څه نه وایم چي موضوع اوږده نسي.

دبېلگي په توگه کله چي په 1977زکال کي داودخان مسکو ته سفر وکړ ،په یوه غونډه کي بریژنیف دشوروي مشر له داودخان څخه تپوس وکړ چي آیا دا رښتیاده چي تاسو له امریکا څخه مشاورین غوښتي دي ؟ داودخان په متأ ثراو لوړ آواز بریژنیف ته په جواب کي وویل ،زه دیوه آزاد هیواد دجمهور رئیس په توگه هیچاته دا حق نه ورکوم چي زماڅخه داسي پوښتنه وکړي ،او له غونډې ولاړ سو . بریژنیف دداود خان دخداي په امانۍ لپاره هوایي ډگر ته ورغلی تر څو هلته خپله خبر ترمیم کړي ،مگر دغه لیدنه ډېره لنډه یعني پنځه دقیقي وه او هلته دمهمو خبرو مجال پیدانسو. تر دغه وروسته ددواړو هیوادو په اړیکو کي ډېر زیات سوړوالی راغلی اوپایله یې داسوه چي داودخان دایران ،پاکستان او دنړۍ دنورو هغو هیوادو سره چي دروسې مخالف وه په زیاته علاقه غوښتل ښې اړېکي ولري ؛دغه وخت دی چي داودخان پاکستان ته سفر کوي ، دسفر جریان مي مخکښي ولیکه .یوه خبره غواړم ووایم چي له بده مرغه زموږ په هیواد کښي دهغه غروپر اساس چي افغانان یې لري له عادي خلکو نیولې ،سیاسي گوندونو ،دولتي چارواکو او ددولت مشرانو ،(له شاه نه تر گدا) پوري دافغانستان دملي گټو په مفهوم یا پوه سوي نه دي او یایي نه دي غوښتي چي له ملي گټو نه په میړانه دفاع وکړي ، تل یي وطن تر هغو گټو قربانکړی چي دوي غوښتل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دډیر غټو مسایلوسره یي داحساساتو پر بنیاد برخورد کړی دی . نړیواله وضعه او په افغانستان کي سیاسي حالت داسي راجوړ سو چي د مرحوم داودخان حکومت ډیر دوام ونکړ ، تر هغه ورسته په افغانستان کي د1357 ش کال دثور په امه ورځ دافغانستان دخلق دموکراتیک ګوند دیو وسله وال پاڅون په پایله کي واک تر لاسه کړ ، څرنګه چي دغه ګوند سیاسي او اډیالوژیکي اړیکي له شوروي اتحاد سره وې ، او نړۍ چي پخپله دشوروي او امریکا په خوښه پر دو قطبو ویشل سوې وه افغانستان په شرقي قطب کي واقع سو ،ما مخکښې هم دامریکا دحکومت هغه یوه نظر ته چي دافغانستان په اړوندیي ددوي پالیسي ښکاره کول ایشاره کړې وه چي دوي ویل اوس افغانستان موږ ته ستراتیژیک ارزښت نلري اوکه شرایط تقاضا وکړي نو شوري به افغانستان تر خپل کنترول لاندي راولي.

دپاکستان تبر ته خداي لاستۍ ورکړ ،موقع څکه غنیمت وه چي دپاکستان په دغه شوم پلان کي چي په افغانستان کي ددوي په اصطلاح دکمونستانوسره مبارزه او اسلام دشوروي له تعرض نه په ژغورلو کي اروپایي هیوادونه او امریکا هم خپله تیاري او علاقه وښودل . دامریکا لپاره داسلام او افغانستان مسله دومره مطرح نه وه څکه دوي پخپله عیسوي مذهبه دي ،دهیڅ منطقو له مخي عسویان داسلام دپیاوړتیا لپاره ځانونه مکلف نه بولي اونه هم ورسره علاقه لري ، داهم باید ووایم چي پاکستان ته هم داسلام او پر افغانانو باندي دسرولښکرو دتیري مسلي هیڅ ارزښت نه لاره او نه یي پر افغان ولس زړه خوږېدی . دغه افسانه چي روسانو غوښتل دپاکستان له خاوري دهند سمندرته ځان ورسوي دډیرو لپاره څکه دقبول وړنه ده چي شوروپانو هیڅ وخت دا نه غوښتل دامریکایي پوځ سره مخامخ په جګړه کي وجنګېږي . پاکستان له ډیر پخوا نه په سیمه کي دامریکا دستراتېژیکو اغېزو دمرکز په توګه پېژندل سوی و او شورویان پدې ښه پوهېدل چي په هیڅ قیمت هغوي دپاکستان پر خاوره تعرض نسي کولاي ،دوي البته لکه دافغانستان دتاریخ په اوږدو کي غوښتل چي په افغانستان کي بل هیواد لکه امریکا او یا دامریکا پلوی هیواد غوښن سیاسي ځاي ونه لري ؛ په ساده الفاظو افغانستان روسانو هغه پوله ګرځولې وه چي له هغي نه بل هیواد دپخواني شوروي په جمهوریتونو کي دنفوذ امکان نه دی پیدا کړی .په دغه وخت کي چي په نړۍ کي سوړ جنګ اوج ته ورسېد ،د زروي وسلو، دلیري او نږدې واټن دویشتلو د پرمختللوتوغندیو او عصري جنګي الوتکو دجوړېدو پر سر رقابت ودمره غښتلی سو چي دروناالد ریګن په وخت کي دستورودجنګ په نامه پلان طرحه سو،پر ګرینادادامریکا لخوا حمله وسول ،هره لهظه کیوبا ،نیکاراګوا ،جنوبي یمن ،ویتنام ،لاوس او کمپو چیا تر تحدید لاندي وه ،دبي پرې هیوادونو نړیوال سازمان او داسلامي کنفرانس هیوادونو سازمان ددواړو زبرځواکودځان په پلوې داستعمال په خاطر تر فشار لاندي راوستی ؛او له بلي خوا په افغانستان کي دسیاسي حاکموکړیو په منځ کي اختلاف ،او دحاکم ځواک عملي تیر وتني شورویان وه دې ته وهڅول چي په افغانستان کي دعملي شته والي په صورت کښې دنورو هیوادو دنفوذ مخه ونیسي ،او داسي څوک دواک پر ګدۍ کښېنوي چي بیله قید او شرطه نه دشوروپانو خبره ومني ،دهمدغي موخي دسرته رسېدو په خاطر چي شوروپانو په منطقه کښې دخپلو ګټو دساتلو یوازنۍ لار ګڼلې وه د1979زکال ددسمبر په اوه ویشتمه نیټه دټولو نړېوالو نورمونوخلاف یې دافغانستان پر حریم دپوځي تیري په پایله کي ببرک کارمل چي هغه وخت په شوروي کښې ودکابل پر تخت کښېناوه . پاکستان دشوروي ددغي تاریخي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیروتني څخه په استفادې سره غوښتل ددغه امکان څخه په ګټه پورته کولو سره خپل شوم پلانونه چې دافغانانو پر سرسياسي تجارت ، دهيوادورانه ونه او دافغان ولس دابد لپاره کمزورۍ کول و.

دپاکستان داستخباراتو يو جګپوړۍ چارواکۍ ډګروال يوسف چې د1980راپدې خوا دآی ایس آی معاون او او دافغانستان دڅانګي د رئيس په توګه دنده لرل په خپل (( فاجعه قرن ما)) نومې کتاب کې د افغانستان سره دپاکستان ددښمنۍ نه ډکو پلانونو څخه چې خپله يې هم په دغه تاريخي خيانت کې برخه درلوده داسې پرده پورته کوي او ليکي:

ما دافغانستان دڅانګې دمسؤل په توګه مجاهدينوته پوځي ښوونې تر سره کولې ،همدا شان مې هغوي په وسلو سمبالول ، دهغوي دعملياتو دځاي ټاکلو او دعملياتو لارښوونه مې پر غاړه لرل . هغه يو بل ځاي ليکي ،زموږ (پاکستان) موخه دا وه چې اهسته اهسته افغانستان اورته ور وغورځوو .. . . ،جالبه اوډپاملرنې وړټکۍ دي ؟ ولې پاکستان او دهغې جاسوسۍ شبکې غوښتل چې افغانستان دجګړې په اور کې وريت کړې ؟

امريکا او دهغه غربې ملګروپه ټوله نړۍ کښې د زيات شمير اسلامې او عربي هيوادو په ځانګړې توګه سعودې عربستان ،منځني اسيا هيوادو او پاکستان په مرسته دشوروي پر خلاف جګړه داسلام په خطر کې دې تر نامه لاندې چې په 1980زکال کې پيل سوه توده ساتل ؛ددوي اساسي موخه پر شوروي باندې سياسي،پوځي فشار او هغه د افغانستان په جګړه کې ښکيل ساتل و ،تر څو امريکا له شوروي نه دويتنام غچ (انتقام) و اخلي ، امريکا او غربي هيوادو ته داسلام ددفاع مسله مطرح نه وه او نه ددغو هيوادو دولتې چارواکو ته په قانون کې دا واک ورکړه سوۍ دۍ چې داسلام دغښتلتيا لپاره دي په ميليارډونو ډالره مصرف کړي ،افغانان بايد دغه اساسي ټکې ته تل پاملرنه وکړي.

داښاغلۍ وړاندې اقرار کوي او ليکي ما په 1983زکال کې ((لس زره ټنه وسلي او مهمات ))تر لاسه کړه ، دوسلو دا اندازه په 1987زکال کې ((65زره ټنو )) ته ورسېده ،ما دا وسله هغه چاته زياته ورکول کوم چې په افغانستان کې يې زياتي خرابې تر سره کولې . زه پدغه خبره باور نلرم چې دوي دټولو وسلو او مهماتو څخه چې دپه اصطلاح جهاد داور دلګونکو لخوا دوي ته ليږل کېدې په(( سلو کې شل)) دپاکستان دپوځ په نامه اخيستې .جالبه خو دا هم ده چې دوي دا حق پخپله ځانته بيل کړۍ و ،او ولي شل په سلو کې ؟؟؟.

ډګروال يوسف خان اعتراف کوي چې دوي يوازي د1983زکال څخه تر 1986زکال پوري دمجاهدينو (( 80زره)) کسانو ته پوځي ښوونه کړې ده . نوموړۍ وايي په افغانستان کې داور دلمبو دساتلو ورځنۍ مصرف نږ دې څلوېښت ميليونه ډالره و که داومنو دې ټکې ته رسېږو چې دافغانستان په سوځولو کې په دا دولس کاله کې تر 150))ميليارده ډالره زيات مصرف سوۍ دۍ .پداسې حال کې چې زموږ دا وړوکۍ هيواد په دغو پيسو څو ځله داروپا تر هر هيواد ښايسته جوړيد اي سو !!! . دا چې پاکستاني پوځيانو دخپلو تر بيه سو نوکرانو سره دعملياتو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکنترول لپاره دټولو بین المللي نورمو نو خلاف زموږ هیواد ته پر خپل سرسفرونه کول او یاېي جعلي فلمونه جوړول تر څو نړېوالو ته ددوي په خوښه بازي ورکړي ،هغه څه دي چي زیات افغانان ددغه شان غولونکو ننداړو شاهدان دي.

دا معاون صاحب وایي :کله چي شورویانو پریکړه وکړه چي خپل وسله وال پوځونه له افغانستان څخه وباسي امریکا ته دا ډار پیداسو چي اسلامي فنډمنتالیست ګلبدین حکمتیار دیوه بل خمیني په څیر صحني ته رانسي ،په همدې خاطر یي خپلي مرستي پر مجاهدینوو درولې ،او دیوې نوي طرحي او پلان دپلي کولو په فکر سول . ددغي لیکني څخه دا څرګندېږي چي امریکا له شوروې نه خپل غچ واخیست او هغوي یې دافغانستان څخه ددیارلس زرو وسله والو کسانودژوند دلاسه ورکولو نه وروسته وتلو ته مجبور کړه ؛ داوه دامریکا اساسي موخه او ارمان چي تر سره شو. اوهغه چي لس کاله یې هغوي ته دوسلې او پیسو نه نیولې هر څه برابرول او دهمیشنۍ دوستۍ او تل پاتو مرستو وعدې په ورکولو سره یې دشوروي په مقابل کي جنګول پر بټې بیابان پرېښودل او ټولو ته یي شا واړول ،او امریکا هم له شورویانو سره یو ځاي تنها روسانو په ناکامۍ او امریکایانو پهدې غرور چي شوروي یې پر ګونډو کړ له افغانستان څخه لاس پر سر شول ،په امریکا کي دا څو وم ځل و چي امریکا داسي تیر وتنه وکړه ،پر دغه تیر وتنه دروان 2005زکال داکتوبر په دولسمه دامریکا دبهرنیو چارو وزیري کاندولیزا رایس دښاغلي کرزي سره تر ملاقات وروسته خبر یالانو ته په ډاګه کړه او ویې ویل امریکا نه غواړي پخوانۍ تیر وتنه تکرار کړي او افغانستان پرېږدي.

ډګروال یوسف نور هم وړاندي ځي او وایي ،دسي آی اې افسرانو دپاکستان افسرانو ته پوځي ښووني ورکولي او هغوي بیا دافغاني تنظیمو کسان تربیه کول، هغه وایي یوازي په 1983زکال کي موږ په ځانګړو کمپونو کي دري زره نفرو ته پوځي تر بیه ورکړه.

که سرې پوره او ښه ځیر سي او اسناد عمیق وڅېړۍ داسي زیاتي بیلګي لیدل کیږي چي ددعربي او اسلامي نړۍ څخه لکه داروپایي هیوادو نه هغه څوک دغه جګړي ته هڅول کیده چي ټول عمر یي په لاوبالۍ کي تېرېده ، دهمدغوکسانو څخه بیا پدغو کمپونوکي دافغاني جګړي او نړۍ وال تروریزم لپاره تر بیه کیدل.

متاسفانه دپاکستان دا کرغېن ارمان داسي تر سره شو چي تر اوسه هم افغانان دپاکستان ودال او چپاتي ته اړدي .او تر اوسه لاهم تر دو میلیونو زیات افغاني کډوال دپنجاپي تورلینګیو تر شلاخو لاندي له یوه ځاي نه بل ځاي ته کډي کوي ،دسپکاوي او تحقیر په شرایطوکي دجلاوطنۍ شپې او ورځي تیروي ؛ په زرهاو افغانان ددي انسان دښمنو په زندانو کي بیله کوم جرم نه شپې سبا کوي ،خودافغانستان اوسني مشران هم دپخوانیو پر پله پل ایږدي او له هر څه نه یې ځان بې غمه نیولۍ دی ، که دغه دطالبانو ټک ټوک نه وي دسړي سره داسي فکر پیدا کیږي چي دافغاني جګپوړو چارواکو دپښتنو او بلو څو دسرنویشت دستونزي دهوارولومسله چي دا یوسل او دولس کاله یي افغان ولس پر سر زورېدلۍ دی ،کړېدلۍ دی اوځانونه یې شهیدان کړي به بیا هم ټول هیرسوه . زما خبر دا معني نلري چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی کرزی دي هم دعمومي سپر بری اعلان وکړي ، په دې هر څوک ښه پوهېږي چي مرکزي حکومت او دولسمشر امر که دمحلي چارواکي خوښه نه وي تر ارګ دباندي دمنلو وړ نه ګرځي دا خو پرېږده چي دبل سره پوځي ډغري ووهل سي،ولي دسولي او خبرودلاري ددغه ناسور دزخم دجوړېدو وخت ځکه دی ، همدا اوس هغوي چي دډيورنډ دکرښي زېږېدونکي اويا پالونکي دي دواړه په افغانستان کي عملا وجود لري او داروپايي هيوادو داستازو په ګډون ټوله نړی يي ويني چي غوا توره او شيدې سپيني دي.

تر دو لسيزو زيات پدې نامه چي دروسانو په مقابل کي جهاد دی زموږ دولس ((يوميليون او دري سوه زره )) انسانانو خپل خوږ ژوند دلاسه ورکړه او همدا اخس هم هره ورځ افغان او افغانستان ته راغلي بهرنيان دپاکستاني چارواکو ،آي ايس آي او اسلامي بنسټپالودترهګريو قرباني دي، هيواد پداسي کنډوالو بدل سو چي بيا جوړونه بي يې يوه پيړی وخت ته اړتيا لري.

زه اوس په تفصيل سره نسم کولاي په افغانستان کي دکورنۍ جګړي داور دلمبو دساتلو لپاره دپاکستان او بهرنيانو دټولو کړنو بيان وکړم ، خو له هغي ورځي نه چي دډيورنډ دکرښي سهيلي پلوته دکډوالو لپاره کمپونه جوړسول او دوسلو داستعمال اوپوځي ښونيزکار لپاره ځانګړ ي کمپونه وټاکل سوه له اروپا،امريکا،عربي نړی څخه ډول ډول مرستي پاکستان او ايران ته شروع سوې ،دهغه اختلاف په اساس چي دامريکا او ايران تر منځ موجود و دمالي مرستو او وسلو زياته برخه په پاکستان کي ميشت تنظيموته رسيدل اود پاکستان له لاري يې تر لاسه کول . دا بايد جوته سي بيله هغو عملياتو چي (( سي آي آې )) او نورو استخباراتي شبکو دځانګړو موخو دتر سره کولو لپاره سرته رسولې نور ټول کارونه او عمليات دپاکستان د،آي ايس آي او سي آي آې تر ګډي اومستقيمي لارښودني لاندي تر سره کېدل ،څو څو ځله پاکستاني او امريکاي جنرالانو او دولتي جګپوړو افغانستان ته دوسله والو کسانو سره بيله کومي ويزي سفرونه کړي دي ،پاکستان دافغان جنګياليو لپاره زموږ دهيوادپه مختلفو سيمو کي سمڅي او تونلونه کيندلي دي ،پدې کار کښې بيا تر هر چااسامه بن لادن زيات مهارت درلود . تر 1982زکال پوري اسامه بن لاد څوځلي پاکستان ته دسعودي داستخباراتو په هڅونه راغلی ،هغه په عربي نړی کي دافغاني تنظيمونو لپاره مالي مرستي راټولي کړي او په پاکستان کښي يې داستاد رباني ،ګلبدين حکمتيار، رسول سياف ، احمد شاه مسعودته رسولې دي . بن لادن پر وهابي طريقه ډير ټينګ سړی و ځکه يي تر هر چازياتي مرستي رسو سياف ته رسيدې . هغه پر مالي بسپنه سر بيره تر مځکي لاندي دتونلونو او نورو مرکزونو دجوړولو کار شروع کړ.

پوهاند ډاکتر کاکړ ليکي : ((ديو امريکا يي ژورنالست رابرت فکس په وينا چي هغه دبن لادن سره دمرکه کولو په منظور په يو داسي تونل کي انتظار ايسته چي شل فوټه لوړ ديوکلک غره په ډډه کي دسل ګونو مترو په اوږدوالي کندل سوی و.اسامه بن لادن دمولوحقاني لپاره خوست ته نژدې په ژوره کي ډير کلک مرچلونه او نظامي مرکزونه جوړ کړه دتوري بوري تونلونه هم دبن لادن په مالي مرسته او ابتکار جوړسول . نه يوازي اسامه بن لادن دتنظيمونو سره مرستي کولې ، په عربي نړې او سودان کښي بې خلک هڅول چي پاکستان ته ولاړ سي او دشوروي سره په جګړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي دتنظیمو ملا وتړي بلکه دغربي هیوادو نو ځیني حکومتونو هم پخپلو هیوادو کي هغه فاناتیک مسلمانان چي پر جهاد مین وه هم هڅول چي هلته ولاړ سي تر څو هلته مړه سي او دوي یې له شر، فساد او ورانکاریو نه خلاص سي . دسعودیانو په برخه کي ښکاره خبره داوه چي هغوي تل حاضر وه افراطي اسلامستان تمویل کړي څو هغوي له سلطنت نه چیرته لیري واوسیږي . په عمومي ډول عربي واکمنو خیال نه کاوه چي شورویان به په افغانستان کي ووهل سي اوله عربي ځوانانو نه به یو هم ژوندی راستون سي . )) پوهاند ډاکتر کاکړ طالبان او اسلامي بنسټ پالنه 274_275مخونه

جنرال ضیا غوښتل چي داسلامي نړی مشرتوب تر لاسه کړی او په منځنی اسیاکي دشوروي پر ضد اسلامي مخالفت په حرکت راولي .او واشنګتن بیا غوښتل چي ټوله مسلمانه نړی دشوروي پر خلاف دافغاني تنظیمو تر څنګ ودروي ،سعودیانو موقع ومنده چي وهابیت خپور کړي ،او له خپلو نا راضه افراطیونو څخه ځان خلاص کړي . مګر په عمل کي بل څه وشوه ،اسلامي افرطیان ډیر مړه نه سول او هغوي بیرته ژوندي ورسیدل ،دغو رضاکارو دشورویانو تر وتلو او په افغانستان کي دتنظیمي حکومت تروجوړولو وروسته ډیري غټي ستونزي را پیداکړي ، دهغو نه زیات شمیر یي پخپلو هیوادو کي ددولت پر خلاف فعالیتو کي فعاله برخه اخیستې او یو زیات شمیر یي دهغواړیکو په اساس چي بن لادن هلته ورسره نیولي وې تر اوسه دامریکا اروپا ضد فعالیتو کي بر خه اخلي . د1982زکال نه تر 1992زکال پوري درضاکارو شمیردپاکستاني ژورنالست احمد رشید په وینا پنځه دیرش زرو تنو ته رسېده ،چي دنړی د 43 ملکونو نه یي پدغه جګړه کي برخه اخیستې وه.

د پاکستان په مدرسو او ښوونځیو کي تعلیمي نصاب او دمضامینو په منځپانګه کي داسي اووښتون راغلی چي ټول ماشومان یي په اصطلاح جهاد ته هڅول ،درياضي په کتابو کي د دوه جمعه دوه پر ځاي دوه ټوپکه جمع دوه ټوپکه څوکېږي او یا درياضي نوري ساده معادلي ددوسلو دنومو په یادولو سره ماشومانو ته ورزده کېدلې ،په کتابو کي دداشان تغیر دراوستلو لپاره په سوېډن کي دیوه عربي اسلامالوګ (اسلام پوه ) په وینا تر درې سوه میلیونه ډالرو زیاتي پیسي ولګېدې،او ددغه کار لپاره له امریکانه څوتنه پوهان لېږل سوي وه . مګر کله چي په 2001 کال کي ددنړیوال تجارتي ماڼي دتروریستي حملي په پایله ړنګه سوه او امریکایانو تصمیم ونیو چي باید دتروریستانو او دهغو دحامیانو طالبانو دړژیم جرړي به باسي ،په پاکستان کي له سره په دغو کتابو کي دنوو اوښتنو او تغیراتو دراوستلو لپاره تر هغه پخوا مصرف سوو پیسي زیاتي لګېږي چي دا ځل په ښوونځیو کي ماشومان او تنکي ځوانان دافرطیت څخه د نورمال اومتمدن ژوند پیژندلو ته راوګرځوي . دامریکا ،پاکستان او په جنګ کي دټولو شریکو هیوادو دمیلیارډو ډالرو دمصرف په پایله کي او دسي آی اې دیوې ځانګړي پروژي دبري په ترڅ کي چي میخایل سرګیویچ ګرباچوف دشوري نظام وړنګولوته وهڅول سو ، دختیځي اروپا سوسیالیستي هیوادو ته دشوروي له نفوذ څخه دخلاصیدو لپاره لاره هواره سول ، په نړی کښي دختځي اروپا او یو شمیر نور هیوادونه یو په بل پسي دشوروي داغېزې څخه خلاص سول . پر دغو هیوادو باندي دشوروي پلوه رژیمونو دساتلو په موخي پخوا نی مرستي په ټپه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېدلي ؛ طبعي ده چي پدغه شرايطو کي ټوله نړۍ په يوه عجيب او غريب سياسي توفاني حالت کي قرارونيو، هيڅوک نه پوهېدل چي څه کيږي دافغانستان په شان رژيمونه چي دجګړي ددوام په موجب يي بهرنيو مرستو ته حياتي اړتيا لرل دبهران سره مخامخ سول . او له بلي خوا روسي رهبرانو په افغانستان کي هغه پروژه چي پترکبير او نورو روسي مشرانو درلود ،ګويا دلړکيو دحق څخه دفاع چي په واقعيت کښي يې تر همدغه نامه لاندي خپل پلويان او نوکران روزل راوړاندي کړه. دهغه ګوند په دننه کښي چي دوي ورسره په کلنو کلنو ددوستۍ اړيکي درلودې ټول روابط قطع او دامريکا په شان يي هغه ته شا واړول ،دمرحوم نجيب الله دحاکميت په موجوديت کي يې دبرهان الدين رباني اودهغه دپلويانو سره په مسکو کي ددپلوماتيکو نورمونوپه اساس رسمي ملاقات وکړ، او ددغه ملاقات ټول جريان په پراخه پيمانه ددوهيوادو دمشرانو دملاقات په بڼه خپورسو ،دشوروي ټولو جريدو او مجلو دافغاني تنظيم درهبرانوپر دغه سفر سياسي تبصري وکړې . زه هغه وخت ديوه رسمي سفر په موخه هلته وم ،مسکو ته ددوي په راتګ سره دټول سياسي حلقوپه منځ کي دا ګنګوسي چي ډېر ژربه ډاکټر نجيب الله له واکه ګوښه سي غښتلي سوې ،او له ورايه دا معلوميده چي نوردمرحوم نجيب الله دبخت ستورۍ لوېدلی دی . ځېرنکي پدې باور دي چي په دغه لومړي علني ملاقات کي روسي مشرانو لخوا رباني ته دنجيب درژيم دړنګېدو په خاطردهمکاريو وعده ورکړه سوه ، ددوي دهغه پلان سره چي دګوند په دننه کي به پر نجيب پر خلاف کودتاکوي ملاتړ څرګند کړ . داحمدشاه مسعود په رهبرۍ يي دګوندپه لوړو مقامونو کي دهغو په وسيله چي له ډېر پخوا يې داحمد شاه مسعودسره اړېکي لري حاکم ګوند له دننه ټوټه ټوټه کړ،چي پايله يي مرحوم نجيب الله زنداني کيدل او له وطنه د دغه ګوند د اکثريت غړو جبري فرار شو.په 1992زکال داپريل دمياشتي په اتمه ورځ دولتي حاکميت ړنګ او دپاکستاني جنرالانو سره چي جنرال حميد ګل يي په سر کي و دتنظيمو رهبرا کابل ته راننوتل . دنواز شريف او نورو جنرالانو هغه ارمان چي په خوب يې نه ليده تر سره شو ،دافغانستان ددولت ،او وسله والو قواو دړنګېدو امر نوازشريف لخوا صادر سو. نواز شريف دپاکستان هغه صدراعظم و چي په خپله انتخاباتي مبارزه کښي يې په ټوله سپين سترګۍ سره دافغانستان دقوي او غښتلي اردو له منځه وړل دخپلو افتخاراتو اودافغانستان په مقابل کي له برياو څخه بلل ،ولس ته يې ويل که تاسو دا ځل ماوټاکۍ افغانستان به په پنځمه صوبه بدل کړم.

دتنظيمو رهبرانو لا دپاکستاني او سعودي عربستان له استخباراتي جګپوړو سره دپاکستان دبري شيريني نه وه خوړلې چي په هډکو او له پخواني حاکميت څخه پاته شوې ملي دارايي يې داسي سره وټکول او توپو سره وويشتل چي دکابل ښکلۍ ښار يې چي تر دغه دمه ودان ساتل سوی و په کنډواله کړ ،دښارکوڅي او واټونه په هديرو بدل سوه ،په حقيقت کښي اوس دکابل دښار هره لويشت ديوه نامعلوم وطنپرست چي دحکومتي څوکيو پر سر دتنظيمي جګړه مارو دګوليوقرباني سوي قبردی . دولتي اداري چور ،ملي موزيم ،ملي ارشيف ،ملي ګالري ،شفاخاني درملتونونه ،بانکونه ،دولتي ترانسپورت ،وسلې ،ښوونځی ،پوهنتون او حتا مسجدونه چور سول او هر څه دپاکستان په بازارونو کي دخرڅلاو لپاره کښيښودل سوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته يو وخت يوه سپين ږري مشر سړي وويل چي له حزبيانو نه مي بدراتلل اودهغو پر خلاف جنګېدم ،کله چي مي دا مجاهد قوماندان صاحبان دواک دتر لاسه کولو وروسته وليدل چي پر څوکۍ،ملي شتمنۍ يي سره جنګ و، هر څه يې يوړه اودپاکستان په کباړي بازاروکي يې خرڅول ،په کلو او بازار کښي يې دترو سروپه بې عزتۍ لاس پوري کړ ، پر ځان مي لعنت ووايه او له ځانه سره مي وويل چي هغوي خو دوطن هډوکي دشوروي په بازارو کي نه خرڅول ،خير که شوروي پله وه.

دپاکستان دښمني له افغان ولس سره پر دغه ځاي پاي ته وه نه رسېدل ،ځکه په هيواد کي داسي لاس پوځۍ رژيم چي يوازي دپاکستان تر سياسي اغېزي لاندي وي جوړ نسو ،دمجددي صاحب تر دوه مياشتنۍ واکدارۍ وروسته دپاکستان دترون په اساس استاد رباني دڅلورو مياشتو لپاره واک پلاس کي واخيست ،کله چي دا څلور مياشتي پوره کېدي استاد رباني تر زياتو جګړو او افغان وژني وروسته پر دې بريالۍ سو چي د1992زکال په اخر داهل حل وعقدشوراداېره اوهمدا شوراربانې ته داتلسومياشتو لپاره دحکومت کولو وخت ورکړ، ګلبدين ددغي پرېکړي سره مخالفت وکړ ،له ډېر پخوا نه ګلندين پر پاکستان ګران وهغه هم ديوه سياسي ګټي او ملحوظ په خاطر چي پښتونو ځکه يي درباني او هغه په اختلاف کي پاکستان په پټه دګلبدين ملا تړکاوه ، روسان په دغه کار دخپلو جاسوسانو له لاري خبرېدل او ددې لپاره چي پر رباني نور هم احسان واچوي او هغه روسانو ته نور هم نږدې سي هغه او احمدشاه مسعود ته يې يو سلسله مسايل ويل ، بلاخره روسې په دولتي واک کښي دتنظيمو څخه په دې نامه چي دافغانستان قانوني حکومت دی او دوي په رسميت پېژندلې دي خپل علني ملاتړ وښوداوهغوي ته يي هر ډول مالي او مادي مرستي ورکړي ،روسي وکولاي سوه چي دتنظيمونو حاکميت تر خپل سياسي اغېزي لاندي راولي ،دجمعيت اسلامي دګوند او شمالي ټلوالي سره دپخوانيو دوستيو پر اساس دا ځل افغانستان دمجاهد په لباس کښي ددوي پلاس ورغلی.

امريکا داسلامي بنسټپالو لخوا ددولتي واک دتر لاسه کولو څخه ډارېده چي حالت بل ډول سو . پيسې او وسله دامريکا او روپا مصرف سوه مګر حکومت دروسې سره دښو اړيکو علاقمندي له هيچا څخه نه پټول ،او دروسي سره داړيکو دټينګولو په منظور نوي پروتوکولونه لاسليک سول ،رباني پخل لومړي سفر کي روسي ته ددوستۍ دټيګېدو وعده ورکړه په مقابل کي روسي داومنل چي دشوراي نظار حکومت به دبل هر مخالف قوت په مقابل کي حمايه کوي او هر اړخيزي مرستي به ورسره کوي . په واقعيت کي روسانو تر 2001زکال دطالبانو درژيم تر ړنګېدو پوري دوي ډېر ونازول ددوي لپاره يي دطالبانو په حاکميت کي هم وسلي برابرولي او هم يي پيسې چاپولي او درباني حکومت چي يوازي دبدخشان مرکز يي پلاس کي وپه رسميت پيژانده.

کله چي مؤقته او بيا راوروسته عبوري اداري جوړېدې دروسانو ،ايران او هند په مرسته ددوي برخه تر بل هر سياسي او تنظيمي ډلي تل غوښنه وه ،په اوسنۍ اداره کښي خوېي تاسو لوستونکي پخپله وينۍ فکر کوم تکرار ته يي اړينه نه برېښي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکا او پاکستان ددغه حقيقت په پوهېدو سره چي هر څه برباد ولاړل ،دهغي پروژي په عملي کولو پيل وکړ دکوم په خاطر چي يې تنظيمونو ته شا ور اړه ولې وه . له يوي خوا دداړمارو حکومت جوړسوی ود هيڅا ځان او مال په امن کښي نه و، پر هر څه ديوه عادي نادان لخوا چي ټوپک يي پلاس کي و تېري قانوني بڼه اختيار کړې وه ،دا حالت دکابل ښاريانو او دهيواد په نورو ښاروکي افغان ولس ته دزغم وړنه و ،زه يې ځکه زيات نه انځورم پدې پوهيږم چي تر اوس لاديوه کوچني ماشوم هم دا وحشيانه کړني نه دي هيري سوي او دکابل دښار دېوالونه دقدرت دتړودجګړې دقربانيانو او دکابل دشريفو اوسېدونکو له وينو څخه دا اوسنۍ ښاروالۍ نه دي پاک کړي.

هغه سياسي پانګه اچونه چي پاکستان دافغانستان دراتلونکي برخه ليک او دهغه په درشل کي دډيورنډ دکرښي دسرنويشت په هکله کړې وه دمجاهيدينو څخه دامريکاد لاس پر سر کيدوسره ټول په درياب کي لاهو سول . دپاکستاني چارواکو هغه خوب که افغانستان پاکستانۍ پنځمه صوبه نسي نو دډيورنډ دکرښي سرنويشت به هرو مرو ددوي په خوښه ټاکل کيږي په رښتيابدل نسو . که څه هم په اخر کي کله چي په افغانستان کي حاکميت دروسانو تر سياسي غښتلي اغېزي لاندي راغلۍ په واقعيت کې دپاکستان او امريکا لپاره غټ سياسي ګذارو ،خو پاکستاني چارواکي ډير مايوسه نشول ؛ دوي دداسي سياسي نابېره ناکاميو دتلافي کولو لپاره خپل بل سياسي پټ واريانت او امکان څخه چي هغه طالبي غورځنګ دی دګټې پورته کولوپروسه شروع کړه؛ دا پټه پروژه يې خپلو سياسي موخوته درسېدو په منظور علني کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريمه برخه

طالبان دپاکستان وروستۍ هیله ! یو فلسفي اصل دي چي هر اوښتون دذهني اوعيني شرايطو اماده کېدو ته ضرورت لري ؛ په افغانستان کي هم دپاکستانيانو له ((نيکه )) بخته هرڅه داسي برابر سول . درباني درژيم کړني (له پاټکو نيولې ،رشوت ،دملي اوشخصي شتمنيو چور چپاول، په زور هر څه خپلول،دخلکو پر ناموس تيرۍ،ژبني او قومي اختلاف داسي تازه کول چي داستانونه به يي دقرنونو لپاره به دټولو افغانانوپر ژبو وي اوداسي نور چي تر اوسه لا ده هيڅا هير ندي ځکه يې راوړل تکرار پريښي ) هغه لاملونه سول چي پاکستان او دهغه پلويانو دلاسته وتلي افغنستان ددوباره تر لاسه کولو په موخه په اصطلاح طالبي نهظت سياسي ډګر ته راوړاندي کړ.

طالبان څوک وه او له کومي خوا سوه؟ دطالبي حرکت دپيدايښت په اړوند دافغان ليکوالو يو شمير ليکل سوي معلوماتونه چي دهمدې ليکني لپاره مالوستي دي داسي څرګنديږي چي ګواکي ملا محمدعمر دکندهار له سنګيسار نه چي په يوه جومات کي ملا ودخپلي شخصي پريکړي له مخي،ديو بل خپل ملګري سره دکندهار د((زنګاوات)) څخه يي له چانه موتر سيکل واخيست او يو بل ځاي ولاړۍاو هلته يې څوتنو طالبانو ته وويل چي د خداي دين په خطر کي دي فجارو او فساقو ټوله سيمه ونيول،چورچپاول شروع دی ، پر ډمبر سړک دمسلمانانو ناموس کښته کيږي او. . . .،ملاصاحب بيا بل جومات ته ځي او بلاخره تر پنځوسو زيات کسان پيدا کوي او په سبا يي دوه موټره ،داچي له کومي خوا سول او تر کومي درختي لاندي په خاوروکي پټ وه څوک ندي خبر ؟ او دطالبانوحرکت شروع کيږي . ځيني بيا وايې ملاعمر په يوه کوچني جومات کي ملا و دمجاهدينو دغه ظلمونه چي دعام ولس سره يي کول دته دزغم وړنه وه ځکه يې دنور طالبانو سره په کندهار کي خبري وکړې او هغه يي ددغو مجاهدينو پر خلاف را وهڅول ،همدا شان نور افسانوي دليلونه . ولي دطالبانودحرکت ددغه شان دپيدايښت تاريخ له وقيعتونو څخه ليري برېښي دبشر په تاريخ کښي پدغه ډول داسي يو سياسي اجتماعي حرکت منځته نه دی راغلی . څنګه کيداي سي يو عادي ملا چي دشوريانو په وخت کي کله په يوه او کله بيا په بل تنظيم کي عادي قوماندان وپه 1994زکال کي دي يو دم دومره غښتلی سي چي دبرق پشان يي دافغانستان دخاوري ))98((په سلو کي تر خپلي ولکي لاندي راوستل ؟ ډير ساده که فکر وکړو په کندهار کي تر ده نور ډير لوړ عالمان ،پوهان او داسي کسان وه چي پر وطن او ولس يې زړه خوږېده ، داچي له بهر سره يي اړيکي نه لري او داتوان يي په ځان کي نه ليده چي ددغه مجاهدينو په مقابل کي چي دپخواني شوروي اود افغانستان دحکومت ټوله امبار سوي وسله ورته پاته وه ،او له بهر نه هم حمايه کيدل وجنګيږي ؛دغو خواخوږو يوازي ددغه حالت ننداره کول او په انفراد توګه يي خلک له چور ،چپاول او بي ناموسيونه ليري ساتل . رښتيا داده چي پاکستان او دهغه ملګرو هيوادو دداشان حالاتو دتلافي لپاره چي پيسي دوي مصر ف کړي او واک پکښي روسي پلوه ځواکو ته ورسيد له ډير پخوا نه اماده ګي لرل . زيات داسي اسناد سته چي د1981 کال نه شروع دپاکستان استخباراتو او سي آي ايي دپاکستاني ديوبندي ملايانو په وسيله نه يوازي د فناتيکان په روزلو دشورويانو پر ضد په پاکستاني مدرسو کي پيل وکړ ، بلکه دهند په مقابل کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دکشمير دکشالي پر سر ورسره پاکستان لانجه لري هم ځوانان روزل کيده . دلومړي ځل لپاره دپخواني شوروي دمطبوعاتو په يوه مشهوره جريده کي چي(( دليتراتورنايا گزيتا)) په نامه يادېده دشوروي دمشهور ليکوال او ژورنالست (( الکساندرپرخانوف )) لخوا پدغه کال يوه لويه مقاله خپره سوه هغه ليکلي وه چي اوس دشوروي ضد هيوادونه او پاکستان غواړي تنکي ماشومان دجگړي راتلونکي سپاهيانو په توگه په مذهبي مدرسو کي وروزي ،هغه پخپله دغه او نورو ليکنو کي په افغانستان کي دشورويانو دپوځي شتون او مداخلوسره مخالفت څرگند کړی واو دايي ليکلي وه چي دا جگړه به دشوروي لپاره يوه اوږده جگړه ،د ډيروانساني تلفاتو سره ،مالي او مادي لگښتونو ته به ضرورت ولري.

هغه وخت پاکستاني چار واکو دا پلان لاره ،ځکه دوي دا جگړه دومره لنډه نه بلل او له بلي خوا دوي غوښتل چي دافغانستان راتلونکې دمذهبي بنسټپالو په مرسته سمبال کړي . دنواز شريف په وخت کي دپاکستان استخباراتو او اوردو په خپلواکه توگه په افغانستان کي د((ستراتيژيکي جورتيا)) په نامه اجندا پر مخ بيوله چي دهغي په اساس هغوي غوښته دا چي پاکستان د هنداو ايراني شعيه دولت په منځ کي پروت دی دافغانستان له لاري به دهغوي ديرغل مخه نيسي ځکه يي غوښته چي دطالبانو کوټلې ملاتړ وکړي له وسلي تر ډوډۍ پوري يې هر څه پر خپل وخت ورته رسول . پاکستان غوښتل افغانستان ديو شاته پاته اوله تمدن څخه دلير پراته هيواد په توگه تل دوي ته احتياج وي ،او که پوځي فناتيک قوت ته ضرورت سو دوي به لا پخوا لا په افغانستان کي داسي روزلسوی پوځ په خپل واک کښي ولري . ملاصاحب دارزگان ولايت ددهراود دولسوالۍ په يوه کوچني کلي کي داټکل له مخي 1959زکال په يوه غريبه کورنۍ کي پيداسوی او هلته لوي سوی دي ،بيا دسنگيسار په سيمه کي ملا ود1367 څخه تر 1371 دنيک محمد قوماندان په رهبری ددولت پر خلاف جنگېدی . هغه کوم مشهور قوماندان هم نه و او نه يې قومي زور لاره يو عادي سړی و، داسي معلوميږي چي پاکستاني استخباراتي چار واکو هغه ډير پخوالا په نښه کړی و، دا چي پاکستان ولي نوموړی په نښه کړی واو په هغه کي يې کوم ډول امکانات ليدلي وه تر اوسه څېړونکي مکمل معومات نه لري . کله چي دپاکستاني چارواکود((دستراتيژيکي جورتيا)) دمخکي طرحه سوي پلان دپلي کېدو وخت راورسېد په داشان افسانوي شکل هغه ډير ژر موټرسيکل او په سبا يې دوه موټر پيداکړه ، دسړي هغه دسقاو دزوي کيسه دسړي ور په يادېږي ، دسقاو زوي چي له افغانستان څخه تښتېدلی و او هلته يې گويا ديو عادي سړي په توگه ژوند کاوه څه موده وروسته له کوم سموار نه حرکت کوي پر لاري يو جومات کي کوم ملا ورته وايي چي افغانستان ته دتگ پر لار دي يوه درخته مخ ته راځي دهغي بيخ وپلټه څه به پيدا کړي هغه دا کار وکړ او ددرختي وبيخ ته پيسي اوټوپکونه پيدا کره ...قيصه يې اوږده ده خو انگليسانو دهغه په وسيله دهيواد اصيل بچی غازي امان الله خان له وطنه فرار ته مجبورکړ او پر هغه يې هم دخادم دين رسول الله نوم کښېښود.

لنډه داچي طالبان دپاکستان ،سعودي عرب او مريکا هغه پروژه وه چي دوي دهغوپه وسيله په زيات سياسي مهارت او داستخباراتو دمنظمو مشورو او لارښونوپر اساس لومړی په دي نامه چي طالبان به دگلبدين خلاف داستاد رباني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تورن اسماعیل په حمایه کي قرار ولري دهغوي څخه پیسي او وسله تر لاسه کړه ،د نصیر الله بابر په ویناد پاکستان استخباراتو خپلو ټولو هغو قوماندانانو ته چي دوي غوښتل طالبانو ته تسلیم سي امر وکړ چي بیله چون وچرا دطالبانوسره یو ځاي اودهغوي ملګرتیا وکړي .کله چي طالبان کابل ته دګلبدین حکمتیارسره د جګړي په نامه رانږدي سوه نو احمدشاه مسعود او استاد رباني ته یي هم التوماتم ولېږه چي ژر تر ژره کابل تسلیم کړي او دکابل دښار دروازي ددوي په مقابل کي پرانستي پرېږدي . طالبانو په 1994زکال دکندهار دسنګیسار دسیمي نه ددولتي واک دتر لاسه کولو په خاطر حرکت پیل کړ په 1995زکال د دمې دمیاشتي په 28ورځ یې دکندهار ټول ښار پخپله قبزه کي راوست ، دکندهار ځینو مشرانواو عالمانو ته یي په یوه غونډه کي ملا عمر خپله لومړۍ وینا چي دتګلاري بنه یې لرل او دایې توضح کړل چي دوي ولي را پیدا سول . د1996زکال دسپتمبر په میاشت دوي کابل ته ننوتل . کابل ته په ننوتو سره تر هرڅه دمخه پاکستان چي له مرحوم نجیب الله سره یي پخوانۍ دښمني لرل په دغه ګیرودار کي چي هیڅ نه معلومیده دټولو اخلاقي او اسلامي نورمونو او انساني کرامت خلاف پر هغه ځاي وځړاوه کوم چي دپاکستان پر خلاف یي دشورویاو تر وتلووروسته دپه افغانستان کي دپاکستان پر خلاف تاریخي وینا کړې وه ؛ پاکستان دطالبانو حرکت هغه وخت شروع کړ کوم چي دملګرو ملتو دسازمان ځانګړ ي استازي محمود مستري دافغانستان په هکله خپله دنده پر مخ بیوله او داستاد رباني نه یي دقدرت دلېږدوني نوي میکانیزم په عمل کي دپلي کولو هڅي کولې ،فکر کوم دغه دقدرت په لېږدونه کي به پاکستان خپل موقف غوښن نه لیده ځکه یې په ډیره عجله طالبي حرکت رادمخه کړ.

کېداي سي پوښتنه وسي،داڅنګه یوخپل سرې له مسجدنه راولاړ سوې حرکت و؟ او ډیر ژر پاکستان په رسمیت وپېژاند ؟ سعودي او امریکا ددوي په وجود کي داولیدل چي دیونیکال دنفتي شرکت به دسعودي دنفتي کمپنۍ(( دلتا )) په مرسته دمرکزي اسیا نفت او ګاز دافغانستان له لاري تر پاکستان پوري ورسوي اوهم به په مرکزي اسیا کي ددوي په مرسته خپلي اړېکي ژوري کړي ،دا هغه امید وي چي امریکا یي دغه ته هڅولې وه تر څو په افغانستان کي دطالبانو سره د دولتي واک په تر لاسه کولو کي مرسته وکړ ي . داچي طالبانو پخوا دولت نه وکړی او دلیک لوست خاوند کسان یي نه درلودل ،هر ملا صاحب والي ،وزیر او بل دولتي جګپوړی چارواکي سو او هر چا پر خپل سر ډنګول . ملا عبدالصمد خاکسار دطالبانو دوخت دکورنیو چارو وزارت امنیتي مرستیال دګربت مجلي خبریال سره په مرکه کي ډیر شیان وایي یوله هغو داچي دطالبانو هر چارواکی خپلواک و،ددولتي منظمي اداري په بڼه کومه اداره نه وه، پسله هغو چي دوي کابل ونیو دطالبانو حرکت پر دو برخو وویشل سو ؛ دا سي معلومېږي هغه یو شمیر کسان چي پوه سول خبره څه ده او دوي څه کوي ممکن لږ سوچ یي کړی وي داورته دمنلو وړنه وي ګرځیدلې چي هر څه دي ملاصاحب دکرنیل امام په مشوره تر سره کوي اویادي دنوروبهرنیو استخباراتو فرمانونه پلي کوي ،ځکه ملا خاکسار وایي هغه لومړي شعارونه چي مسلمانانو او اسلام ته خدمت و، ورک سوه او ځاي یې ددولتي واک تر لاسه کولو ونیو . ګوربت پنځمه او شپږمه ګڼه میرمن بوټو دبي بي سي دخبر نګار سره په مرکه هغه وخت ویلي وه چي : دطالبانو ګروپ دامریکا ،انګلستان او سعودي عربستان په مرسته څوکاله پخوا جوړ سوی و،ددوي رهبري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاکستان بنسټپالو مذهبي سازمانو لکه جمعیت علما او نور پر غاړه لرل دطالبانو لپاره وسلي دامریکا او انګلستان لخوا راتلي او پیسي دسعودي عرب وي . دامید اونېزه دامریکا چاپ 235ګڼه.

که په لنده توګه دطالبانو واک ته درسیدو ټول جریان انسان دقیق تر نظر تیر کړي چي دوي له شروع کوم شعار پورته کړ ،څنګه یي وکولاي سول دتورن اسمعیل ،رباني ، دوستم اوبیا نورو تنظیمو دمشرانو سره خبري وکړي ، یو او بل وغولوي او هغه ځواک چي دروسیې،ایران ،ازبکستان ،تاجکستان ،هند او حتا ترکیې له سخاوتمندانه مرستو نه یي ګټه اخیسته له واک نه ګوښه کړي ،په ټول پاکستان ،کندهار او بیا په جنوبي ولایاتو کي دا تبلیغ وچي دوي داسلام او اسلامیت سپاهیان دي او یوازي عدالت غواړي ،حکومت کول ددوي کار نه دی ،غواړي چي محمد ظاهر شاه بیرته کابل ته راولي او واک وروسپاري ، اوداسي نور هوښیارانه ځیرکانه حرکتونه . دا ټول دافغانستان دجوماتونو دملایانو تر سویه لوړي خبري وې ، په ډاډ ویلاي سو چي نوم دافغاني طالبانو او ملاعمر اخند و ، خو هر څه پاکستاني استخباراتي او پوځي جنرالانو سرته رسول . دطالبانودحاکمیت په ټول دوران کي دطالبانو په پوځي لیکو کښي تر افغانانو پاکستانیان زیات و،داچي څومره عرب او دنوروهیوادو چي شمیر یي څلویښتو ته رسېده غولېدلي او فناتیک کسان وه شمیر یې تر لسهاو زره زیاتیږي .په همدې اساس هیچاته دا دمنلو وړ نه ده چي طالبانو بهرنۍ سیاسي ،پوځي ښوونکي نه لرل او په افغانستان کي راپیدا سول.

پاکستان دواک پر ګډۍ دطالبانوپه کښېنولوکي دوي موخي وي ، لومړۍ موخه یي په افغانستان کي دداسي بیسواد حکومت جوړه ول و چي د حکومت غړي یې دوي په مدرسو کي روزلي وه هغوي ته دبل هیچا لاس نه دی ورسېدلۍ او نه یې ددوي سره داړیکو دنیولو امکان پیدا کړی دی ، دهمدغو مذهبي اړیکو پر اساس به تل دپاکستان خبرو او فرمانو ته غوږ نیسي ؛ان دځینو سیاسي تحلیل ګرو په نظر هغه پخوانۍ دشپږمي صوبي خیالات هم دځینو جنرالانو په مغزو کي راژوندي سوي وه ؛ پاکستان پلان لاره پسله هغه چي طالبان په ټول هیواد کي قدرت ترلاسه کړي په سړه سینه به دتل لپاره دډیوندډ دکرښي مسله حل کړی . دوهم امریکا غوښتل چي په سیمه کي دروسې او ایران داغیزو مخه ونیسي تر څو وکولاي سي دافغانستان له لاري دمنطقي نفت او ګاز لویو ذخیرو ته لار پیداکړي ،دطالبانو څخه دتعهد په اخیستلو سره چي دترکمنستان څخه دافغانستان له لاري ګاز پاکستان او له هغه ځایه چیري چي یي غوښتل دګاز لولي تیري کړي دطالبانو سره یې مرستي ډیري کړې ؛کله چي طالبانو کابل ونیو سمدستي امریکایي نفتي شرکت اعلان وکړ چي دا دسولي او دترکمنستان دګاز دپروژې دپلي کولوپه لوریو مثبت حرکت دی.

همدا شان امریکاغوښتل هغه ستینګر توغندۍ چي امریکا دشوروي سره دجګړې په ورستیو کي مجاهدینو ته ورکړې وه چي تقریبأ شمیر یي)) 150 ((ته رسېده او ټول نه وه استعمال سوي دطالبانو په وسیله بیرته راټول کړي ،تر څو دروسي او ایران لخوا تر لاسه نسي . که څه هم روسي ته څوداني ورسېدلي خو ایران پر دغه بریالۍ نسوه چي ستینګر توغندۍ تر لاسه کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان دخپلوملایانو په وسیله پروپاګند شروع کړ چي دطالبانو خداي ملګرۍ دی ،وګورۍ په څومره چټکۍ په ټولو سیمو کي واک تر لاسه کوي ، او قوماندان ورته تسلیمېږي . مګر ددې اصلي علت چي دوي څومره ژر ټول هیواد تر خپلي سلطي لاندي راوست دپاکستان دکورنیو چارو پخوانې وزیر او په پاکستان کي دتنظیمونو مؤسیس نصیرالله بابر پسلاه څوکالو دپژواک دخبري اژانس سره په خپله مرکه کښي بیا له دغه راز څخه پرده داسي پورته کوي : (( ... طالبان په افغانستان کي ځکه په تېزۍ سره پر مخ وړاندي لاړل چي هلته خلک دجهادیانو له ظلمونو او کورنیو جنګونو څخه پوزي ته راغلي وه او طالبانو په افغانستان کي امنیت راوستی و ، او موږ هم جهادي قوماندانانو ته وویل چي طالبانو ته تسلیم سي . داچي هغوي دسایست او حکومت په چلولو نه پوهیدل ... موږ ورته ډېر وویل چي په افغانستان کي ازبک، تجک ،هزاره باید له ځانه سره په حکومت کي شریک کړۍ او دوي ته پوره ونډه ورکړۍ ولي دوي زموږ دا خبره ونه منل او کله چي پر سخته راغلل چا یي ملګرتیا ونکړه )) . واقیعت دادۍ چي طالبانو ځني مشرانو ته په پاکستاني مدرسو او ددیپلوماسۍ په کورسونو کي ښوني کیدې ،هغو هلته دوسلي له استعمال نه نیولي دبهرنیانو سره دخبرو او اړیکو ټول رمزونه ولوستل . څوک دامني چي دمسجد طالب دي حکومت وکړي ،جګړه دي پر مخ بوزي ،ټول سیاسي چلونه دي په کار واچوي ،له بهرنیودیپلوماتانو سره دي روابط ساتي ،دیپلوماتیکي مسایل او په دیپلوماتیکي دفترو کي دي کار وکړي ،دولتي وزارتخاني دي پر مخ بوزي، دا دافغان ولس قسم خوړلۍ دښمن بابر وایي : موږ یو وازي دومره کړې چي کله طالبان راپیدا سول ...نو دحزب اسلامي یا نورو کوم پښتانه قوماندانان چي به ددوي مخنیوي یا مقاومت ته راپاڅیدل نو موږ به ورته دجنګ نه کولو او طالبانو ته دتسلیمېدو وړاندیز کاوه ،ځکه چي موږ نه غوښتل چي په افغانستان کي یوه بله کورنۍ جګړه پیل سي . داهم ښکرور درواغ ،لومړۍ ده پخپلو خبرو کي پخپله ثابته کړه چي طالبان ددوي پر اوږو او مرسته دنورو هغو قوماندانانو په قانع کولو سره چي دپاکستاني استخباراتو سره همیشنۍ پیونددرلود دطالبانوسره دواک دتر لسه کولو په هکله مرسته وکړه . دوهم ، پاکستاني چارواکو یوه بله کورنۍ جګړه نه غوښت ، بلې ځکه یي نه غوښته کله چي واک په تش آمر کولوسره بل ته انتقال کیداي سي نو جګړي ته ربښتیا هم ضرورت نسته ؛ مګرهغه نورو(شمالي ټلواله او ورسره نوري ډلي) چي له دوي نه یي پرته نور باداران پیدا کړې وه تر اخیره ورسره جنګیدل ، ځکه هغو ي ته بیا بل چا ویل ، جګړه دواک دتر لاسه کیدویوازنۍ لار ده ،اوپه همدې منظور یې دوي ته په میلیونو ډالره ،او افغانۍ له بهر نه مرسته رسېدلې . غواړم ښاغلي بابر او پرویزمشرف ته یو خبره وکړم هغه داچي په افغانستان کي ستاسو دهمیشنیو نوکرانو نه نیولي ، لوي او واړه ،لوستونکي او نالوستي حتي لیوني هم دا در سره نه مني چي دا اته پنځوس کالو تاسو په افغانستان کي کورنۍ جګړه نه ده غوښتې او همدا اوس دجګړې اور نه تازه کوۍ . ستاسو هیر سوه هغه مواقتنامه چي دژنیودتوافقاتوپه نامه یي شهرت پیداکړ اوتاسو دمرحوم نجیب الله دحکومت سره د1988زکال داپریل په 14نیټه دامریکا، روسي او ملګروملتو دسازمان دځانګړي استازي په مخ کي لاس لیک کړه څومره مو عملي کړه ؟ زه به ووایم یو فیصدمو هم پلې نکړ، او دپخوا په څیر مداخلو اولوټمارو رالېږل دوام درلود . تاسو اوس قضاوت وکړۍ همداجنرال بابر مجاهدین تر غاښو په وسلو سمبالول او افغانستان ته یې دخرابیو لپاره رالیږل چي هلته انسانان مړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي،پلونه والوزوي ،تعميرونه په خرابو بدل کړي ،ښوونځۍ له منځه يوسي ،ماشومان بې پلاره ، ميندې بې مړوښو او اولادو کړي ، دافغانستان پر ښارو باندې دا ړاندو راکټونو اورول دده او دده پشان ښاغلو په امر او قومانده سرته رسېدل ، هغه وخت چې دوي يې غواړي انسانان له منځه ولاړ سي بيا ظلم نه دی ، هر مقدس نوم چې زړه يې وغواړي پر ايږدي . همدا ددوي لخوا روزل سوي او په افغانستان کې دحاکميت پر ګډې کښېنول سوي وه چې ددوي په مخ کښې يې دکابل ښار چور او ددولتي ځوکيو دتر لاسه کولو په خاطر يې دکابل ښکلې ښار په کنډوالو بدل کړ ، په زرهاو لوي او واړه ،ښځې او نارينه له منځه ولاړل دخلکو په سرو دميخونوټکوهل او په کانتينروکي اچول ، يادعام سړک پر سر خلک ويشتل کېده و پر هغوي نښه ويشتل زده کېده،دهيواد په ټولولويو او ورو ښاروکي پاټکونه جوړ سول ،دکورونو نه دخلکو ناموسونه پر خپل سر له کوره ايستل دااو نوري نارواوي هيڅ وخت دافغان ولس نه هير ېږي . هغه وخت پاکستاني چارواکي ، دامريکا متحده ايالات ،اروپا او اسلامي هيوادونه ارام ورته ناست وه اوددوي دوحشيانه کړنو ننداره يې کوله . حقيقت خو دا وچي دپاکستان جنرالانو زړونه دهيواد او کابل دښار په خرابيو نه و سوړ سوی ، غوښتل يې د کابل دښار دسوځېدولمبې په خپلو سترګو وګوري ؛ دافغان ماشوم او کړېدلي مور چيغې چې دباروتو داور په لمواو دود کې خپل خوږ ژونددلاسه ورکوي په خپلو غوږو واوري ، پر هغه خوند واخلي . دپاکستان په لاس جوړ سوو طالب ډلې ته افغان ولس دپخوانيو په اصطلاح مجاهدينو د ظلمو ،ناروا اوزورونو له يوي خوا ،دهيوادپر ژبو ،قوم ،مذهب اوسيمو ويشلو ډار چې عملا دافغانستان دټوټه کېدو لپاره په چټکۍ کارروان دغه حالت حتي روڼ اندي مجبور کړه چې دطالبانو په مقابل کې موقتا مقاومت ونه کړي او چوپه خوله پاته سي،تر څو هيواد دټوټه کيدو څخه نجات ومومي ، بله چاره هم نه وه افغانستان دشمال او جنوب دطوتيو دقربانۍ کيده په حال کې قرار درلود.

طالبانويو ډول سوله چې پايلي يې تر جګړي خطرناکي وي ټينګه کړه خو وطن يې دسمدستي ټوټه کيدوڅخه وساته ، امااددغه په قيمت کې افغان ولس ډير څه دلاسه ورکړه.

افغان ولس ديو تباه سوي اقتصاد،له منځه تللي پوهي ،ويجاړ زراعتي سيستم ،او ړنګ شوي فرهنګ پر وچه غونډې ولاړ پاته و، ديوهوښيار او مدبر قوت لار يې څارل ،چې څښتن تعلا به کله پر دوي رحم وکړي . مکار پاکستان داحالت تر هر چاښه درک او دطالبانو دغورځنګ په نامه يې چې يوازي دوي دظالمانو ، لوټماريواو بې ناموسيو دله منځه وړلو،هيواد دابادۍ او ولس دسوکالۍ جوګه دی راوړاندي کړه ؛په لومړي سر کې دهغو مجبوريتونو له مخې چې ما پورته ورته اشاره وکړه دوي دافغان ولس دهر کلي سره مخامخ سوه.

هغوي د1995زکال تر مني کابل ته ځان راورساوه ،استاد رباني او احمدشاه مسعود دپنجشير په لور وتښتيدل، دکابل په ښار کې دطالبانو لخوا اسلامي امارت اعلان سو . پلازمېنه کابل و مګر امرونه دکندهار څخه ورکول کېده دا ځکه چې ملا عمر دقدرت تر وروستۍ ورځې ارګ ته رانه غلۍ . کابل ته په رسيدو سره طالبانو ډير ژر هغه څه شروع کړه چې چا فکر نه کاوه ،دنجونو دمکتبو دروازې وتړل سوي ،راډيواو تلويزيون کې پر موسيقي ړغولو،دښځو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر کارو او هغوي بيله محرمه دکورنه وتلو باند بنديزاعلان شو ، دمنځنيو پېړيو په دوددلاسو او پښو پرې کول ، وژل ،اعدامول ټولو انسان ضد عملونو داسلامي شرعيت تر نامه لاندي ددوي لپاره قانوني بڼه اختيار کړې وه ، دکابل په سپورتي لوبغاړې دسپورتي لوبو پر ځاي دانسانانو دوژلو او سنگسارولو په ميدان بدل سو ،ښاغلي متوکل يوه بهرني خبرنگارته ددغي پوښتني په ځواب کي چي تاسو ولي په سپورتي لوبغاړي کي ښځي او نارينه وژنۍ په زيات غرور وويل تاسو موږ ته يوبل ځاي جوړ کړۍ بيا به موږ دلته خلک نه وژنو ... ، امر بالمعروف و... هغه اداره وه چي افغانانو يي له نامه سره حساسيت پيداکړ ،دځوانانو سرونه وچ خرېيل کېده ،اود ږيرو اندازه کولوته خط کشونه جوړ سوه ،لنډاچي يو وحشت پر ملک مسلط و.پاکستان دوي د داسي کارونو تر سره کولو او فتواګانو صادرولوته وهڅول کوم چي پايلي يې په ټوله نړۍ کي دبهرنيانو په ذهنيت کي له افغانانو او په ځانګړې توګه دپښتنوڅخه نفرت و، له هغوي سره داسي عقيده پيدا سول چي افغانان دنړۍ وحشي قوم دی ،دا هغه تاريخي جفا او خيانت دی چي دبې گناه پښتنو او افغان ولس سره په تاريخ کي چانه و کړۍ . په دغه هم پاکستانيانو اکتفا و نکړه دهغو پر شا يي لاس ورتير کړ او هغوي يي دهيوادد تاريخي او فرهنګي شتمنيو له منځه وړلو ته وهڅول لومړۍ يې په موزيمو او ګالريو کي هر څه له منځه يووړه او په 2001زکال کښي يې دباميانو مشهور بتان چي دافغان ولس فرهنگي ميراث و دافغانانو په ګډون دټولي نړۍ دولسونو او نړيوالو سازمانو دارادې او غوښتنو او وړانديزونو خلاف دهغو په لاس والوزول ،دا بله تاريخي دښمني وه چي پاکستاني چارواکو دپښتنو اوافغانولس سره دهغوي دبدنامه ولوپه خاطر تر سره کړه ؛ کله چي امريکايانو طالبان دواک نه راوپرزول بيانو ددوي مشر استاد او هميشنۍ ملاتړۍ مولانا فضل الرحمن وايي ((طالبان پخپله بې عقل او ناپوه کسان وه، موږ دوي ته دهيڅ کوم داسي کار مشوره نه ده ورکړې ، مولانا وايي موږ جمهوري ائېن لرو)) . دغه يوازنۍ خبره مولانا رښتيا کوي ، بلې په پاکستان کي ښځه حق لري چي دصدارت مقام ته ورسيږي ،په فابريکو ،او نورو مؤسسو کي کاروکړې ، په ښوونځۍ کي تعليم او پوهنتون کي تحصيل وکړي ،حتا دمولانا فضل الرحمن دلور په شمول زياتي پاکستانۍ ښکلي پيغلي په بهر ملکونو کي تحصيل کوي ،په تياتر ،سينما او نورو فرهنگي کارو کي فعال ګډون لري ،په روغتونو او کلينيکونو کي ډاکتري او نرساني سي بيله جنسي توپير نه دمريضانو سره مرسته کوي او هغو ي ته دارو درمل ورکوي ، ديو اړخ نه يې پر بل اړخ رااړوي ،دا ټولو ته دپاکستانۍ ښځو لپاره اجازه شته ؛ مگر افغاني ميرمني او پيغلي ته دهيڅ کار اجازه نشته بايد په کور کي ناسته وي، بدبختي داده زموږ بيچاره خلک يي مني چي پاکستاني ملايان ډير ښه خلک دي او هر څه رشتيا وايي ؛ زموږ اوسني ځني چارواکي خو ځکه ددغو پاکستاني ملايانو سره دتصديق سر ښوروي چي هر څه ددوي په خوشحالۍ کيويني او دوي هم نه غواړي چي دا ولس رابيدار او پوه سي . يو عربي مشهور ليکوال دښځو سره دطالبامو دغلط چلند په خلاف په 2001زکال داګست په مياشت کښي دالحيات په جريده کي ليکي ((گرچه موقف طالبان در قبال زن پديده جديدي در فقه نيست،ليکن انچه ابها بنام اسلام بر زن افغان روا ميدارند،درحقيقت ((تطبيق حرفي ))موا فق قيهان متحجر کهن است،که همواره در برابر مشارکت زن در امور حيات اجتماعي جامعه ايستاده اند. به قول محقيق از اصحاب رسول اکرم ((ص)) بيش از بيست مقوله درمورد عورت ونقش زن موجود

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



است اما چنین معلوم میشود که طالبان افغان فقط بر یک مقوله از عبدالله بن مسعود اتکا کرده،که گفته بود ((زن همه اش عورت است)) . ایا طالبان دیوبندي مي دانند ابن عباس و ابي یوسف قدمي گفته بودند که ((بازوان وموي افشان زن عورت نیست))... به قول نویسنده تعداد از امامان اجازه داده اند که زنان میتوانندوظایف مهمي در مقام وزارت وقضاوت در حیات اجتماعي جامعه بدست آورند . نویسنده به نقل از کتاب به قلم الحافظ المقدسي ارقام را ارائه میمکند، عایشه بنت ابو بکر براي 399شاگرد تدریس میکرد که در بین ان 67زن و232مرد بودند،حفصه بن عمربه 20شاگرد درس مي دادکه در بین انها سه تن مرد بودند...)) جریده آمید شماره 487.

ولي پاکستاني بنسټپال مولاناصاحبان بیا زموږ په وطن کي ټول هڅوي چي محمدي شریعت په افراطي بڼه پلی کړی او بس . ډیر په دې نظر دي چي پاکستاني مولویان دکوم بهرني قوت په لمسون او له هغو نه درشوت په تر لاسه کولو سره غواړي په دغه شکل اسلام بدنام کړي.

یوې مسلي ته غواړم دټولو پام راوګرځوم ، طالبان په افغانستان کي دهیڅ قوم نماینده ګان نه وه او نه هم اوس دپښتنو دستر قوم نماینده ګي کولاي سي ، نه هم کوم قوم دوي خپل استازي ټاکلي دي طالبان لکه دانور تنظیمونه په پاکستان او ایران کي رازیږېدلي ،هلته لوي سوي ،وسله وال سوي اودپاکستان ،امریکا ،سعودي عرب او یو شمیر نورو زبر ځواکو په اراده یي جګړې ته وردانګلي دي تر څو دولتي قدرت تر لاسه کړی ،داچي دطلب په نامه دپښتنوپه ادرس سپکي سپوري ویل کړي له انساني اخلاقو او ادب نه لري او ملي یووالي دروحیي نه لیري کاردی . دایوه پوځي ډله وه چي په پاکستان کي روزل سوې ، پر افغانستان دپاکستان ، سعودي عرب او امریکا په مټ مسلطه سوه ، دایو غیر روڼ اندی حرکت و ،ښاري روښنفکرانو او پوهانو پکښي ونډه نه درلوده په عصري پوهو سمبال کسان پکښي نه لیدل کیده او نه هم خپله طالبانو غوښتل چي دا ډول کسان دځان ملګري کړي . یو شمیر متعصب کله چي یې زړه وغواړي پښتانه روڼ اندي وټکوي او یا په پښتنو پسي څه ووایي بیانو سمدلاسه په خپلو لیکنو او وینا وکي د (( طالب پلوه ،طالبي سیاست وال او داسي نور القاب ،دادب له چوکاټ او انصاف نه لیري مختاړي او وروستاړي دپښتنو په اړوند لوروي)) ، پداسي حال کي چي دطالبانو په حرکت کي نه یوازي د پښتنو بلکي دنورو قومونو روڼ اندو ،دعصري پوهي خاوندانو، ډاکترانو ،استادانو ،انجینرانو ،لیکوالو ،شاعرانو ادیبانو او دنورو قشرونو لوړو او پېژندل سوو شخصیتونو، فرهنګیانو او فرهنګپالو ځاي نه درلود . هرڅه دپاکستان او سعودي عربستان دچارواکو له خوا اداره کیدل ،دطالبانو په حکمرانی کي د عربي او اوردنومونوغوره کول ،مثلا دخپل نشراتي ارګان نوم یي (( خلافت )) او ورځپاڼي نوم یې (( شرعیت)) ، راډیو افغانستان ، راډیو شرعیت دا اوداسي نوري بیلګي دا ښکاره کوي چي دطالبانو په وخت کي هم دسعودي عربستان او پاکستان دفرهنګي تېریو پر اساس دپښتو ځاي آهسته آهسته عربي او اوردو ژبو ته خوشي کېده ؛ دپلازمېني کابل او دولایتونو په ښارونوکي دهټیو او رستورانونو دنوملو لپاره اوردونومونه کارېدل . پدې باید هر څوک قناعت وکړي چي که دطالبانو په لیکو کښي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار پښتانه او يادنورو قومونو روڼ اندو ځاي لرلی واي پاکستان او دهغه پلويانو په طالبانو دالوبي او ملنډي نسواي وهلاي.

زموږ دهيواد په دغه سياسي او جګړه ايز ګيرودار کي اسامه بن لادن چي دسي آي آيې په مرسته دساړه جنګ په دوران کي دشوروي پلوه رژيمو په مقابل کي په اسيا، عربي نړۍ اوافريقايي هيوادوکي ښه ځليدلی و يو ځل بيا افغانستان ته راغلی ،البته دا هغه وخت دی چي طالبان لا واک ته نه دي رسيدلي په کابل کي حاکميت داستاد رباني پلاس کي دی ، هغه دننګر هار له لاري افغانستان ته راځي لومړی دجلال آباد دښار ظاهر شاهي مانۍ ته نږدي کور ورکړه سو ،خو ډير ژر له ډار نه دهډي سيمي ته دمولوي خالص يوې کلا ته کډه سو او تر يوي مياشتي ورسته دسپين غره هغه سمڅو ته چي دوسلو دزيرمتون په خاطر جوړي سوې وي کوچ وکړ ، زه دده په هکله زيات بحث ځکه نه کوم چي ټول په خبر دي چي نوموړی له هغه وخت نه چي په پاکستان کي دمجاهدينو سره له 1981زکال راپدې خوا اړيکي لرلې ، افغانان يي جګړي ته هڅول ، له هغوي سره يې مالي ، مادي او دلوژستيکي مرستي کولي ټولو ته څرګندي دې ، په 1988-1998زکلونوکي کله چي شورويان ووتل او دجهاد کليمي کرار خپل مفهوم دلاسه ورکاوه هغه افراطي اسلامي ډلي او کسان چي دجهاد لپاره راغلي وه ددوي په منځ هرج مرج راپيدا سو او ځينو يې دستړيا خبري کولي په دغه وخت کي همدا اسامه بن لادن ديوکوټلی پوځي لښکر دجوړيدي په فکر کي سو او دده دپلويانو په وينا هغه ديو لوي جنګ لپاره ديوه نړيوال بنسټپال پوځ دتنظم په جوړيدو پيل وکړ اوهغه يې په غالب ګمان دعبيده البنشيري په ملګرتيا جوړ کړ.داحمد رشيد پاکستاني ليکوال او ژورناليست په وينا ((1982زکال نه تر 1992زکال پوري په افغانستان کي دجګړي دګډون لپاره دمنځني اوليري ختيځ ،شمالي اوختيځي افريقا ،منځنۍ اسيا او نورو هيوادو څخه چي شمير يي 43 ته رسيده ((35زره)) زيات رضاکار مسلمانان راغلي و)) ،طبعي ده داټول مړه نه سول ډير يي ژوندي پاته سول ددغو ټولو سره اسامه بن لادن نږ دې اړيکي پيدا کړي وې ،دا هغه امکان و چي په افغانستان کي دشوروي او امريکا تر منځ داغېزي دسيمي دپراختيا جګړي د بن لادن په واک کي ورکړ .کله چي طالبانو کابل تر لاسه کړ بن لادن هم څه موده وروسته کندهار ته راغلی او دملا محمد عمر سره يې دوستۍ ډيري کوټلي اړيکي ټينګي کړې ،تر هغه وخت چي امريکا دطالبانو په وجود کښي سيمه ايزي ګټي ليدلي دبن لادن او ملا عمر په دوستۍ يې بي تفاوتي ښکاره کول ،مګر کله چي نړيوال وضعيت تغير وخوړ ،دطالبانو کړه وړه نور دافغانانو لپاره دمنلو وړ نه وه او پاکستان په هغوي هغه څه کول چي افغانانو زغملاي نه شوه ،دترکمنستان څخه دګاز دلولي مسله هم ځنډمنه سوه ، ديونيکال کمپنۍ مشران په دې باور سوه چي دطالبانو په وجود کي دوي دا پروژه لکه څنګه چي دوي اټکل کړی و پلي کيدل يې ناشوني دي،طبعي ده کله چي ګټه نوي زبرځواک هر قوت او ګورپ چي وي قرباني کوي .له بلي خوا بن لادن ځان داسي احساس کړ چي په رښتيا سره دی کولاي سي داسلام څخه پخپله دپيسو په زوراو دغو فاناتيکانو په وسيله دفاع وکړي . هغه په افغانستان کي هم داسي اکټ کاوه لکه دی چي ددغه هيواد اصلي اوسيدونکی او برلاسۍ چارواکۍ وي او طالبان يې دامريکا په مقابل کي هڅول . دغه او هم به نور دلايل موجود وه چي دبن لادن او امريکا تر منځ توره پيشي تيره سوه آن ددښمنۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سرحده اختلاف پیداسو . په لومړي ځل پسله هغه چي په 1990زکال امریکا د کویټ څخه دعراقي عسکروتر ایستلو وروسته شل زره امرکایي عسکر په سعودي عربستان کي میشته سول ،دبن لادن دامریکااو سعودي چارواکو لخوا دا کار داسلام پر مقدسو ځایو لکه بیت المقدس تېری وباله او له دغه عمل سره یي خپل مخالفت څرګند کړ . دسعودي حکومت له ډار چي ځان یې په خطر کي ولید په 1992زکال په خپله شخصي الوتکه کښي له پاکستان څخه چي په دغه وخت کي ګویا دطالبانو او جمیعت دپخلاینې لپاره تللی و سودان ته ولاړ، او په 1994 زکال دده سره دشاهي کورنۍ مخالفت اوامریکا په غوښتنه او مشوره له هغه نه دسعودي تابعیت واخیست . بن لادن په 1992زکال په مګه دیشو او یمن کي دتروریستي حملو په تور تر تورن وپېژندل سو . بن لادن کله چي د1996زکال په سپتمبر افغانستان راغی دمجاهدینو دمشرانو سره لکه رباني ،ګلبدین ،احمدشاه مسعود او مولوي خالس سره یې ښې اړېکي ټینګوي ،طالبانو ته بیا دومره نږدې کیږي چي له افغانستان څخه دده دایستلو په قیمت تر اوسه افغان ولس اوپه خاصه توګه پښتانه او نړیوال جزاویني.

له طالبانو څخه دنورو ناامیدیو په څنګ کي دبن لادن او امریکا تر منځ دښمني او دهغه لخوا دافغانستان څخه دامریکایي استخباراتو په قول په (1998) زکال داګست د میاشتي په اومه دکینیا په مرکز نایروبي او تانزانیا په مرکز دارالسلام کښي دامریکي په سفارتونو کي دنهو، لسو دقیقو په تفاوت غټي چاودني چي )) 219 ((افریقایان او ))12 ((تنه امریکایان پکښي تلف سوه ددي باعث وګرځېدل چي امریکا دطالبانو څخه رسمي غوښتنه وکړي تر څو هغه امریکا ته وسپاري اویایې له وطنه وباسي . کله چي طالبانو دپاکستان په مشوره دهغه دتسلیمېدو سره مخالفت وکړ ، پدې نامه چي ګویا هغه مجرم نه دی،او زموږ میلمه دی، له افغانستان څخه دبن لادن دایستلو پر سر سره جوړ نه سول ؛که څه هم پسله هغه چي پر افغا نستان اقتصادي بندیزونه ولګېدل او دافغانانو حالت خراب سو په داخل او بهر کي ټولو افغانانو له ملا عمر نه غوښتنه وکړه ، دا نابللی مېلمه چي موږ ته زموږ دملي ګټو او افغانستان دویرانۍ په قیمت تمامیږي له افغانستان څخه وباسي ، متاسفانه طالب چارواکو یوازي دپاکستان منل د افغان او نورو پر خبره یي غوږ نه نیوی.

پاکستان هم امریکا داوس پشان غولوله څو ځله کلینټن نواز شریف نه په تلیفون کي له هغه نه غوښتنه وکړه چي پر طالبانو فشار راوړي تر څو هغوي بن لادن امریکا ته تسلیم کړي او یا یې بل هیواد ته دمحکمي لپاره ولېږي ،نوازشریف به هغه ته وعده ورکول مګر په عمل کي یې هیڅ نه تر سره کول . پاکستان پدې ښه پوهېده چي امریکا دپاکستان په مقابل کي دسخت اوغوڅ دریزنه کار نه اخلي ځکه امریکا پاکستان ته په منطقه کي دپلانونو دپلي کولو په منظورتل اړتیا لري ،کنه دبن لادن دنیولو یا وژلو لپاره څومره پروژي جوړي سوي ،لومړۍ پنځه او بیا پنځه ویشت میلیونه ډالره جایزه وټاکل سوه ، د مرکزي اسیاته دنفت او ګاز دترلاسه کولو په منظور دطالبانو سره مرستي عبث ولاړې،دیونیکال او دلتا دکمپنیو ټول پلانونه په اوبو کي لاهو سول ،دا ټول تاوانونه امریکا ومل ، خو یوه ورځ امریکا یي جګپوړو پاکستاني چارواکو ته ونه ویل چي تاسو څه کوئ؟ او پر کومه لار روان یاست ؟، فکر کوم دا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامریکا لپاره هغه نازولې دې چي ټوله نړۍ يې تر قربان کړي ده ، داسي يو نظر هم دعام ولس سره سته چي ممکن دامریکا استخباراتي سازمان په منطقه کي دامریکا دسیاسي ،اقتصادي او پوځي نفوذ تر ټینګولوپوري نه غواړي داسامه بن لادن ،القاعدي دسازمان او طالبانو جنګي سیریال ته دپاي ټکی کښېږدي . زموږ افغانانو سره هم دا ډار زیات سوی دی پداسي حال کي چي دامریکا په ګډون دنړۍ ))37 (( هیوادونه له افغانانو سره دامنیت په راوستلو کي یو ځاي خپل ځوانان دلاسه ورکوي ،او آهسته آهسته یې د نړیوالو په سترګوکي اعتبار ته ضرر رسيږي داسي نشي چي يو ځل بیا افغانستان دپاکستاني جرنیلانو تر ناولو غوښتنو قربان کړي ؟ که داسي نده نو ولي امريكا دادنړۍ سوپر زبر ځواک پاکستان ته سپينه او لنډه خبره نه کوي او ورته نه وايي چي پر ځاي دي کښېنه ،افغانان نور مه زوره وه . کوڼ او ړوند په دي پو هېږي چي دافغان ولس دټولو بد مرغیو اساسي عامل پاکستان دي اوبس ،څنګه داومنل سي امریکا ،انګلستان ،اسرائېلو،روسې ،چين ،هند ،فرانسي ،المان ،ایټالیا اونورو هیوادونه چي همدا اوس عملا دافغانستان په لانجه کښي دپاکستان دخاوري څخه دالقاعدي دسازمان ، بن لادن او طالبانو سره ښکیل دي نشي کولاي دهغوي ځالګی پیداکړي ؟.

بن لادن هم ځاي ګرم او ګدا اسوده ولید، دادی تر اوسه پاکستاني جنرالان وايي په افغانستان کي دی،او افغاني چارواکي ادعا کوي چي هغه په پاکستان کي دی ،دغه حالت چي په دغه سیمه او قوم کي به دده پیداکېدل تر ډېره وخته دټولولپاره ستونزمنه وي بن لادن په خپله هوښیارۍ ډېر ښه درک کړی و . دا چي دا ډرامه به کله پاي ته رسيږي تر اوسه څوک نه پوهيږي.

د امريكا دغوتلاښو چي دطلبانو مشران راضي کړي تر څو هغوي بن لادن امریکا ته دمحاکمي لپاره وسپاري له ناکامۍ سره مخ سوه ،که څه هم امریکادطالبانولپاره وروستۍ نیټه د1999دفبروري په میاشت وټاکل مګر ډېر ژر طالبانو اعلان وکړ چي اسامه بن لادن ورک دی . دملګرو ملتو امنیت شورا په 1999داکتوبرپه 15 نیټه دپریکړي په ترڅ کي دطالبانو نه وغوښتل چي پخپله خاوره کي دترهګرۍ مخه ونیسي او هغه کمپونه چي شته وتړي او . . . ، دامنیت شورا بل کال (2000)ددسمبر په 19 نیټه په خپل بل 1333 لمبر پرېکړه لیک کښي پر طالبانو باندي خپل پخوا ني بندیزونه په ټینګار سره تاید کړه ،اما طالب چارواکو په دغه پرېکړه لیکو نو عمل ونکړ،نه يې بن لادن وسپاره او نه يې دالقاعدي دروزني کمپونه و تړل . د 2001زکال په پیل کي دامریکا نوي ولسمشر بوش ته دمنځنۍ اسیادهیوادو نو دنفت او ګاز مسله چي دچین او روسې دګډ قرارداد په اساس به دهغوي پلاس کي لویدلي واي جالبه وبرېښېده او له بلي خوا دامریکا لپاره داسي يو تړون هم دمنلودمنلو وړ نه و،خپلو اقتصادي موخو ته درسېدو خاطر امریکايي چارواکو پرېکړه وکړه دطالبانو سره يو ځل بیا دخبرو له لاري مخ ته ولاړ سي دخبرو چاري دبهرنيو چارو په وزارت کي (( کرستین روکا)) ته وسپارل سوي هغه دطالبانو سره شپږ ځله او دوه ځله يې په برلین کي نوري پټي غوندي جوړي کړي ، دغونډو کومه نتیجه ورنکړه ،په دوهمه غونډه کي دطالبانواستازي برخه وانه خیسته ځکه دوي بندیزونه غندل او دملګرو ملتو پر سازمان يې نیوه کي لرلي . دجولاي په میاشت کي ((دشراپ شاير))په وسټن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارک کي چي دانګلستان په لوديځ کي يوه ډيره ښکلې سيمه ده ديويشت هغو هيوادوداستازو په ګډون غونډه وکړه کوم چي دافغانستان له موضوع سره علاقمند و ،دغه غونډه دملګرو ملتو په مشرتوب دانګلستان دباندنيو چارو دوزارت لخوا په غير رسمي توګه رابلل سوي وه ، هلته دا وړانديز چي په افغانستان کي دي د پخواني پاچا محمدظاهر په مشرۍ يوه ائتلافي اداره جوړه سي مشوره وسوه ، دمسله دشمال ټلوالي لخوا استقبال سوه او پدي ډير خوښ سوه ،خو هغوي دا دکار پيل باله اويل يې بيا به وروسته ګورو چي څه وشي ،دهغوي لپاره ظاهرشاه هدف نه بلکه هدف ته درسېدولپاره يوه وسيله وه . تر دغي غونډې لږ وروسته دپاکستان استازي ((نياز نيک)) په فرانسه کي داپه ډاګه څرګنده کړه چي دامريکي دهيئت يوه غړي ويلي و که طالبان دبن لادن په هکله په خپل دريز کي تغير رانه ولي پر خلاف به يې دزور نه کار اوخيستل سي . هغه داهم وويل چي ددوي پر ضد به دتاجکستان له اډونه کار واخيستل سي ، هلته پخوا امريکا يي مشاوران ځاي پرځاي سوي و ،ازبکستان هم خپله اماده ګي وښودلې وه روسي پولس زره پوځ داماده ګۍ په حال کي قرار درلود. دپاکستان دغه چارواکي دا خبره ديوه پلان په اساس چي دوي يي لري افشاکړه ،غير مستقيم يې طالبانواو دهغوي پلويانو ته څرګنده کړه چي امريکا او دهغې ملګري هيوادونه څه پلان لري ، که طالبان دامريکا خبره ونه مني دهغوي پر خلاف حمله کوي ،پاکستان تل (( غله ته وايي غلاوکړه او دکور خاوند ته وايي بيدار اوسه)) سياست پلي کړی دی.

((فرانسس ويندرل )) لا دمی له مياشتي نه راپدې خوا په روم کي له پخواني پاچا سره افغانستان ته دتګ په هکله ليدني کولې ، دجولاي دمياشتي نه راوروسته ظاهر شاه ته داسي کتل کيده لکه دافغان واکمن چي وي.

په دغه وخت کي دطالبانو مشرانو ته دامريکا لخوا دوه پيغامونه واستول شوه چي په يوه کي يې غوښتي وه چي دبن لادن دنيولو لپاره دي عمل وسي ، اوبل دظاهر شاه په مشرۍ ديوي ائتلافي اداري دجوړېدو په هکله د خبر دپيل مسله وه . دېردي شاته حالت داسي معلوميده چي دوي نوره دتل لپاره دطالبانو سره وداع کول ، خو تر هغه دمخه يوه بله لويه حادثه پېښه سوه چي هر څه يې پر دابله خوا راواړول . دا څرګنده معلومېده چي پاکستاني چارواکو او استخباراتي سازمان يې په افغانستان کي دملي پخلاينې پر اساس دحکومت له جوړېدو سره مخالف وه،هغوي تر وروستيو شيبو تلاښ وکړ چي طالب چارواکي په افغانستان کي پردولت واک وساتي.

په امريکا کي داسي پېښه وشول چي دپاکستان ټول پلانونه يي تر يوه حده په اوبو کي لاهو کړه، په بربنډه توګه په افغانستان کي داسامه بن لادن داوسېدو او طالب چارواکو دقدرت کمبله مخ پر ټولېدو سوه ، وايي خداي دي داسي شر پېښ کړي چي زموږ پکښي خير وي ،موږ ددغي پېښې دقربانيانو سره ځانونه په غم کي شريک بولو ځکه تر هر چا افغان ولس ته معلومه ده چي کله څوک دفاميل غړی دلاسه ورکوي څومره درد لري . د2001زکال ددسپتمبر په 11مه 19 ترهګرو چي پنځلس يي دسعودي عربستان وه په نيويارک کښي دنړېوالي سوداګرۍ مرکز دوه غبرګوني ))107 ((پوړيز ي مانۍ اوپه واشنګتن کي دملي دفاع پر وزارت يا پنتاګون دملکي الوتکو په استعمال حمله وسوه دريمه الوتکه چي غوښتل يې پر سپينه مانۍ حمله وکړي دسورليو دفشار په اساس دپنسلوا نيا ښار ته نږدي پر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مځکه ولویدل ،تجارتي مرکز اور واخیست او مانۍ ونړېدي تر دریو زرو زیات په مختلفو قومونو پوري تړلوداور په لمبو او دتعمیر تر دېوالو لاندي خپل ژوند دلاسه ورکړ. هیڅا فکر نه کاوه چي په امریکا غونديي هیواد کښي دي داسي لویه پېښه وسي ،او دومره خلک دي دیوې ترهګري حملې په پایله کي مړه او په ملیاردېو زیان دي ورسېږي . که څه هم د کتي کلارک په وینا (( دسپتمبر له تراجیدی نه څو اونۍ مخکښي دطالبانو دبهرنیو چارو وزیر متوکل دکوم مرستیال په لاس په پېښور او اسلام اباد کي دامریکې قونسلګری اود ملګرو ملتودسازمان اداري ته خبرداری ورکړی و ، چي بن لادن په امریکې باندي دډېر غټ برید کوونکی دی په دغه مقصد چي په زرګونو امریکائیان له مینځه یوسي خو دهغه اخطار ته چا غوږ ونه نیوه شاید له دې امله چي مرستیال یې دخبر سرچینه نه وه ښودلې )). مولانا ابو العلي مودودي نقل قول ،چویري 106

دامریکا سنا ولسمشر ته دومره پیسې او واک ورکړ چي چا تصور نشو کولاي ، تر څو ولسمشر دامریکا دښمنان هر چیري چي پټ دي ورک او نابودکړي . ددغي زړه بوږنوونکي پېښي دورځي په ماښام دامریکا ولسمشر جورج بوش دامریکا خلکو ته په وینا کي وویل : موږ به دهغو تروروستانو او هغو تر منځ چي هغو ته یي پناه ورکړې فرق ونه کړو . کانګریس دسپټمبر په 14ولسمشر ته دغه واک ورکړ چي دهغو ملتونو،موسسو ،یاکسانو پر ضد له ټولوضروري او مناسب زور نه کار واخلي ... کانګرس ددغه موخي دترلاسه کولو په منظور حکو مت ته د څلویښتو میلیاردېو ډالرو دمصرف اجازه ورکړه.

جورج بوش دسپتمبر په شلمه دکانګریس په یوه غونډه کي بن لادن او دهغه سازمان په دغه پېښه کي تورن کړه ، اود طالب چارواکو ته یې داسي التیماتوم اعلان کړ : ((دامریکي چارواکو ته دالقاعدي ټول هغه مشران وسپارۍ چي ستاسي په هیواد کي دي ... سمدلاسه او دتل لپاره په افغانستان کي دتروریستانو دروزني کمپونه وتړۍ ، تروریست دهغو روزونکی او ملاتړ کوونکی اړونده مقاموته وسپارۍ ، ددي لپاره چي مونږ باور وکړو چي هغوي نور نو عمل نه کوي امریکا ته دترهګرۍ په کمپونو کي پوره لار ورکړۍ . دا غوښتني دخبر یابحث لپاره نه دي . طالبان باید سمدلاسه عمل وکړي .دوي باید ترهګر وسپاري یادي دهغو په برخلیک کي ځانونه ګډ وشمېري )) بي بي سي او امریکا ږغ راډیو . دا لومړۍ ځل و چي امریکا طالبانو ته داسي ګواښ وکړ ،کاشکي داسي ګواښ یي دپاکستان ولسمشر ، استخباراتي او پوځي چارواکو ته هم کړی واي نوبه یي ثمر عملي او ګټي به یې زیاتي او تاریخي واي .که رښتیا وویل سي او امریکا حق ته غاړه کښېږدي پاکستاني چارواکوته داشان التوماتوم به نه یوازي افغانستان بلکه دامریکا په شمول ټوله نړۍبه دترهګرۍ او لاس وهنوله شرڅخه خلاصه سوې واي . داپاکستان دۍچي ددوي په خاوره کي رزول سوي تروریستان په مصر ،هسپانیا ،فرانسه ،جرمني او انګلستان کي دترهګرۍ دعملونو دتر سره کولو امکانات تر لاسه کوي ،ځکه همدا اوس دپاکستان په مذهبي مدرسو کي چي شمیر یي تر لسزرو زیاتېږي دآي آیس آي تر بشپړي حمایي او کنټرول لاندي دي ترهګر روزل کیږي ، په افغانستان او دنړۍ په نورو هیوادو کي دهمدغو مدرسو روزل سوي خلک ترهګریز ي کړني تر سره کوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسوداګرۍ دمرکزو تر ړنګېدو وروسته دامریکا خلکو ته دجورج بوش دلومړۍ وینا څخه دورایه څرګنده سوه چي دهغه هدف بن لادن او طالب چارواکي دي ،کله چي دامریکا حکومت دکانګرس ملاتړ تر لاسه کړه دڅو دیپلو ماتیکوسفرو څخه وروسته امریکا دنړۍ په کچه دامکانات برابر کړه چي دطالبانو دغه ځواب او بي ځایه مقاومت ته چي بن لادن مسول نه دی ،او یا یې څرګندول چي امریکا دي دبن لادن دمجرمیت اسناد دوي ته دي ښکاره کړه کي او داسي نور دلایل چي منطقي نه برېښېدل ، دوسلې داستعمال په زوردطالبانو حکومت را وپرځوي . داکتوبر په اومه ورځ یي دبمونو اوراکټونو،مډرنو پوځي الوتکولخوا دافغانستان پر پاکه خاوره دطالبانو دځپلو په موخه حمله او تعرض شروع سو،امریکا دغي موخي ته درسیدو لپاره دروسي چارواکو په مشوره پر شمالي ټلوالي تکیه وکړه ، دا هغه ځواک و چي ددوي دظلم او وحشت په پایله کي دپاکستان روزل سوي طالب قوت ته افغانانو په دې منظور چي دشمالي ټلوالي او هغوي دملګرودځواکونو له تیریواو ظلم نه خلاص سي هرکلۍ ویل سوی و . زموږ په هیواد کي داد یوې بلي غمیزي شروع سوه ،په پاکستان کي په بربنډه توګه مولانا سمیع الحق او مولانا فضل الرحمن او نوروفاناتیکو بنسټپالو ډلو په وسیله دټولو مدرسونه ځوانان دپاکستاني داستخباراتواو ملیشو په لارښودنه او ملګرتیا دامریکا په مقابل کي دطالبانو په دفاع کي دجګړي لپاره دافغانستان په لور جوپي جوپي روان سول ،افغانستان ته په رسېدو سره طالبانو هغودهیواد شمال ته ولېږل ،چي هغوي هلته ایسار او زیات یې ووژل سوه . په پاکستان کي یې دامریکا دبیرغونو په سوځولو سره هره ورځ مظاهري پیل کړي ، پاکستاني پوځیانو دموقع نه په استفادې سره دېښتنو په سیمه ورننوتل او دلومړي ځل لپاره یې دډیورنډ کرښي ته ځانونه ورسول . جالبه او دپاملرني مسله خو داده چي پاکستان دامریکا نږدې او نازولې دوست دی مګر ددوي په حضور کي دامریکا پر خلاف شعارونه ورکول کېده ،دولسمشر جورج بوش عکسونه او بیرغونه دبنسټپالو او فناتیکو مسلمانو ځوانانو او احساساتي خلکولخوا په مظاهروکي سوځول کېده . له دغه حرکت څخه په ګټه پورته کولو سره دپاکستان اساسي هدف داو چي امریکا او نوري نړۍ ته ښکاره کړي چي په پاکستان کي مذهبي ډلي ډیري قوي دي، ددوي دځپلولپاره زیاتو پیسو اوکوټلي ځواک ته ضرورت سته ،ځکه امریکا دوي ته دپخواني قرض دبخښلو په ګډون تر دریو میلیارډو زیات ډالره پیسي او یو په بل پسي نوي جنګي الوتکي او موډرني وسلې ورکړې ، تر څو پاکستان تروریستان په وځپي ،خو دا هغه خوب دی چي دپاکستان په مقابل کي داوسني سیاست په تعقیب سره به هیڅکله رښتیا نسي.

دامریکا دبمباریو پایله داسوه چي داکتوبر له اومي څخه ددسمبر تر اتلسمي ورځ پوري دنږدې ))10915 ((کسانو دژوند دلاسه ورکولو په ارزښت ، ددسمبر په دوهمه نیمایي کي دطالبانو دواک هغه ماڼي چي دوي ورته عمارت وایه ړنګه او ملامحمد عمر اخند چي پر موټر سیکل یې دواک تر لاسه کول شروع کړې وه د همدغه موټر سایکل په سوارۍ یي دکندهار ښار او دعمارت تخت وتاج پرېښود. دپاکستان هغه پلان چي ددوي په وجود کښي به دډیورنډ لعنتي کرښي برخلیک دتل لپاره ټاکي یو ځل بیا راتلونکي مهال ، دنوو پلانو دجوړولو او پلي کولو ته معطل پاته سو . ملا محمدعمر اخنداو طالب چارواکي په رښتیاسره دخپل بي بنیاده غرور،دهیواددبرخلیک ټاکلو دساده ارزوني، او پاکستاني استخباراتو دنووګټو قربانیان سول . داسي معلومېږي چي دوي لا اوس هم په دې نه پوهېږي چي پاکستاني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارواکي ددوي اوګران وطن اصلي او اساسي دښمن دی . تر څو چي دډيورنډ دلعنتي کرښي په هکله اساسي پرېکړه نه وي سوې افغان ولس به دپاکستان اودهغوي دنړيوالو دوستانو د سياسي لوبواودرغليو قرباني اودقدرت پر سر جنګي سياليوميدان وي .افغانان به دکورسوځوني په جګړه کي خپل خوږ ژونددلاسه ورکوي . زموږ زوړېدلي ولس به دبهرني پوځيانو تر پښو لاندي دتحقير او توهين شپي او ورځي سباه کوي . ځوان کنړي شاعر فرهادجان دشعر په ژبه داحال ښه تمثيل کړی دی هغه وايي:

ماپکي خپل قاتل ونه پيژانده ----- راغځېدلي وو بلا لاسونه

دا اوسنی افغان وژنه او ټاټوبی ورانونه چي دپاکستان د ديوبندي بنسټپالو دتشويق او فتواګانوله مخي افغانان هڅوي او ورته وايي ، وجنګېږی له خپلي خاوري امريکايان او نور اروپايان وباسی ددغي غميزي دحل لاره نه ده . دا ددوي اوددوي دبادارانو ددسيسو، او دډيورنډ دکرښي پر سردخپلو تاريخي عقدو او دښمنيو دتر سره کولو پايلي دي چي زموږ په هيواد کي پردي وسله وال ځواکونه پراته دي ، کاشکي موږ دا تعقل درلوداي چي هر څه مو دخپل هيواد تر پرمختګ او افغان ولس تر بسياينې او ښېرازی قربان کړي واي . له بده مرغه يو تريخ ولي رښتيا حقيقت بايد ومنل سي چي افغانانو تل يوه او بل ته دقناعت سر نه دی ټيټ کړی ،قناعت يې بل ته تسليمي او تسليمي يې عار بللی دی . داچي خپل هيوادوال او عزيز ته دماتي پر سر يې پردي ته لاس اوږد کړی او يا يې دهغه په پوځي مرسته د ځان لپاره برياوي ترلاسه کړي ، دهغوناوړو او شرمونکو پايلو ته يې هيڅ وخت پاملرنه نده کړې ،او د پردې پوځي ځواک راوستل يې د ځان حق بللی دی . په هره اندازه چي بهرني پوځيان په افغانستان کي پاته کېږي په هغه اندازه زموږ دخاوري قسم خوړلي دښمنان سياسي ،مالي ،پوځي او مادي ګټه ځيني پورته کوي .همدا علت دي چي پاکستاني چارواکي او جنرالان امريکا او نړی والو ته دتروريستانو په ځپلو او نيولو کي ډوکه ورکوي . دا جګړه ددوي لپاره هغه چرګه ده چي طلايي هګی اچوي . فکر وکړی !!! دااوسنی خپل منځی تاوتريخوالی ،دعلماو ،بيګناښځو او ماشومانوو ژل په ځان پوري بمان تړل او ژوند دلاسه ورکول زموږ دبيچاره خلکو هيڅ درد نسي دواکولاي . پدې ټول بايد پوه وي هغه کسان په هرنامه چي غواړي دمنځنيو پيړيو په دودتنګ نظره افراطي رژيمونه پر افغان وتپي ولس ته به دقبول وړنه وي . داډول کړني داستونزي او زموږ دهيواد څخه دپرديو پوځي ځواکونو دوتلو دحل لاره نه برېښي . ځوان شاعر فرهاد وايي:

اوس راته وايه چي ټول زړونه غاټول زړونه چا وګټل

ستا سره ماشه وه او زما سره ګلونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درنو لوستونکو!

دا لاندي عکسونه د پاکستاني نجونو دي چي غواړي په اردو او هوايي قواو کي کار وکړي ،پوښتنه داده چي دديوبندي ملا یان په ځانګړې توګه مولوي فضل الرحمن دغو نجونو ته دکوم روایت له مخي اجازه ورکړې چي دځوانانو سره یو ځاي پوځي ډښوونه سرته ورسوي ، یو ځاي پوځي تعليمات او عمليات تر سره کړي ؟

زه ددغه کار ملاتړ کوم زما لپاره ښځه او نارينه دبيولوژيکي جوړښت په تفاوت یوشان ارزښت لري ،دواړه دخداي بنده ګان او انسانان دي ، دټولني په وړاندي یو شان حقوق او مکلفيتونه لري . عکسونه مي ځکه راوړل چي همدغو دپاکستان بنسټپاله مولويانو له مجددي څخه نيولي تر رباني او طالب پوري ټولو ته ويل ښځه بايد په کور کي وي ،ښځه ټول عورت دی ،دښځي مخ بايد بيرون څوک ونه ويني او اواز يې وانه وري ،هغه ښځه چي دا نه مني بايد سنګسار سي . پوښتنه کيږي چي مولانا صاحب ! دانجوني به څوک سنګسار کړي ؟




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلورمه برخه

په نوي تاکتيک دپاکستاني چارواکو هلې ځلې

دطالبانو دواکمنۍ پر خلاف دامريکا لخواد جګړې پيل دوې برخې درلودې .يوه يې دوسله وال تيريو لپاره دپوځي پلانونو جوړول ،او بله دطالبانو پر ضد دميډياله امکاناتو څخه په استفادي سره دهغوي پر خلاف دنړيوالو ذهنيت اماده کول و . امريکا دمطبوعاتو ،راډيو ،ټلوېزيون او انترنټ له لاري په نړيواله کچه دوحشت،بربريت،تروريزم او انسان وژنو اصلي ترسره کوونکې يوازي طالبان او دالقاعدي سازمان معرفي کاوه ، امريکا ډير ژر وکالاي شوه نړوالو ذهنيت دخپلو راتلونکو پوځې او سياسي کړنو سرته رسولوپه موخه اماده کړي ؛ دهمدغو تبليغاتو پايله وه چي ټوله نړۍ دطالبانو دحکومت دپرزولو او القاعده سازمان دله منځه وړلو غوښتونکې سول.

دامريکا حکومت دسي آي آې دکارمندانو په وسيله دافغانستان په دننه او بيرون کې دځينو افغانانو سره اړېکې ونيولې دهغه جملې نه دشمالي ټلوالې په څنګ کې يې د مرحوم حاجي عبدالحق جبارخيل چي په خپل قوم کي دلوي اعتبار خاوندو او حامد کرزی چي دپوپلزو په قوم کي دخپل مرحوم پلار دشناخت او اعتبار څخه په استفادې سره يي کولاي شوه دطالب چارواکو پر ضد خلک راوپاروي ،او پخوانۍ پاچا محمد ظاهر شاه وچې امريکا دهيواد په راتلونکې برخليک کي د ونډې خاوند ګاڼه او دسولي په راوستلو کې يې دده ونډې ته زيات ارزښت ورکاوه . امريکا داسي انګېرلې وه چې داکسان کولاي سي خلک دطالبانو پر خلاف راوپاروي . ډير په دې نظر دي تر کومه ځايه چې پاکستان په دغه پلان خبر و او دحاجي عبدالحق دسفر مقصد او لار ورته معلومه وه دطالبانواوالقاعدي دسازمان په وسيله وتوانېده چې حاجي عبدالحق جبار خيل افغانستان دتګ پر لار مخکي له دينه چي کابل ته ورسېږي بيله کومي محکمي ناځوان مردانه اعدام کړ . د هغه په مرګ زيات پښتانه خفه سول اودۀګه دمرګ په غندلو سره يې پر طالبانو يې ډيري سختي نيوکې وکړې . پدې ډول دطالبانو په مقابل کي دپښتنونفرت لانور هم زيات سو،او دا هڅ چي پاکستانپه هيڅ صورت په افغانستان کې ديوغښتلې حکومت دجوړېدو سره علاقه نه لري په پښتنو کې نور هم غښتلی سو. حامد کرزی تر دهراود ولسوالۍ ورسېد او هلته ديوه نفر لخوا چي په مطبوعاتو کي يې ځان معلم اشرف معرفي کاوه حمايه کېده،دته دامريکا يانو لخوا ډاد ورکړه سوی و چي دطالبانواو يا بل چا دحملې په مقابل کي به هغه ساتې . کرزي ونه سوه کولاي دارزګان خلک دطالبانو په مقابل کي راوپاروي ،يو خو طالبانو تر کرزي هلته زيات نفوذ درلود او بل کرزي په ارزګان کي کومې شخصي دپېژندګلوۍ ښې اړېکي نه درلودې .فکر کوم کرزي هلته يوازي پدې خاطر لېږل سوی وچي دطالبانو دحکومت دراپرزېدو څخه وروسته هغه دملا عمر دزېږېدو له ځايه دملا عمر څخه پاته شوېتخت پر کښېنستو لپاره کابل ته رولې ،دا شان ژيستونه اوکړنې دسياست په ډګر کې رواج لرې . ځکه کرزی تر هغه وخته هلته پاته سو کوم چي بيا دامريکايې چورلکې پوسيله دبن دکنفرانس ترموافقي وروسته دبګرام هوايې ډګر ته په کابل کي دمؤقتي اداري درياست دواک دتر لاسه کولو لپاره راوړسو،دبګرام هوايې ډګر ته فهيم ، يونس قانوني او شمالي ټلوالي نور غړي مخته ورغلي وه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامریکا متحده ایالاتو دانګلستان په نیغ ملاتړ او همکارۍ دطالب حکومت دوسلوال ځپلوپه خاطردسي آي آې جګپوړي کارمندان دروسې په مرسته دتاجکستان او ازبکستان له لاري په چورلکو کي پنجشیر ته راغلل او هلته یي دفهیم ،یونس قانوني ،دعبدالله دبهرنیو چاراوسنۍ وزیر سره دکتلو په ترڅ کي ددوي سره دراتلونکې په هکله خبري وکړې ،شمالي ټلوالي دنده تر لاسه کړه چي دطالبانو پر خلاف دامریکا یانوسره په عملیاتو کي برخه واخلې ، شمالي ټلوالې پدې خاطر په راتلونکی کښي دامریکا په مرسته غښتلې موقف پیدا کړي دامریکا یانو دغه خدمت ته یې غاړه کښېښوده ،که څه هم امریکا یانو به همدا درک کړې وې . روسیه چي دتروریزم پر ضد مبارزه کې دامریکا ملګرې سوې وه دشمالي ټلوالي څخه دامریکا داستفادیې په هکله خوښي ښکاره کړه او هغه یې دروسي او منځنۍ اسیا په ګټه وبلل . متل دی وایې ((ما پر آسمان غوښته خداي پر مځکه راکړه)) .روسانو دا انتظار نه درلود چي امریکایان دي بیا داسي تېروزې او شمالي ټلوالي بندنامي ډلي ته چي په سیمه کي دروسانو یوازنې دوستان وه داامکان پلاس ورسې چي دا ځل دامریکا د B52 او C130 ډوله الوتکو دبمباریو په مټ دي کابل ښار هغه ښارته چي اوسېدونکو یې ددوي له نامه سره حساسیت پیداکړی و یو ځل بیا داخل سې.

توماس والکوم پخپله مقاله ((ائتلاف نامقدس )) کي چي دافغان رسالي په 23-24ګنه کي خپره سوې ده لیکې : (( دامریکا په نظر شمالي ائتلاف په حقیقت کي هیڅ ائتلاف نه دی او باور وړباندې نشي کېداي،لیکن پرته له دوی نه امریکا بل انتخاب نه درلود ،.... ځمکني پو ځونو ته دزیاتي اړتیا له مخي په کار وچي دشمالي ټلوالي له ملېشو څخه دطالبانو پر ضد کار واخیستل سي ،نه دامریکا او لوېدیځ دځمکنیو ځواکونو څخه )) امریکا له دې ډارنه چي په ځمکني جګړه کي به د زیات تلفاتوسره مخ سي پرېکړه وکړه چي د شمالي ټلوالي څخه چي دطالبانو سره کوټلې دښمني هم لري استفاده وکړي .دیادولو وړ ده چي دامریکا ولس هم ددې سره مخالفت کاوه چي دجګړې په پېل کې دي په ځمکنیو عملیاتو کې امریکایې سربازان برخه واخلې.

ددي لپاره چي دشمالي ټلوالي نړېوال اعتبار غښتلی سي دروسي مشر ولادمیر پوتین هم ددي حقیقت نه پرده پورته کړه او دژورنالستنو سره یې په خبرو کې دابربنده کړه چي روسې دتېرو پنځو کلو په دوران کي دطالبانو پر ضد دشمالي ټلوالي اود هغوي قوماندان احمدشاه مسعود سره دوسلو او پیسو زیاتي مرستي کړي او دادۍ اوس دغه مرستي نوري هم زیاتوي . فکر کوم د2005زکال دسپتمبر په میاشتي څوټنه مواد او توکي چي دپنجشیرولسوالۍ (ولایت) ته دمسکو دوالي جنرال ګروموف لخوا راولېږل سوه هم دهغه پخوانیو دوستیو دیوځل بیاډاګیز کېدو او پخلې په خاطر به وه ،که نه تر پنجشیر نورې زیاتې مستحقي سیمي وي ،او بل داچي ولې دیوي خاصې منطقي په نامه ؟ ځکه هلته خداي مکړه کومه طبعې ټکه نه لوېدلې.

امریکا دتروریزم سره دمبارزي په نوم داروپایي هیوادو ،روسې ، ببله ایران څخه دافغانستان همسایه هیوادو ملاتړ تر لاسه کړ او داکتوبر په میاشت کي یي دیویشتم قرن دموډرنو الوتکو او بماوریوپه زور دطالبانو او دالقاعدي دسازمان دپټېدوپر ځایوشپه او ورځ مرګوني ګذارونه شروع سوه،امریکا په دغو بم اوریو کي وچ او لانده یو ځاي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسوځول .او دپښتنو داوسېدو پر سيمه په دې نامه چي طالبان پښتانه دې او دطالبانو سره به مرسته وکړي هم تر بمبارد لاندي ونيول ، په دښت کې چوپان او په کلي عادي خلک وويشتل سوه . کلي ،کورونه ، ،ژرندي ، کارېزونه اودکوچيانو خېمې ،پر لارو دسوارليو ګاډې د بم اورونکو الوتکو او توغنديولخوا په نښه سول ،په زرګونو کورنۍ يې کليو او ښارونو پرېښودلو ته مجبورکړه ،دولسونو دژوند اډانه يې خرابه او تباه کړه . په کابل ښارکښي يې هم دښار سهيلې او شمالي برخې ،دتلوېزيون غر (انتن)دبالاحصار او مرنجان تپه او يو مسجدپه بمانو او توغنديو کلک وويشتل ،په سلهاو انسانانوو ژول سوه .که څه هم دامريکا داشان کړنه په داخل او بهر کي دافغانانو داعترضونو او احتجاجونو سره مخ شول ، دامريکا وحشيانه خپل سري بمبارۍ يې وغندلې مګر دامريکا او دلوېديځو هيوادو مشرانو ورباندي غوږ هم ونه ګراوه . دسويډن دمالمو په ښار کي دسويډن افغانستان دکمېټې او افغانانو په ګډون مظاهري وشوې ،په همدغو مظاهرو کي هغو افغان ماشومانوسره دمرستي په خاطر چي دامريکا دوژنکواو ړندو ګذارونوپه پايله کښي يې دژوند هر څه دلاسه ورکړي وه مالي مرستي راټولي سوې ، دمالمو دښار په هغه تعليمي موسسه کي چي ما سويدني ژبه لوستل دسويدني استادانو په همکارۍ مې تر 8000 زيات سويډني کرونه مرسته ټوله کړه ټولي پيسې چي دمالمو دافغانانو لخوا ټولي سوې تر دېرشو زروزياتي وې . دامريکا او هغوي دمتحدينو له پوځې کړنو او عملياتو څخه دا سې څرګندېده چي شاته کوم پښتون دښمنه قوت وو ،او امريکايانو ته يې غلط راپورونه ورکول او هغوي يې دپښتنو داوسېدو پر ځايو بم اوريو ته هڅول ،تر څو له يوې خوا پښتانه وځپل سې او له بلې خوا دپښتنو په زړونو کي دامريکا په مقابل کي کرکه او دنفراحساس راپيداسې ، تر څو امريکا او اروپايي هيوادونه دتل لپاره دپښتنو په مقابل کي حساس اوسې اودوي ته دشک په سترګه وګورې.

دا عمليات دومره درانه وه چي دلوېديځو مطبوعاتو او ان دامريکا د CNN ټلوېزيون يو تن مفسر(( فيشر)) وويل :دامريکا بمبارۍ دويتنام له جګړي نه وروسته ډېري درنې او زياتي سختي وې ،ځکه شپه او ورځ په پرله پسي توګه يې دوام درلود.

په هغه وخت کي چي پر کابل او کندهار د بمانو او توغنديو باران ودروسې دولت اعلان وکړ چي شمالي ټلوالي لپاره يې پنجشير ته ټانکونه ،توغندۍ او کلاشينکوفونه رسولي دې ،روسې غوښتل دموقع څخه په ګټه پورته کولو سره دنظار شوراتر غاښو په هر ډول وسلو سمبال کړي تر څو داړتيا په وخت کي وکولاي سي له ځان او روسې دګټونه دفاع وکړې ،همدغه مهال ازبکستان هم دجنرال دوستم څخه خپل ملاتړ اعلان . البته دا بايد هېره نشي چي ترکيې تل خپلي ګټي دشوراي نظار په څنګ کي ددوستم په وجود کي لټولې دې او دهغه څخه يې تل ننګه کړې ده . همدا دليل و کله چې دوستم دطالبانو له خوا ځغلول کېده سمدستي به ازبکستان او له هغه ځايه ترکيي ته تلۍ .دترکيې په تلويزيون کي ډېر ځله په پوځي لباس کي راښکاره سوۍ دۍ او کله کله دده څخه پداسي حال کي چي هيڅ دولتي واک يې نه درلود ديوه رسمي شخص په بڼه استقبال سوۍ دۍ . د2001زکال داکتوبر په 20ورځ يو روسي پوځي جګپوړي جنرال ((پاپوف)) و ويل :موږ دشمالي ټلوالي سره په کافي اندازه کومکونه کړې ، دافغانستان شمال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ دسیاسي اغېزې دنفوذ سیمي بولو ،او دافغانستان دراتلونکي دولت لپاره ښاغلی رباني یو مناسب شخص ګڼو.(( امریکا ږغ راډیو)) دغو څرګندونو دا فهمول چې روسیه په هیڅ ډول حاضره نده په افغانستان کې پاکستان پلوه حکومت ومنې.

دکابل دښاریانوپه ګډون د ایران ،پاکستان او ملګروملتو دسازمان سره داتشویش پیدا سو چي دطالبانو تر وتلو وروسته به څوک په دې ښار کي واکمن کیږي ،ځکه درباني دحکومت دپخوانیو ناوړه اعمالو په اساس نه دکابل خلکو او نه هم ملګرو ملتو غوښته چي شمالي ټلواله دې په کابل کي حاکمه سې . کله چي دطالبانو ماته یقیني سوه ملګرو ملتو ،امریکا او لوېدیځو هیوادو پرېکړه وکړه چي هیڅاته باید حق ورنکړه سې کابل ته پر خپل سر ننوزي.

دملګروملتو دسرمنشي ځانګړي استازي لخدر ابرهیمي او دهغه مرستیال فرانسیسوندرل لخواپه افغانستان کي دنوي حکومت درامنځته کولو په هکله پر پلان او طرحي جوړولو کار شروع سو . دبیلو ډلو ټپلو سیاسي او جهادي ګوندو او تنظیمو سره تماسونه ونیول سوه ، په دې جمله کې ددقبرس او روم جریانونه هم شامل وه . له بلې خواشمالي ټلوالي دموقع نه په ګټه پورته کولو سره ځانونه سره منظم او په شمال کي یې دامریکا تر هوایي بمباریو وروسته ولایتونه او کابل ته دننوتلو په هیله یو په بل پسې نیول . برهان الدین رباني چي دکابل تر تخت دلاسه ورکولو یې په تاجکستان ،ایران او روسیه کي شپې او ورځې تیرولې دنوامبر په 21 یې په تاجکستان کي دداکتر عبدالله سره دراتلونکي حکومت په هکله خبري وکړې . هغه دامریکا دهوایي حملو او شمالي ټلوالي ته دلاري دخلاصېدو په هکله معلومات ورکړ. په دغه وخت کي روسي یو ځل بیا په ګوته کړه چي دطالبانو تر سقوط وروسته باید استاد رباني دجمهوري ریاست واګي پلاس کي واخلې . دروسې ددغه وړاندیز نه تاجکستان،ازبکستان او ایران ملاتړ وکړ ،مګر پاکستان دروسې له دغه نظر سره خپل مخالفت وښود . له بي بي سي اومسکو راډیو څخه زما شخصي یاداښتونه . دپاکستان لپاره هم دا دقبول وړ نه وه ،یوځل بیا هغه کسانو ته ددولت واګې پلاس ورسې کوم چي ددوي په زور یې دافغانستان دورانۍ او افغان ولس دسر په قیمت چي دتلفاتو شمیر یې تر یو میلیون اوړې واک تر لاسه کړ، خوهغوي دقدرت دتر لاسه کولوسره سمدلاسه پاکستان ته شا وګرځول ، دروسې ،ایران او هندوستان سره یې دوستانه اړېکې ټینګې کړې . په امریکا کي هم جمهوریت غوښتونکواو دموکراتانو سناتورانودبوش له اداري نه غوښتنه کول چي شمالي ټلوالي ته اجازه ورنکړي تر څو کابل ته ننوزي ،دبرطانیې صدراعظم توني بلیر هم علاقه نه لرل چي دا بدنامه ډله یو ځل بیا دکابل دښا دفاتح په توګه دغه ښار ته داخله سې.

دملګروملتو استازی لخدر ابراهیمي دشمالي ټلوالي له مشرانو سره خبري وکړې او هغوي ته یې دنړېوالو دا تشویش چي نه باید کابل ښارته داخل سي څرګند کړ ،ولي حالات دومره ګډوډ وه چي دامریکا دلیونیو راکټونو او توغندیو په اورولو مصروفه وه ،یو شمیر هیوادو لکه المان ایټالیا او انګلستان په دې هکله کار کاوه چي ډېر ژر دافغانستان دبرخلیک دټاکلو لپاره غونډه جوړه سې . له بلې خواافغان ولس دوحشي بمباریو له امله هک پک پاته واو دخپلو نازولو په ویر سرګردانه او فرېشانه وه ، دا دقدرت لیوالو وخت غنیمت وباله پر خپل سر دنومبر په 13ورځ دماذدیګر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر شپږ بجو په هغه روسي پوځي لباس کې چي څو ورځي پخوا یې روسي چارواکو شمالي ټلوالی ته دګنډلو او ددوي په ا ختیار کي دورکولو خبر خپورکړی و)) 12000 ((وسله وال کسان دکابل په وینو لړلي او زخمي زخمي ښار ورننوتل او دکابل زورېدلو ښاریانو یو ځل بیا هغه مخان ولیدل کوم چي له لېدو نه یي نفرت درلود . په هغه لهظه چي دا ټلواله دکابل په ښار ورننوتل سمدستي فهیم ځان ددفاع ،یونس قانوني دکورنیو چارو او عبدالله دبهرنیو چارو وزیران اعلان کړه ،دمالي وزارت چاځکه وانه خیست هلته هر څه په ګډه چورسوې وه . ددغو مقامو دتر لاسه کولو پر سر یې دبن په کنفرانس کي هم دومره چنې ووهلي تر څو همدا مقامونه همدغو ښاغلو ته ورسېدل . برهان الدین رباني یو ځل بیا دکابل په ښارکي دمطبوعاتو او راډیو ګانو په وسیله خپل ږغ دارګ له مانۍ نه پورته کړ . فقط څلور ورځي وروسته تر هغه چي دا ښاغلې په کابل ور ننوتل دروسې دبهرنیو چارو وزیر سرګې ایوانف اعلان وکړ ، چي یو نفر پوځي او بل دسیاسي چاروجګپوړي کار پوهان کابل ته ولېږل سوه تر څو په کابل کي دهغه حکومت دچارواکو سره چي اوس پر وضعه مسلط دی او هغه په رسمیت پیژنو لیدنه کتنه وکړې او دخپل مینځي مناسباتو دټینګولو په هکله بحث کوي . روسي پدغه د تلوارې سیاسي حرکت کولو سره امریکا او نړېوال دیوه تر سره سوې عمل سره مخامخ کړه او داسي یې وښودل چې دحکومت درياست مسله ختمه ده ، هغه دی رباني پردولت مسلط دی اداره یې جوړه.

دشمالي ټلوالي کابل ته داخیلېدل ، او پر خپل سر حکومت جول داروپا او امریکایي چارواکو دخوابدۍ سبب وګرځېده،کابل ته دشمالي ټلوالي ورتګ دیوي شورا تر جوړېدو وروسته چي امریکا پلان درلود په نظر کي نیول سوې وه .درباني داسي خپل سری ته امریکا او انګلستان داسي ځواب ورکړ چي دبن تر کنفرانس وروسته یې هغه ته یوازي د ((X))پریزیدنت لقب ور پرېښود او بس.

ملګرو ملتو،امریکا،برتانیې ،جرمني ،فرانسې دافغانستان لپاره د راتلونکې حکومت دجوړېدو ،اساسي قانون ،دمؤقتي او عبوري ادادرې ددندو او نورواړینو مسایلو دڅېړلو په منظور دالمان په وړاندیزدهغه هیواد دبن په ښارکي ددوې دخوښي افغانانو په ګډون دیوې غونډې دجوړیدو لپاره ګامونه ګړندي کړه سوه.

دملګرو ملتو د سازمان دسرمنشي استازی لخدر ابراهیمي په ایتالیاکي دمحمدظاهر شاه ،دهغه دکورنۍ دغړو او هغه له سلاکارانو سره وکتل په خبرو کي موافقه وسوه چي دبن په کنفرانس کي به دپاچا استازي برخه اخلي . په دغه وخت کي چي دظاهر شاه سره دنړېوالو په ګډون دافغانانو لیدني کتني زیاتي شوې ،موږ په اروپاکي دیو شمیر فرهنګي ټولواستازې دتلیفون په مټ سره سلا شو چي یو هیئت دي دافغانستان دمسلېدعادلانه حل په هکله دپاچا سره دکتلو لپاره روم ته ولاړ سي . دفرهنګي ټولنو پلاوی روم ته ولاړ له پاچا او دهغه دکورنۍ دڅو غړو سره یي دافغانستان دراتلونکي سرنویشت دټاکلو ،افغان ولس دغوښتنو زموږ دوړاندېزونو او یو شمیر نورو دعلاقي وړ مسلو په هکله خبري وکړې ، دښاغلي زرین انځور په ویناډلومړې ځل لپاره همدغه پلاوي یو ټوک پښتو کتاب دپخواني پاچا کورنۍ ته ډالۍ کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان او له هیواد نه بهر ټولو افغانانو ددې لپاره تلاش کاوه چې دا ځل دبهرنیو هیوادو په مرسته او افغان رون اندو په مشوره او ګډون داسي یوه اداره جوړه سي تر څو افغانولس وکولاي سي خپل سرنویشت په خپله خوښه او دولس له ارادې سره ورته وټاکې . ددې کار لپاره زیاتورونې اندو افغانانو منډې تر ړي وکړې ،مګر له بده مرغه دتل پشان زموږ دهیواد دبرخلیک دټاکلو په هکله د هغو څخه چې دهیواد دودانېدو او ښېرازۍ سره یې علاقه لرل چا پوښتنه ونکړه، دافغانستان راتلونکۍ سیاسي سرنوشت یوځل بیا دابرقدرتولخوادافغانستان په راتلونکې اداره کي دغوښن ځاي دتر لاسه په خاطر د 2001د نومبر (27څخه دسمبر تر5) نیټې دالمان د بن د ښار د پترسبورګ دتاریخي هوټل دکنفرانسونو په تالار کې تر سختو امنیتي تدابیرو لاندي دګوتو په شمارځوهغو کسانو په ګډون چي دوي غوښتل دتړلو دروازو شاته په جوړسوې کنفرانس کې و ټاکل سو. دکنفرانس کار او ټول جوړښت او افغانې مشروعیت دهیوادزیات شمیر نظر خاندانو او سیاسي څېړونکو لخوا تر سوال لاندې ونیول سو،او زیاتي نیوکي پري وشوې چي دا سلسله تر اوسه اوډیره وخته به دوام ولري.

دا ځل بیا دافغان ولس ټولي هیلې په ناهیلو بدلې سوې ،همدا دپردیو لخوا دحکمتونو دجوړېدو پایله ده چې اوس هم دمیلیاردو ډالرو په رالېږلو سره افغانانو دآرامۍ ګوله نه ده په خوله کړې.

د دکنفرانس کارچې دافغانستان په چاروکې دملګرو ملتو د سازمان د عمومي منشي استازي لخدر ابراهیمي او ددغه سازمان دویاند ښاغلي فوزی په مشرۍ پر مخ بیول کېده دامریکا دولسمشر ځانګړی استازي ښاغلي خلیلزاد ، دامریکا او روسیې دبهرنیو چارو وزیرانو کولن پاول ،ایګور ایوانوف او شېرو همسایه هېوادونو دبهرنیو چارو وزیرانوچي د (6+2) هېوادو په نامه هم یادیږی ،المان ،برتانیې ، ایتالیې،هالند اوجاپان استازو دکتونکو په توګه حاضر وه .دافغاني لورې نه په غونډه کي دشمالي ټلوالي استازي زیات واو هغوي داحمدشاه مسعود یو لوي عکس هم دغونډې تالار ته له ځانه سره وروړی ؤ،لوستونکي خبر دې چي دهمدغه کال دسپتامبردمیاشتي په نهمه نیټه احمدشاه مسعود دخواجه بهاالدین په ولسوالۍ کي دناپېژندل سو کسانو لخوا ووژل سو . خو داچي د شمالي ټلوالې استازو له ځانه سره دهغه عکس تالارته راوړ ټول حیران سول چي دا دځه لپاره؟؟؟

دبن په کنفرانس کې دګډون لپاره دغو ډلو ته دامریکا له خوا بلنه ورکړه شوې وه.

-1د روم دسولې دجریان استازي 9 نفره.

-2د قبرس دسولې دجریان استازي 3 نفره.

-3د اسلامي متحدې جبهې استازي 11 نفره.

-4دپېښاور دسولی له جریان څخه 3 نفره.

-5دمشاورنو او څارونکو په توګه 44 نفره.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا باید جوته سي چي داړلې په هيځ صورت دافغان ولس داستازيتوب جوګه نه وي، ددوي دعوت دغه شان سرنويشت جوړونکې غونډې ته کاملا د بهرنيوهيوادونوداړيکو پر اساس تر سره شوي و . دا هغه اساسي جفاوه چي زموږ دهيواددبرخليک دټاکل په وخت کي په دې نامه چي وخت حساس دی ژربايد هر څه تر سره سي دافغان ولس سره وسوه .ددغي لويې تير وتني اويادځينو لخوا دقصدي او له دښمنيو څخه ډکي کړني دروند پېټی اوس دافغانانو ملا ماته کړېده.

دبن دکنفرانس ژبه فارسي وه ،اوهم دهغي غونډي ګډون کونکې کوم چې دافغانستان دراتلونکی په هکله يې پرېکړي کولې غوځ اکثريت دهيوادد لږه کيو قومواستازي وه،په ټوله دنيا کي دامعمول دی کله چې د يوهيواددسرنويشت او يانورو ورته سترومهلي مسلو په هکله بحث کيږي نو دهغه دډيرکيو سره تر هر چا زيات خبري کيږي او دهغوي ګډون دشمير په تله ضروري بريښي ،ځکه دهري پرېکړي په پلې کولو کې په طبعي ډول ډيره کې ډير رول او نقش لري ،مګر دلته دهغه دښمنيو له مخي چي دنړی يو شمير هيوادونه يې له پښتنو سره لري ونه غوښتل دغونډي اکثريت دپښتنواستازي او په کل کې روڼ اندي او اهل خبره خلک وې . دغه حالت چي له يوي خوا پښتانو استازې لږ او له بلې خوا دکنفرانس ژبه فارسي وه پر پښتنو استازو بد تاثير وکړ او هغوي له غونډې سره بايکاټ کولو په هڅه کې شول ، دتالار نه ووتل دغي مسلي ته تر هر چا زيات مرحوم حاجي عبدالقدير متوجه سو و ، هغه دملګرو ملتو داستازو سره دکنفرانس دژبي په هکله زيات جروبحث کړی وبلاخره هغه داحتجاج په توګه له غونډې دوتلو اعلان کړی و ،دهمدي ورځې دماذديګر پنځو بجو شاوخوا وه چي ماته له جرمني څخه ښاغلي زرين انځور چي موږ دنورو سره په ګډه دغونډې کار څاره تليفون وکړ او دا جريان يي راته ووايه ، ماته يي وويل چي دحاجي صاحب قدير سره ورغيږه او هغه پخپل نظر پوه کړه ،ماورته وويل چي زه دحاجي صاحب سره بلد نه يم زه به څنګه ورسره ورغيږم که ورسره بلديې ته خبري ورسره وکړه ، داسې پوه سوم چي انځور صاحب هم خبرې ورسره کړې ،ماته يې په ځواب کې وويل هغه تاپه غياب کي پيژنې دا((0049 171 549 1822 (( دده دموبيل نمبر دی ويې ليکه او ورسره خبري وکړه . ما سم دستي نمر وليکل او دمرحوم حاجي صاحب سره مي خبري وکړې په خبرو کې راته معلوم سوه چي وطن او افغانان ټول له يوه مخه په هر قوم اوهره ژبه چي خبري کوي پرګران دي هغه ماته په دغه غونډه کي ديوشمير استازو دسپين سترګيو او شرارت لنده قيصه وکړه ،تر کومه ځايه چي زه پوهېدم مااوهغه خبري سره وکړې او هغه ته مي وويل چي موږ دبن دکنفرانس دجوړېدو پلويان يو خو په دې شرط چي دکنفرانس دجوړېدو موخه په افغانستان کي داوسنی کشالي دسياسي عادلانه حل لاره لټول وي ،ولې که هدف دا ځل بيا له بن څخه پر افغانولس ديوې داسې پرېکړې او لاس پوځي اداري تپل وي چي افغانستان ته نوې بدمرغی‌په خپلو زړو او پيژندل سوو څېرو له ځانه سره راوړي ښه داده چي دا کنفرانس هيڅ داير نسې . په اخير کي مي ورته وويل موږ په غونډه کي دټولو هغوکسانو سرسخت پلويان يو کوم چي دوطن دعمومي مصالحو او ګټو دساتلوپه خاطر په کنفرانس کې خپل اواز پورته کوې ، تاسو ډاډه اوسی موږ هم حالات څارو،ستاسو له معقول او هغه ملي دريځ څخه چي په هغه کي دوطن او خلکو ګټې نغښتي وي په ټول قوت ملاتړ وکوو،په پام کې لروپه اروپا کي دافغاني روڼ اندو په ګډون پدغو نږدې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځوکښې په فرانکفورت کي غونډه جوړه سي تر څو هلته ټول افغانان دهیواد دراتلونکي په اړوند خپل نظر څرګند کړي . په همدغه ورځ ډېر ژر دهغه سره دبي بي سي راډیو مصاحبه جوړه سوه او هغه په مرکه کي ټولي خبري نړېوالو ته بربنډې څرګندي کړې ،له هغې ورځي دشمالي ټلوالي اومرحوم حاجي قدیر تر منځ مناسبات تاریک سول .دهغه تر مرګه ماهغه سره دهغي شپې په ګډون چي دده په وېناله تورخمه دوروستي ځل لپاره را اوښت دهمدغه موبیل تلیفون په وسیله څو ځله دمسایلو په هکله خبرې کړې اونظرونه موسره شریک کړي دي . اوس دي هغه خداي وبخښي او روح دې ښاد وي

غواړم یوه ټکي ته ایشاره وکړم ، ټولو فرهنګیانو او فرهنګپالو په افغانستان کې د تکنو کراتانو ،ملي اوسیاسې شخصیتونو او هغو چي کولاې یي سول هیوادته له جګړې په میراث راپاته بدمرغیو څخه نجات ورکړې په دولتي اداري کې دګډون غوښتونکي وه.

په جرمني کښې دفرهنګیانواو روڼ اندو لخوا دبن دکنفرانس ځاي ته نږدې درنده غونډه دایره سول دهیواد په راتلونکې اداره کي دتکنوکراتانو اونوروملي شخصیتونودګډون څخه ملاتړ او دجنګسالارو یو ځل بیا واک ته رسولو پر ضدشعار دغونډې اساسې موخه وه ،دبن دکنفرانس دتالار نه مصطفي ظاهر او پاچاخان ځدراړدغونډې برخه والوته راغلل او دهغوي دغوښتنو او وړاندیزونو تر اورېدووروسته یې هغوي ته وعده ورکړه چي دیو افغان په توګه به دوطن ملي ګتې په پام کي نیسې . دمخکنې پلان له مخې په اروپاکي دفرهنګیانو او فرهنګپالو په زیاردجرمني دفرانکفورت په ښارکي ددسمبر په لومړۍ ورځ دتر ((نهه سوه)) زیاتو روڼ اندو په ګډون چي دامریکا او ټولو اروپایې هیوادو دفرهنګي ټولنو استازو او نورو علاقمندانو برخه درلوده ستره غونډه جوړه سوه.

دیادولو وړ یې بولم چي ددغې درنې غونډې لګښت دځوانو وطنپالو نثار احمدشېریندل او خالد احمدداني په مالي مرسته برابره سوې وه ، غواړم ددوي دنومو نو په ذکر کولو سره وښیم چي ښه او دوطن لپاره چوپړ دهیچا نه هېرېږي .

دهمدغه کنفرانس د پرېکړو په اساس دغیري متجانسو او مختلفو نظریاتواو عقایدو لرونکو په ګډون چې اکثریت یې افغان ولس ته د قبول وړنه وه یوه اداره د (( موقتي اداري)) په نامه جوړه شوه او ښاغلۍ کرزۍ ددغي اداري دمشر په توګه وټاکل سو. دهمدغې مؤقتي اداري په وړاندې پس له هغه چې اوبه تر ورځ تېرې شوې و ې دومره ستري او دېرې مودې دندې په نښه شوې چې له هغه لمړۍ ورځې هر هوښیار او پوه سړۍ پدې پوره پوهېده چې دا اداره او دا دندې ډېرې سره لیرې دې . له بلې خوا ددغودرنو دندو سرته رسول هغه چاته سپارل شوي وه چې داټولې بدمرغۍ دغه ملک ته دهغوی لخوا ډالۍ سوي وې . په هر صورت دبن دپرېکړو په اساس دموقتي اداري په دوران کي یوه استراري لویه جرګه د(( 2002 دجون په 22)) نیټه جوړه سول . دجرګې پاله ښاغلې کرزې ته دعبورې اداري مسؤلیت په غاړه ورکول اودحکومت نوې وزیران ټاکل و. عبوري اداري هم همداشان هغه څه کول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دوي غوښتل . پدغه دوره کې دبن دکنفرانس دپرېکړو له مخي داساسي قانون لپاره کميسيون جوړ سو ،دمطبوعاتو او سياسي گوندونو قوانين دښاغلې کرزي دفرمان له مخي اعلان سول ، ددغه قوانينو اعلان ، دولسمشرۍ او ملي شورا ټاکنې پدا ځوکلو کي يوازنۍ لاسته راوړنې دې .په عبوري اداره کي جنگسالارو او تنظيم سالارو غوښن مقامونه تر لاسه کړه کوم چي دهمدي لپاره ئی شپه او ورځ تلاښ کاوه ، په دولتی ادارو کښی پوهو او لايقو کسانو ته گمارل يو ځل بيا هير شوه. پر دغو ټولو سر بيره يې دحکومت له نوۍ تشکيل سره ناخوښي ښکاره کول ،البته دليل يې داو چي دغو ښاغلو غوښتل هر څه پخپل واک کي ولري، په پښتو کی يو متل دی وايې :�کونډې هم ژاړی رنډې هم ژاړي ، هغه چی نن ئی راودکړي هغه په ناورين ژاړي� . دهمدوی په واکدارۍ کښي په لسهاوو زره وړ مسلکی او دپوهی خاوندافسران ،کارپوهان،معلمان، ملکی مامورين، انجينران ، ډاکټران نر اوښځې له کاره گوښه شول،هغوي دخپل اولاد لپاره ديوې گولې ډوډۍ دپيداکولو پخاطر دکابل نه تر پښاوره،ايران ،ډوبۍ او مسکو بازارونوته پلنډيتوب ، ورځنۍمزدورۍ او خټگرۍ په خاطر ورسول.

دعبوري ادارې ددندوپه اساس داساسی قانون دتصويب لپاره لويه جرگه راوغوښتل شوه ،داجرگه دتيرې جرگې په پرتله دقدرت پر سر دسياليو اوهيوادسره ددښمنۍ په کچه ډيره تاريخی وه . تر شلو ورځو زيات ئی د وام وکړ ، ځکه پدی جرگه کی زياتی چني ووهل شوي،پرخوله مهرونه ولگيدل،هر چا غوښته خپل واک ا وقوت دافغانانو او بهرنيانو ننداري ته وړاندی کړی، نړدي ۇ چی جرگه بيله کومی پريکړی پاي ته ورسيږي ، د بهرنيانو ئی کور ودان چی خپلولاس پوځو ته يی غاښونه و چيچل او هغوي ئی يو ډول جوړجاړي ته وهڅول ترڅوجرگه د يو پايلې په لرلو سره پاي ته ورسېږ ي ،هير بايد نشی چې په همدې جرگه کښی دافغان ولس دلوي اکثريت دروا او مسلمو حقو قو پر خلاف پريکړې وشوې او داسی اساسی قانون تصويب شو چي تر هيڅ ښه ولې دپلی کولو پايلی به ئی زيات نانډريز وې

په 2002زکال دجنوري د مياشتي په21نيټه دجاپان دتوکيو په ښارکي دمرسته کوونکو امريکايي،اروپايي هيوادو ،نړيوال بانک،داسيادپرمختيا بانک ،دملگرو ملتو وجهي صنوق،جاپان ،سعودي عرب ،روسې هند او ايران په داستازوپه گډون لويه غونډه جوړه سوه ، دنړۍ زياتو هيوادو دهر اړخيزو مرستو وعدې وکړې ،په مليارډو ډالر افغانستان ته راغلل . په 200زکال دمارچ په 31نيټه د پنځوسو هيوادو دبهرنيو چارو دوزيرانو او استازو په گډون په برلين کي دافغانستان سره دمرستو کولوپه خاطر بل کنفرانس داير سو ،پدغه کنفرانس کي کرزي د 28ميليارډ ډالرو مرستو دتر لاسه کولو وړانديز وکړ ، وروسته پرېکړه وسوه پر پخوانيو وعده سوو مرستو سربيره دي د افغانستان سره نور 8,2 ميليارډه ډالره مرسته وسې . خو متاسفانه افغانانو ته کوم څه پکښي وه نه رسېدل ،غټه گټه يي چي هره ورځ يې چارواکې يادوي دکندهار کابل سړک دی ، هغه هم پسله شپږمياشتوبيا جوړونې ته ضرورت پيداکړ ،او يادا چي ځيني چارواکي وايي موږ هر کلي ته نږدي ديرش زره ډالرو په ارزښت دبيا رغوني لپاره په مصرف رسلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



،ماته څه موده مخ کي يو افغان چي تازه له وطنه راغلی و قيصه کول ،ويل يې کله چي په راډيوکي دولتي چارواکي ولس ته دخدمت خبري شروع کړي پخوا به يې پرې خندل مگر اوس راډيو گوله وې ،موږ نه پوهېږو چي ددغو پروژو ثمره ولي سيلابونه يوسې ؟؟،او ولي په کال کې تر يو ميليارډ زيات دپلاستيکي شيانو درانيولو لپاره پاکستان گټه تر لسه کړي ، داچي ايران ، چين ، ډوبۍ او نور هيوادونه ته ځومره پيسي دهمدي تجملي شيانو درانيولو لپاره لېږل سوي که يې سرۍ حساب کړي پر بدن يې وريښتان جگ جگ دريږي . موږ هر څه لرو خو هيڅ نلرو او تر غوږوبه که خير و دهمدغو نا عقبت انديشو مسؤلينو دکار په برکت په بهرنيو پورونو کې ډوب سوا!!!

څرنگه چي دافغان ولس دبرخليک خبنته دبن په کنفرانس کي کړه اينبودل شوې ده ،دروڼ اندو او خواخوږو په عوض ټوپکمار او جنگسالارو ته دولتي واک پلاس ورکړه سو ،او پر قدرت باندي ددوي پاته کېدل دوام لرې نو هرومرو به تر څوچي داکسان او همداتنظيمونه وي په هيواد کي به دهر اوښتون دمانۍديوال کوږ وې . هغه دلوي شاعر شعر دی چي وايي : سنگ اول چون نهد معمارکج تا ثر ياميرود ديوار کج

دمطبوعاتو قانون تصويب د يوازنې نسبي مثبت اوښتون په توگه دهغو نيمگړتياو پر اساس چي لرې يې په عمل کی پلی کول ستونزمن شول، مثلادمطبوعاو آزادی يو وازی دا معنا نلرې چی په سلهاوو ورځپاڼی نشرات وکړی ،مختلفي تلويزيونی او راډيويې دستگاه وې فعاليت ولری، مهمه دا ده چی داخپرونی په هيواد کښی دآزادۍ، دموکراسۍ ،سولی او امنيت دټينگښت ،ځوان نسل دعلم او تخنيک په برياوخبرول اوافغان ولس يوپر مختللي متمدن او معقول ژوند ته هڅول وې . له بده مرغه اوس دغه دډله ايزي خبرونی وسيلې دحقايقو دانعکاس توان نه لري ،هغه کسان چه هغوي عملاً دافغان ولس دگټو پر خلاف کړني سرته رسوې ،رشوت خوري ،دخلکو پر ملکيتو تعرض کوې ،ملي شتمني لوټوې ،دتارياکو او هيروئېنو تجارت کوې په هيڅ ډول ځانته دهغوي دافشأ کولو جرات نسي ورکولاي . دوي دبنسټپالو جنگسالارو او تنظيم واکو،دپلانونو دپلي کولو ناوړه پايلې نسې برملا کولاي ، تر اوسه په هيوادکې څوک خپل نظر اوعقيده نسې څرگنده ولاي ،هر څه چي دچارواکو ،جنگسالارو او تنظيم واکانو خوښ نه وې تر سره کونکی يې سمدلاسه په کفر او داسلامې احکامو څخه په سر غړونه تورن کېږې . همدا اوس ددموکراسۍ څخه ددوي په گټه دتعبير په اسا س هر لهظه ليکوال،خبر لوڅ ،هنرمند، فرهنگيان اود خپلواک اند خاوندان تر جدي دتهديد او توهين لاندي شپي ورځې سباه کوي ، دهغوي خبرو او وړانديزو ته څوک غوږ نه نيسې او نه يې هغوي له ډاره اظهارولاي سې.

بلې په هيواد کي ولسمشر وټاکل سو ،دادی نن سباه دملي شورا دټاکنو پايلې چي دپيسو او درغليو و تهديد په زور دهمدغو دموکراسۍ او ملې گټوخلاف کسانوونډه به پکې زياته وي پداسي حل کې روښانه کيږې ،چي دافغانانوغوڅ اکثريت له ولسمشر نه خفه اوملي شوراته دټاکنو بهير په مختلفو بڼو دگټونکواوبايلونکولخوا دلاس وهنو او درغليوتر نيوکو لاندې دی . بيچاره او دربدره ولس اوس پوهيږې چي دوي به دکوم ډول پارلمان درلودونکي وې .په رښتيا سره هغه ارزوگاني چې ولس دبن دکنفرانس دپرېکړوله پلي کيدو څخه لرلې يو په بل پسې په ناهيلو بدلي سوې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبن دکنفرانس دپریکړوله مخي دعبوري ادادرې چي دپارلمان تر لومړۍ غونډي پورې يې معياد اوږد دی۔ اساسي دندي په افغانستان کې بيله قيداوشرط نه دوسلو ټولول ،دملي اردو،ملي پوليسو اوملي امنيت ادارو پر سمبالتيا سر ببره پدغو اداروکي دتشکيل له مخي دپوهو اومسلکي افسرانو ګمارل ،هغه چا ته چي لاسونه يې دافغانستان دبې ګناه خلکو په وينو سره او دعامي شت منۍ په لوټولو او ملي خيانت متهم وي له حکومت څخه شړل ،دښځي او ماشوم دحقوقو تظمين ،دکوکنارو دکرلو او هيروئينو دسوداګرۍ مخنيوۍ ، دبهرنيو مالي او مادي مرستوڅخه په استفادې سره دهيواد په ښارو او کليو کې دبيارغوني کار،دښوني او روزنې رواج ، دهلکانو او انجنو لپاره وښوونځۍ اوعالي تحصيلاتو مؤسسو ته دتګ امکانات برابرول،روغتيايې خدمتونه ،ديوې سالمې دولتې ادادرې جوړول ، کار دکار واهل ته سپارل ،په دولت کې دافغان ولس له ستوني څخه دپخواني قوماندان ،پاټکوال ،تنظيم سالار او جنګسالار لاسونه لنډول په ګوته شوی وه،له بده مرغه دايوه دنده هم چي افغانستان به يې له همدا اوسني حالت او بې امنيتيو څخه ژغورلې واي تر سره نه شوه.

ددواړو لويو جرګو جوړېدل اواساسي قانون تصويب دافغان ولس دګټو پر خلاف د مصلحتونو پر بنأ تر سره سول ،جنګسالار په نوي بڼه ،پاټکوال او محلي قومانداان په دولتي جامه ،ددموکراسۍ او متمدني ټولنې دجوړېدو،دښځې او ماشوم دروا حق ،دبيان او عقيدې دآزادۍ مخالفين دقضاوت کونکوپه توګه ،داړمارو او چپاول ګرو ددولتي کارپوهانو په نومونو پر دغه زورېدلي ولس دانږدې پنځه کاله حکمرانې کوي،او څوک يې مخه هم نسې نيولاي . دکوکنارو کرل ددولتي جګپوړو چارواکو دبربنډي او نيغي لاس لرنې اودهېروئينو دپټې دسوداګرۍ نه دګټي ترلاسه کولو په خاطر ددي پر ځاي چي کم سي ورځ په ورځ زياتيږي دنړۍ په سلو کې 87 ترياک زموږ په هيواد کې تو لېدېږي،افغانستان اوس دترياکو او هېروئينو دتوليد کونکو هيوادو له جملې څخه لومړنۍ هيواد دی چي په دومره پيمانه انسان وژونکی توکی توليدوې ،ددې ګټه په ميليارډوډالره ده مګر دا پيسې هيروئنوسوداګرهيواد ته نه راوړې دخپلو نازولو او يا له دي ډاره چي ممکن کومه ورځ ددغه کړېدلي ولس دصبر کاسه ډکه سې او ديو ملي پاڅون په نتېجه کي يې له هيواده ورک کړې په بهرنيو بانکو کښې ساتې . ځکه هم داښاغلي نه غواړي چي افغان ولس دي په نس موړ سي او يادي دلته زراعت ،صنعت او مالداري پياوړې سې . د افغانستان دخلکو بې وزلې ددوي په ګټه ده ، دنړيوالو دمعلوماتو پر اساس افغانستان دنړۍ د 187هيوادوله جملې څخه 173هيواد دی۔ .دادی دهېروئينو اوکوکنارودخرڅلاو او توليد له درکه افغانستان ته دزياتو پيسو برکت.

د2001زکال دسپتمبر ديولسمي نه بيا تر ننه پوري زموږ دولس تاريخي دښمن پاکستاني چارواکو له دغوناخوالو، نيمګړتياو اوددولتي چارواکو نه دافغانانو دخوابدۍ څخه پوره ګټه اخيستې تر اوسه په برى دالقاعدې دتروريستي سازمان ،په پاکستان کې دنورو بنسټپالو سازمانو دمشرانولکه مولانا فضل الرحمن پشان خلکو په مدرسو کي هغه کسان چي مغذونه يې مينځل سوي او فناتيک ځيني جوړ سوي وې د افغاني بنسټپالواو طالبانو په وسيله زموږ په وطن کي دبې امنيتۍيو او نا ارامۍ يو داور لمبي تازه ساتې . له 1972زکال نه راپه دې خوا دپاکستان آي آيس اې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پوځي استخباراتو په افغانستان کې دومره ريښې ځغلولې چي نور سل کاله به لاهر حکومت چي په افغانستان کې جوړېږي پاکستان به په هغه حکومت کې هرو مرو خپل کسان ولري . پدې بايد هر هغه څوک چي په رښتيا ځان افغان بولي پوره پوه وي چي پاکستان دتاريخ په اوږدو کې له هغه ورځي چي له انګليسي مور نه دهند په خاوره کي زيږيدلی دی د افغانستان او افغان په مقابل کښې يې دبيطرفی او دوستی د سياست پر ځاي زموږ په خاوره کي دبې شرمانه سياسي او وسلوالو لاس وهنو او دسيسودپلې کېدو څخه ندی سترګی شوی .په زياته خوښی سره يې ددوستی تر نامه لاندې دافغانستان دبربادی او ويرانی ننداره کړېده ، پر افغان وژنه ، ربړېدنه او ژړا يي خوند اخيستی.!

پاکستان تل ددوستی او اسلامي اخوت تر نامه لاندې خپل کرغيړن سياسي ،اقتصادي او فرهنګي دښمنانه پلانونه دافغان ولس پر خلاف متاسفانه دافغان په وسېله پلي کړي او دا لړی په زياته هوښياری همدا اوس هم روانه ده.

يو فلسفي اصل دي که دولت او حکومت ونسې کولاي دخپل رعايت يعني عام ولس غوښتنو ته مثبت ځواب ووايې ،ولس ناراز او خوابدی وې په هغه صورت کي هر مخالف ځواک په ډيره اسانی سره کولاي سې ولس دخپل دولت پر خلاف راوپاروې . پاکستان ددغه ټکي په پوهېدو سره دخپلو استخباراتې شبکوپه وسيله چي په افغانستانکې يې کمی نسته اوس دخپلو لاس پوڅو په وسيله دامريکا او امريکا پلوه دولت سره دجهاد په نامه افغانستان ته دترهګريواو وسله والو بريدونو دسرته رسولو لپاره را استوې ، دلته علاوه پر دغه چي امنيتي حالت يې له سخت ګواښ سره مخامخ کړی دی بې ګناه افغانان وژني . همسايه هيوادونه دهغه جملې په ځانګړې توګه ايران هم دخپلو سياسې مذهبي او ژبنيو اړيکو او هغو تنظيمو په وسيله چي په ايران کي دافغانستان لپاره جوړ سوي وه دخپلو سياسې او اقتصادې موخو ته درسېدو لپاره دوامداره مداخلي او لاس وهني تر سره کوې چي دعامو خلکو له نظره پټې نه دې پاته . ايرانې اخندان غواړې د امريکا سره خپله دښمنې دلته زموږ په هيواد کي دافغان معصوم انسان دژوند په قيمت تر سره کړې هر څومره چې امريکاپه افغانستان کي ښکيل پاته وي په هغه اندازه دايران په ګټه ده تر څو ايرانيانو ته وښې وګوری امريکا په افغانستان کې څه وکړه چي له ايران سره به يې وکړې په يوه خبره دافغان ولس په بدبختی کې ددغو اخوندانو داقتداردوره اوږدېږې.

کله چې دامريکا لخواطالبان اودالقاعدي سازمان وځپل سوپاته شونې يې له افغانستان څخه پداسي حال کې چي ټولو ليدل پاکستان ته وکوچېدل او ياپخپله په هيواد کې دڅه مودې لپاره غيرې فعال پاته سول ، هغه چې ولاړل هلته يې پسله څه مودې ځانونه دوباره منظم کړه او دپاکستاني استخباراتو لخوا ورته دپټېدوټاکلي ځايونه په ګوته سول . ماته دوه کاله پخوا يو افغان چي دپاکستا څخه راغلیوويل (( د طالبانوله کښته نه تر پورته ،عرب او نور ټول هغه چې په افغانستان کي دامريکا پر ضد جنګ ته راغلي وه ،کله چې يې ماته وخوړه پاکستان ته راغلل ټول دپاکستان په ښاروکي چکري وهې ،کورونه ، دفترونه لري او تبليغات کوي . بايد وويل سې چې دطالبانو اوالقاعدي جګپوړې همدا اوس هم ټول په پاکستان کې اوسې . د يولړزياتوبېلګوله مخې دا باور پيداکيږي چي پاکستاني چارواکې له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره درواغ وايې او دوه مخۍ سياست چلوي ،امريکا او نړيوالو ته وايې موږ ته پيسي او وسلي راکړۍ چي تروريستان په وځپو مگر دوي هغه پيسې او وسلې بيا تروريستانو ته ورکوې او افغانستان ته يې زموږ سره دډيورنډ دکرښې پر سر دتاريخي دښمنۍسرته رسولو لپاره رالېږي.

دپژواک دخبري اژانس سره جنرال بابر په يوه مرکه کښې دخپل رهبرضياألحق څخه په سر ټکولو سره چي گواکې تر دغه زيات يې بايد دافغانستان په کورنيو چارو کې مداخله کړې واي له پټو رازونو پرده داسي اوچتوې وايې : (( زموږ له ټولو مشرانو سر ښې اړيکې وې،،له استاد رباني سره مو هم د1973زکال څخه اړيکې درلودې،خو کله چي په 1992زکال مجاهدينو داستاد رباني په مشرۍ په کابل کې واک تر لاسه کړ ،نو له پاکستان سره يې اړيکې ښې نه وې چي لامل يې دپاکستان دپخوا نې ولسمشر ضيأ الحق ناکامه پاليسې او پلانونه وو،افغان مهاجرين يې په اوو تنظيمو ووېشل او په خپل سر يې له عربو او نورو مسلمانو هيوادو څخه دمرستو په راټولولو پيل وکړ ،بله داچې ضيأ الحق بايد دپروفيسر رباني په مشرۍ کې له افغانستان څخه بهر دافغانانو يو عبوري حکومت جوړ کړي واي،خو ضيأ الحق دا کار ونه کړ )). بلې جنرال بابر بايد خفه وې ځکه لومړۍ خو همدغو دتنظيمو رهبرانو ضيأ الحق ته دستر مجاهد خطاب کاوه او بابر يې هېر وو،دوهم دا چي بابر او هغوي چي بابر يې استازيتوب کاوه غوښتل کله چي استاد رباني دوي دکابل پر تخت کښېناوه هغه دډيرو پخوانيو اړيکو له مخې چي پاکستانيان په خبر لانه وه دروسانو پلوی حکومت جوړ کړ ، ضيأ الحق بايد يو ځل بيا لکه دمرحوم نجيب الله په وخت کې ، له افغانستان څخه بهر دتنظيمو درهبرانو څخه يو جلا وطنه حکومت جوړ کړی واي ،او هغوي يې په افغانستان کې واک ته رسولی واي ،چي بابرخيلو بيا دضيأ تر مرگ وروسته دا کار وکړ .اساسې خبره داده چي دپاکستان دداټولوهڅواو تلاښو محور دادی چې په افغانستان کې داسې ډله او يا تنظيم په حکومت کې واک ته ورسوې تر څو دهغوي په مټ دډيورنډ دکرښې په رسميت پېژندلو او برخليک ټاکلو مسلي ته دپاي ټکی کښېږدې.

يو امريکا يي پوځي چارواکی دآزادي اروپاله راډيو سره په مرکه کښي وايي : . . . پاکستان او دهغه امنيتي سازمان ( آي آيس آي ) اوس مستقيم دطالبانو پاته شوني ،دالقاعدي سازمان او گلبدين حکمتيار حمايه کوي . زموږ دراپورونو له مخي داډلي په پاکستان کي پټي سوی دي ،اوپه افغانستان کي دپاکستان په اشاره تخريبکارانه کړني کوې . ښاغلي کرزي د2002 دسپتامبر په مياشت کي پر پاکستان رسمي تور ولگاوه چي هغو گلبدين ته پناه ورکړې او همداډول دالقاعدې سازمان دپاکستان له خاوري دطالبانو په وسيله زموږ په جنوبي او جنوبي غربي سيمو کي دافغانستان او ائېتلاف دقواو پر خلاف وسله والي غلچکی حملې کوي.

دامريکا دپوځونو نطاق په همدغه کال اعلان وکړچي طالبان او دالقاعدي سازمان دبيا جوړوني په درشل کې دې او دحکمتيار سره يي يو ځاي دامريکا او افغانستان دحکومت پر خلاف جهاد اعلان کړی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې دافغانستان په کورنيو چارو کې دګاونډيو هيوادو لاس وهنې دطالبانو دله منځه وړلو په موده کې ډيرې زياتي سوې د2001زکال ددسامبر په مياشت کې دهمسايه هيوادو سره دنړيوالو نورمونو په فام کې لرل ، يودبل په کورنيو چاروکي دمداخلو او لاسوهنو دبنديدو په خاطر يو سند چې دکابل داعلاميي په نامه ياد سو دافګانستان او ګاونډيو هيوادوتر منځ لاسليک سو . مګر دزمان واقيعتو يو ځل بيا وښودل تر څو په بهرنيو پوري تړلي له واکه بې واکه نسي داسي او دافګانستان په اړوند دنه لاس وهنو موافقه دسوپر پاور امريکا او ملګرو ملتو دامنيت شورا تر مستقيمي څارنې لاندي نه وي دګاونډيانو،ليريي پرتو هيوادواو پاکستان مداخلې او لاس وهنې به دوام ولرې.

که له هغه نه وروسته چې په افغانستان کي دښاغلې کرزي په مشرۍ مؤقتي اداري په کار پيل وکړ او پاکستاني استخبارات وتوانېدل په خپله خاوره کي د طالبانو ، القاعدي سازمان او ګلبدين حکمتيار تر منځ اسلامي متحدي جبه جوړکړي . پاکستاني استخبارات او بنسټپاله مذهبي ځيني رهبران په دې نامه چې بهرنيانو افغانستان اشغال کړی او هلته اسلام ته توهين کېږي ، امريکا داسلام دښمن هيواد دی،په افغانستان کې امريکا پلوه کسان حکومت کوې ،دخپلو تر بيه سوو په وسيله په وسله والو حملو او بريدو پيل وکړ، تر اوسه په افغانستان کي يوه ورځ هم نه ده تېره سوې چې څو تروريستې حملې دې نه وي اجراسوې ،که دپنځوکالو ورځې وشميرو 1825ورځې کيږي که هره ورځ په اټکل توګه څلورنفره مړه سوي وې نو شمير يې (( 5900 ))تنو ته رسېږي دا په دې معني چې دپاکستان سره زموږ ګاونډيتوب افغانستان ته بيله جګړې داعلان څخه ددومره انسانانو دژوند په قيمت تمامېږي، دا چې نور به څومره افغانان په خپل وطن کښې ددې لعنتي کرښي دسرنويشت دټاکلو قربانيان سې تر اوسه څوک نه پوهېږې . وکرزي ته لاد مبارکۍ ويلو مراسم نه وه خلاص سوي چې د 2002ز کال دجنوري دمياشتي په څلورمه ورځ ګرديز ته نږدې پر افغانې او بهرنيو ځواکونو حمله وسوه چې په هغه کې پر افغان سربيره يو نفر امريکايې عسکر هم ووژل سو، دا لومړۍ امريکا يي عسکر و چې په افغانستان کي يې ژوند دلاسه ورکړ.

دهمدغه کال دفبروري په 25ورځ محمد خاتمې دکرزي نه دموقتي ادادري دمشر په توګه استقبال وکړ مګر تر دغه دولس ورځي مخکښي يعني دفبروري په 10 مه ورځ افغاني سر تېرو په شينډنډ کي دايراني ګارد جنرال داتو نفرو سرتيرو سره يو ځاي ونيول او امريکا يي ځواکونو ته يې وسپارل ،دهمدي مياشتي په 22نيټه دکابل ښار په غرب کې پر برتانيايي عسکرو حمله وسوه ، دفبروري په 19 نيټه په خلم کي دتر هګريز بريدپه نتيجه کې څلور افغانان او يو دمرستندويه ټولني کارمند ووژل سوه.

د2002زکال داپريل دمياشتي په پنځمه ورځ دکورنيو چارو وزارت او امنيت اداري لخوا160نفره دګلبدين دطرفدارانولخواددولت پر ضد دکودتا په نامه ونيول سوه.

پاکستان له يوې خوا دافغانستان سره ددوستۍ خبري کوي او ائيتلافي قواوته دروغجني وعدي ورکوې چې ګويا دوي دتروريزم او په اافغانستان کي دنااراميو دعاميلينو پر ضد مبارزه کي هر اړخيزه تلاښ کوي ،کله چې لومړۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل 2002زکال داپريل په درېيمه پرويز مشرف افغانستان ته ديوي لنډي کتني لپاره افغانستان ته راتلی ژورنالستانو ته ووېل : پاکستان به هيڅ وخت دافغانستان په چارو کي مداخله ونکړي .داپه داسي حال کي وايې چې دطالبانو يو مشهور قوماندان ملا جانان يو ژورنالست ته په خبرو کي ووېل ،اوس مونږ تر بل هر وخت منظم يو او تر(( (40زرو زيات کسان دتيارسی په حالت کي لرو که ضرورت سي هغه لهظه جنگ ته وردانگو ،دا کسان اوس افغانستان ته نږدې دپاکستان په غرونو کي اوسېږي ،مونږ له هغوي نه کوچنی ډلې افغانستان ته دعملياتو لپاره لېږو.

يو وازې په 2003زکال دجون په 29مه په ننگرهار،جولاي په دوهمه ، پنځمه او اتمه ومهمندو په سيمه ،دجولاي په 13مه دمهمنداجنسی ته نږدې ،داگست په 17مه چمن ته نږدې دافغانستان او پاکستان دسرحدې قواو تر منځ وسله والې نښتې ځکه وسوې چې هر ځل پاکستانيانو تيری کړی و. دسپتمبر 13نيټه ښاغلې کرزې په خپله يوه وينا کې دپاکستان او په پاکستان کې د مذهبې رهبران دطالبانو په حمايه او افغانستان ته

دهغوي په رالېږلو ترن کړه.

دافغانستان حکومت څو ځله ددطالبانو دمشرانو او قومندانانودنومو ليست پاکستاني چارو ته لېږلیدی خو هغوي دتل پشان غوږونه کاڼه اچولي دي ،يوازي که دامريکا او نړيوالو تر زيات سياسي فشار لاندي راسي بيانو هغه کسان چي نور يي دوي نه شي ساتلاي قرباني کوي او دنيولو اعلان يي کوي لکه لطيف الله حکيمي او نور ،دا په واقيعت کي هغه کسان دي چي نور دوي بايدپاکستان قرباني کړې . وايي (( درواغجن دي درواغ وايې او هوښيار دي قضاوت کوي)) ،دابه څوک ومني چي لطيف الله حاکيمي دورځې لس ځله دپاکستان له خاوري په غښ گمان له خپله دفتره چي دآيس آي اي کارمندانو ته ښه معلوم و په افغانستان کي به په هر برېداو تروريستې عمل خبرېده او دنړی ټولو خبري اژانسو ته يي په زياته دلاوری دطالبانو لخوا ددغو حملو دپړي پر غاړه اخيستلو خبر ورکاوه ،ولي پاکستاني استخباراتو تل ويل مونږ ته دهغه دپټېدو ځاي ندی معلوم او هگه په پاکستان کي نهاوسي،ددوي درواغ تل ښکرورونې هغه په پاکستان کې اوسېده ځکه يي هلته ونيوه .که هغه معلومات چي دطالب جگپوړو چارواکو او القاعدي دسازمان مربوطو کسانو دنيولوپه هکله خپاره سوې دي وڅېړو دا به څرگنده سي چي 85 په سلو کي دا کسان دپاکستان په خاوره او يا له پاکستان څخه افغانستان ته دراتگ په وخت کي نيول سوي دي ،د2005زکال دمی دمياشتې تر پنځمې نېټې پورې تر )) 700 ((زيات کسان چي دالقاعدې دسازمان سره يي تړاو درلود امريکا ته سپارلې دې ،ولي بيا هم له پرويزمشرفه نيولې تر ټولو پاکستاني جنرالو نو پورې په زياته سپين سترگی سره دنړيوالو په سترگو کي خاوري اچوي او څرگندوې چې طلبان ،القاعده او نور ترهگر په پاکستان کي نشته او نه به دلته ځاي ولرې . په افغانستان کي دامريکا سفير دبي بي سي سره په مرکه کښي واضح څرگنده کړه چي بن لادن او ملا عمر په افغانستان کې نسته ،هغه دپاکستان کې دې هغه ديوې تلويزيوني شبکې ((ژنو))سره دطالبانوديووتلې قوماندان ملا اختر عثماني سره مرکې ته گوته ونيول او څرگنده يې کړه څنگه ومنل سې چي يو خصوصې تلوېزيون کولای سي ديو قوماندان ادرس ولري مگر دپاکستان حکومت دهغوي داوسېدو له ځايو نه ځانونه بې خبره ښې . دروان کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددجولاې دمياشتي په شپږمه ورځ امريکادCIA دسازمان درئيس ((پورترگوس)) ديو خبري اژانس دسوال په ځواب کي ويلې يې وه امريکا ډير ښه پوهيږي چي اسامه بن لادن چيري پټ دی ولې دبل هيواد دحريم دمسلي په اساس دهغه محاکمه ستونزمنه ده . پرويز مشرف ABC دخبري شبکي سره په مرکه کښي وويل : ممکن بن لاد تر اوسه ژوندی وي ،که بن لادن په پاکستان کي هم ويې دبل هيواد مامورين دهغه دنيولو حق نه لري ،هغه ايضافه کړه زه فکر کوم هغه دافغانستان او پاکستان دسرحد په منځ سيمو کي اوسيږي . هغه ديوبل سوال په ځواب کي چي که پاکستان بن لادن پيدا کړي امريکا ته به يې وسپاري ،وويل هغه شرايط به گورو. خو هغه زياته کړه ارزو مي داده چي امريکا اسامه بن لادن په افغانستان کي ونيسي . جا لبي خبري تاسو قضاوت وکړی دا جنرال صاحب يو ځل په غرور وايي موږ به چاته اجازه ورنکړو چي زموږ په خاره کي پردي عمليات وکړي ،اوکه بن لادن موږ ونيسو پخپله به يي محاکمه کړو ،مگر کله چي دامريکا نوم مطرح سي بيا داجنرال دسرباز مقام ته راټيټ سي او وايي هغه ساعت او مصلحت . خو ددې لپاره چي بن لادن او مذهبي بنسټپالي له پرويز مشرف نه مخ وانه ړوي او دهغه سره مخالفت ونه کړي وروسته وايې ،داچي امريکا او لندن يانور پاکستان دترورستانو په ساتلو او حمايه کولو تورن کوي دا غلطه خبره ده ،هغه وويل د ادتروريزم څخه حمايت نه ده دپاکستان خلک دامريکا دسياست مخالف دي او اسامه بن لادن هغه کس بولي چي دامريکا پر ضد مبارزه کوي . دا هغه رښتياوه چي پرويز مشرف دبنسټپالو دخوشحاله کولو لپاره وويل او هم يې امريکاته دا وښودل چي زه داسي ستاسو مخالف ولس اداره کوم کنه نو ټول ستاسو دسياست مخالفت کوي . ولي داچي پاکستانيان دامريکا دکوم سياست مخالف دي دا ښاغلی هغه نه رسواکوي ،نو ځکه افغانان وايې دامريکا او يابل هيواد ددوي په وينا دغلط سياست قرباني ولې افغان ولس سې؟د پاکستان حکومت ولې تر هگروته اجازه ورکړي چي زموږ په خاوره کي دامريکا سره دښمني تر سره کړې؟ بلې که رښتياهم بن لادن لومړی درجه تروريست دی او امريکا پسي گرځي بيانو ولي پسله هغه چي داستخباراتي معلوماتو دشريکولو او گډو عملياتو پروتوکول يي له پاکستان سره لاسليک کړی دی امريکا يي پوځيانو ته اجازه نسته چي بن لادن په پاکستان کي ولټوي ؟داپه دي مفهوم ده چي پاکستان نه غواړې ټولي هغه افراطي او تروريستي زالي چي دا ديرشکاله يي جوړي کړي نړيوالواو امريکا ته رسوا او ددوي نوکران يو په بل پسي ونيول سي . دا هم جالبه ده چي امريکايان په دبن لادن او نوروتروريستانو پسي دگرځېدو او نيولو په ډنډوروډنړيوالو غوږونه کاڼه کړه اودلته پرويز نشرف وايي هر څه زه په خپله کوم او بل چاته حق نسته . دامعلومه ده چي دطالبانو او القاعدي دسازمان په برکت به پاکستان نړيوال لوشې او ډالر به تري تر لاسه کوي ، په افغانستان کي به خپل تاريخي کرغېړن هدف يعني دډيورندپرکرښې باندي خپله خېته اچوي ،او پدې بهانه چي دترهگرو مخه ونيول سی پر په اصطلاح سرحدباندي داغزيو لرونکې ديوال دغزولو حق په جانبه وړانديز هغه هم دملگروملتو دسازمان په شپېتمه غونډه کي دامريکا دبهرنيو چارود وزيري ته ،جالبه لانجه له افغانانو سره ولي دحل وړانديز يي بهرنيانو ته ؟؟؟ . همدلته پوښتنه کېږي .ښاغلی پر ويزمشرف دادومره پوځايان ،دپاکستان اتباع ،او په پاکستاني مدرسوکي روزل شوي کسان چي په افغانستان کي نيول سوې دي له کومه شوه ؟ له اسمانه راکښته سول ؟دا په ميرام شاه کي دمنبع العلوم او حقانيه مدرسې چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي جلا الدين پورې اړه لري څوک او دڅه لپاره روزي ؟ ایا ستاسو استخبارات ددغو مدرسو په موجودیت نه دې خبر؟هرومرو خبر دی . هغوي چې ستاسود استخباراتو او هغو افراطیونو چې ستاسو دنیغ ملاتړ نه برخمن دی ، غواړي ستاسو له دولتي امکاناتو څخه په استفادې سره ځانونه داسلام ټیکداران وښیي او پر موږ دځپلې خوښې حکومت تپې دا څوک دی ؟ داچي کله دامریکا الوتکي دکرښي پر غاړه دتروریستانو په ځپلو پسي عملیات شروع کړې او یا ستاسو پوځ چې دبهرنیو دفشار له مخي ګویا دالقاعدې او طالب چارواکو پر ضد عملیات شروع کړي د I.S.Iالمبر پلیټ لرونکو موټروکي تاسو څوک بل دامن ځاي ته رسوی ؟ او ستاسو په دغو موټروکي اياطالب او دالقاعدې کسان چکرې نه وهې؟ دغه وسلې له کلاشینکوف نه نیولې تر راکټه دهشکې ،هوان،لاسي بمونه ماینونه ،موټر سایکلونه او نور وسایل دوي له کومه کړه . زه پوځې نه یم ولي دومره پوهېږم تر څو چې یو قوت ته وسله په دوامداره توګه ونه رسېږي هغه جنګ نسي کولاي ، داوسله ودي له کومه پیدا کوې ؟ په 1382زکال ستاسو اجنټانو او استخباراتي کارمندانو بریکوټ،ناري،اسمار ،وانګام،مروری، سرکانو،دخاص کنړ ولسوالۍ ،یعقوبیو،لعل پورې په سیمو کي څه کول ؟او دخلکو سره مو په څه خاطر پټې او ښکاره لیدنې کتني کولې ؟ او دڅه شي وعدې مودڅه په مقابل کي روکولې ؟ زه هغه ننګرهارته ځیرمه سیمو، یا کنړ او خوست کي ستاسو دوسله والو پوځې تیریو پوښتنه نه کوم !!! چي دکوم حق له مخي تاسو زموږ پر پاکه خاوره تېرۍ کړۍ و؟ او زموږ په هیواد کي مو زموږ دوسلوال پوځ سره جګړه کول هغه دڅه پر سر جګړه وه ؟ او څوک ملامت و؟ داچي مولانا فضل الرحمان وایې : لکه څرنګه امریکاپه عراق کي ونسول کولاي امنیت راولې همداسي په افغانستان کي هم حالات ښه نه دې . دا او دحافظ حسین احمد ویناوي دبل هیواد په کورنیو چارو کي مداخله نه بولۍ ؟ دا اوپه سلهاو نوري پوښتني دې چې ځواب یې یوازې پرویز مشرف ، دهغه پوځ او استخباراتي لعنتي اداره ویلاي سي . دهیڅ منطق له مخي دیو هیواد عادې خلک په بل هیواد کي نه اسلام ګټې او نه هم دچاپه دفاع کي دربېږي.

پاکستان غواړ ي افغاني چارواکو او دهغوي بهرني مرستندویه هیوادو ته څرګنده کړي چې دوي بيله پاکستان دمرستي څخه نشي کولاي په افغانستان کي امنیت ټینګ کړي . کله چي سږکال په افغانستان کې دبن دتوافقاتو په اساس انتقالي ادارې ته دورکړه سوو دندو له جملې نه دوروستۍ دندې په توګه دملې شورااو ولایتي شوراګانو لپاره دټاکنو ځانګړې جرګه ګۍ ته دولسمشر کرزي لخوادفرمان په اساس دنده وسپارل سوه ،اودټاکنو کمېسیون په کار پیل وکړ ، پاکستان هم سمدستي دطالبانو په وسیله دملې شورا او ولایتي شوراګانو پر خلاف دتبلیغاتي کمپاین په څنګ کي داورپکو په وسیله دهیواد په یوه او بل ځاي کي تروریستي بریدونه او ترهګرۍ ته زور ورکړ.

## پنځمه برخه

دملې شورا دټاکنوپه درشل کې دپاکستانې لاس وهنو پراختیا:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې ورستيو کې چې افغانان ملې شوراګانو او ولايتي شوراګانو ته دوکيلانو دټاکلو لپاره په اماده ګۍ مصروف وه تر هر وخت زيات دطالبانو او القاعدې دسازمان دسله والو حملو لمن پراخه سوه ،دافغانستان په مختلفو سيمو کې دټولټاکنو دکميسيون غړي، ملې شورا او ولايتي شورا کانديدان دبريد له ګواښ سره مخامخ سول . له بدمرغه يوشمير کانديدانو او دکميسيون غړو دهمدغو ترورېستي بريدو په پايله کې ژوند دلاسه ورکړ . همدا شان په کندهار ،خوست ،هلمند او نوروځايو کې يو شمير دولت پلوه عالمان دووژلوپړه طالبانو پرغاړه واخيستل . دغه بې ثباته حالت دافغانستان او پاکستاني چارواکو تر منځ مناسبات خړ پړ کړه، افغانستان دټولو نړېوالو امکاناتو څخه په استفادې سره پر پاکستان فشار وارد کړ تر څو دافغانستان په چاروکي دلاس وهنو او ورپکودرالېږلو نه منصرف شې . حامد کرزي لندن ته تر تګ دمخه خبرنګارانوته په ډاګه وويل : په افغانستان کې امنيتې بې ثباتې دګاونډيانو دلاس وهنو پايله ده . دروان کال دسپتمبر په مياشت کې يې يو حَل بيا اعلان وکړچې امريکا او نور هيوادونه دې دترورېزم پر ضد مبارزې پر ميتود او شکل نوئ نظر وکړي .هغه وړاندې علاوه کړه بايد عمده او اساسي پاملرنه هغو سرچينو ته وسې کوم چې هلته ترهګر رزل کيږې او له هغونه الهام اخلې . ټول څېړونکې پدې نظر دې چې دکرزي هدف په پاکستان کې دهغوې روزنتونونه او دمذهبي افراطينو مدرسې وې . دااول وار وو چې کرزی دافغان ولس دفشار په نتيجه کې مجبور سو امريکا او نوروا ړونده هيوادوته ووايې چې دوی دترورېزم سره دجګړې لار غلطه کړې ده . دبن دتوافقاتو راپدې خوا دلومړي حَل لپاره دافغانستان او پاکستان تر منځ په څو هفتو کي يو دبل پرخلاف ويناوي وسوې د امريکا ولسمشر مجبور سو دوځله يې دتليفون په مټ ددوي تر منځ دپخلايني په خاطر ددواړو مشرانو سره خبرې وکړې.

سره له دې چې پاکستان په خپله خاوره کې دطالبانو دمنظم پوځې ځواک ، سياسي جوړښت او القاعدې سازمان ته دپراخ تر هګريزفعاليت دامکاناتوپه واک کښې ورکولو څخه سترګې پټوې او دهغوی موجوديت په خله خاوره کې نه مني ، په سلهاو داسې انکار نه منونکي شواهد سته چې دپاکستان دبر بنډې لاس وهنې او بې شرمانه مداخلو څرګندويه دې ، دبيلګې په توګه دامنيتي اداروله خوادافغانستان په مختلفو ښاروکښې دترورېستي بريدونو دسرته رسولو په وخت کې او يا دا چې په وسلو سمبال افغانستان ته راځي ډېر کسان چې دبهرنيو هيوادو او پاکستان اتباع دې نيول سوي دي ،دا نيول سوې څوک دي ؟

په پاکستان کې د1980زکال راپدې خوا دپاکستاني بنسټپالو او مذهبي افراطيونو په وسېله دآې ايس آي ، CIA،او سعودي عربستان په وسيله لومړۍ دشوروي پر خلاف جګړه کې دفانتيکانو دروزلو لپاره يو په بل پسې مدرسې جوړېدل شروع سول چې شمير د ))2000((زکال تر اخير پورې)) 6761 (( مدرسو ته رسېده او د سپتمبر ديولسمې تر حادثې وروسرته يې شمير تر(( لسو زرو)) اوړې . ددغو مدرسو له جملې نه په د ريو زرو ( 3000 (مدرسو کښې دافغانستان لپاره تنکي ځوانان روزل کيږې او افغانستان ته دترهګرۍ لپاره رالېږل کېږي ،او ډېر يې هغه دې چيپه افغانستان کې دشورويانو دموجوديت په وخت کې دشورويانو او شوروې پلوه رژيم سره دې ګړې او ترهګريزو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بريدونو لپاره روزل سوي وه ،اوس داددوي په لاس تر بيه سوي ددوي لپاره ستونزې جوړوي ،جالبه ده څو مياشتي دمخه دپاکستان صدراعظم شوکت عزيز دسل ميليونه ډالرې مرستي سره کابل ته راغلی او په کابل کښې يې دلر اوبر افغانانو سره دخورا ژوري خواخوږی خبري کولې ،مګر دا ښاغلی لاتر جنرال مشرفه نه ورسېدلی چي دکورنو چارو وزير افتاب شير پاو او استخباراتو يې دوې پښي په يوه موزه کې کړي او افغانان يي دکچه آبادی له مشهور پنډغالي اونوروځايوڅخه چي هلته داديرش کاله اوسېدل وتلومجبورکړ ه،او اعلان يي وکړ چي په افغانستان کې امريکا او اروپايي هيوادوپوځيانوامنيت راوستلی خپل هيواد ته ولاړ سی . دغو تور مخو او افغان دښمنو دا تبليغ ددي لپاره نه کاوه او نه يې هم اوس کوي چي دوي غواړي افغانان په آرام زړه خپل هيواد ته ستنېدو لپاره وهڅوې ،بلکه موخه يي داده چي د افغان په وسيله د افغاني جګپوړي چارواکو خبري رد کړي او ووايي کوم امنيت ؟ او چيرې امنيت سته ؟يعني دافغان په وسيله پر دولت فشار راوست چي دهغوي تبليغات دروغ ښکاره کړي . پاکستان تل افغاني چارواکو او امريکايانو ته داښکاره کړې ده چي نسي کولاي بيله پاکستان له همکاری اومرستې نه په افغانستان کې امنيت تأمين کړي . زه هم په دې عقيده نه يم چې په افغانستان کې امنيت سته ولې هغه دپاکستان دوسله والو لاس وهنو تر څنګ نورلاملونه هم لري . دمثال په توګه ددولتي ټولو ارګانو غير مسولانه برخورد،دجنګسالارو پر واک پاته کيدل، په محلاتو کي دقومندانانو له خواپر غريبو خلکو ظلم او دهغوي زورول،ددولت لخوا دورکړه سوووعدونه پلي کول ،په دولتي اداروکې رشوت،فساد،اختلاص اونور!.........

سوال دادی که په مدرسو کي ترهګر نه روزل کيږي بيانو ولي کله چي دانګلستان صدراعظم پرويزمشرف ته غاښونه وچيچل که څه هم مشرف د ABC دخبري اژانس سره په مرکه کښي يواکې وکړ اوڅرګنده يي کړه چي هيڅ مدرک نسته هغه ترهګر چي په لندن کي يي عمليات کړيې وه پاکستاني اوسې ، لندن يې په دي تورن کړچي هغوي څه کړي دي ؟ خپل امنيت دي پخپله ونيسي . دا تر ټولو جالبه وه . ددې لپاره چي پاکستان ځان بې ګناه وښې دپاکستان دکورنيو چارو وزير آفتاب احمد خان شيرپاوخبريالانو ته وويل چي موږ لاډير پخوا په لندن کي دترهګری دپېښېدو خبر ورکړی و. يعني دوي خبر وه چي داسي کارکېږي ولي چي څوک يي تر سره کوي نه پوهېدل . دتونيبلير تر غاښ چيچنې وروسته پرويز مشرف داستخباراتو او پوليسو دچارواکو سره غونډه وکړه ، هغوي ديوې هفتي په جريان کي دالقاعدې دسازمان سره په تړاو کي 150نفره دمسجدو خطيبان ونيول .درنو لوستونکو دا ددې ښکارندوي ده چي دپاکستان له مدرسو نيولې دجوماتو ټول ملايان يي هم دتروريستانو سره تړاولري کنه نو انګلستان وايي دتروريستانو مخه ونيسی ، پاکستان سمدستي ملايان بنديانوې ، اويادمدرسو دکنترول امر صادر کړي . پسله ډير بهرني فشارنه دران کال دسپتمبر په 29 مه ورځ دپاکستان ولسمشر دديني دمدرسو څخه دنړدې00 14بهرنيوطالبانو دايستلو امر ورکړ ،مګر واضح يي نه ويل دکوم هيواد طالبان ؟ خوا دايې په جرات اعلان کړه چي دافغانستان اتباع طالبان نه باسي ځکه هلته هيڅ نسته او امنيت ويجاړدې . که له پنډغالو کډوال باسې چې په هغو کې ښځې ،ماشومان ،سپينږرې او سپين سرې شته ،او په هيواد کي داوسېدو ځاي نه لري په هغه صورت کې لکه مخ کې چي مې وويل خيريت دی ،بايد له پاکستان څخه ووزې ، ولې افغان طالب دي ځکه نه ځې که هغوي ولاړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي ترهګرې به څوک زده کړي ؟ حقيقت دادی چي دبهرنيانو شمير په دغو مدرسو کې تر دغه ډير زيات دی ،دپاکستان په لسزره شاوخوا مدرسو کي د(( 26 (( هيوادونو ځوانان ګويا په مذهبي ولې په واقعيت کې (دانسان وژنې او دهشت اچوني ) لپاره په روزنه مصروف دې.

دپاکستان مشهور ليکوال احمد رشيد په خپله يوه مقاله کي چي سږ کال دجولاي په مياشت کې دبي بي سي دانترنيت پاڼي لخوا خپره سوه دطالبانو دفعاليتونو په رابطه واضح لېکې :(( . . . دک چينی دامريکادولسمشر مرستيال او پورتر ګوس دامريکا داستخباراتو دسازمان رئيس ويلې دي چي دوي دبن لادن دپټ تيادځاي په هکله اطلاعات لري اوښه پوهېږي چي هغه په افغانستان کي نه دی . داليکوال وړاندي ليکې پسله هغه چي په 2001 ز کال طالبانو شکست وخوړ ټول پاکستان ته ستانه شول هغوي ته پاکستان کي ځاي ورکړه سو او دهغوي څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي . مګرپرويز مشرف په دې عقيده دی چي داکار دپاکستان دوسله والو قواو په ګټه دی ،ځکه پدې پو هېږي چي دپاکستان ائتلاف دامريکا سره دتروريزم درينبو تر ايستلو ممکن دوام وکړي)).

که زه دپاکستان ټولې مداخلي دلته وليکم کتابو نه به ځينې جوړسي لنډه يادونه مي ځکه وکړه چي دټولو پاکستاني بي شرمانه لاس وهنو اومداخلولومړی موخه د افغان ولس په اور کې کړول او دوهم په افغانانوددیورنډ دکرښې منل دې . ددوي سياست دافغانستان په اړوند ديو نړيوال نورم سره هم برابر نه دی ، يوځل وايې موږ په افغانستان کي مداخله نه کوو او نه به چاته اجازه ورکړو دبلي خوا په زياته بېشرمې په همدا خوله وايي :افغانستان دي پر خپل سرحدکتاره جوړه کړي چي څوک ورنسي،پاکستان نسي کولاي دهغومسوليت پر غاړه واخلي چي په غير قانوني عملياتو کي برخه اخلې . ددوي دولتي چارواکې برعلا وايي موږ په افغانستان کي دناارامیو مسوليت ځکه نلروچي کرزي ونسوه کولاي خلک راضي وساتې ځکه يي طالبانو ته مخه کړېده . بلې متاسفانه کرزې ونه شول کولاي افغان ولس ته څرنګه چې لازم وه خدمت وکړي ځکه افغانان اوس له هرڅه نه نااميده دې ،مګر يو همسايه هيوادته چې ددوستۍ او همدردی خبرې کوې نه بايد افغان ولس دکورنې ناورين او ناخوالو څخه دخپلو سياسي او اقتصادې ګټودترلاسه کولو په منظور ظالمانه استفاده وکړي . پرويز مشرف پدي ورستيو کښې وايي ممکن پسله لس کالو په ډير زحمت په افغانستان کې سوله راسې ،نه پوهېږم چي ولي پرويز مشرف په افغانستان کي دسولي راتګ امکانات پس له لس کالهويني ؟ ممکن پدغه لس کاله کي پاکستان دالقاعدي ،طالبانو اوامريکايانو په اړوند نور نوي پلانونه ولر ي ؟ او لکه امريکا په سيمه کي پاکستان هم په دغه موده کي خپل هغه پټ پلانونه چي تر اوسه چاته نه دي معلوم پلې کړي او خپلې موخې ته ورسېږي ؟ يا غواړي تر هګر لس کاله نور وروزي ؟افغانستان او نړۍ ته يي وليږي تر څو پاکستان وکولاي سې دنړۍ دسوپر پاوراو نورو اروپايې هيوادوڅخه په ميليارډوډالر دتروريزم سره د مبارزې په نامه تر لاسه کړي.

پاکستان غواړي تر څو دنړيوالو په مرسته وکولاي سي پر افغانستان دا ومني چي سرحد بايد وتړل سي .زه دسرحد دتړلو مخالف نه يم ،سوال دادی چي دافغانستان او پاکستان تر منځ دسرحدمسله لومړی بايد حل سي او بيا يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دترلوپر سر خبره وسي . پوښتنه پيدا کيږي کله چي طالبانو په افغانستان کي حاکميت درلود،هلته دپاکستاني جنرالانو نه نيولي بيا تر عربو او عجمو نابلل سووټولو ميلمنو زمونږ په هيواد کي دطالب په نامه خپل شوم او کرغېړل اهداف پر مخ بيول هلته ولي په دغو سيمو کي چي اوس جګړه روانه او هره ورځ افغانان وژل کېږي ، ارامي وه ؟ ځواب به يي دا وي چي هلته پاکستاني جنرالانو نه غوښتل چي دطالبانودحاکميت په سيمه کښې دې وضعه بې ثباته او نا ارامه وي ،په همدې خاتر داسي امنيت ټينګ و چي چاپې تصور هم نه کاوه.

په يوه ټکي بايدامريکا ،اروپا ،عربي شيخان ،داسلام ټېکداران ، پاکستاني بنسټپالي ،دپاکستان دآي آس اي ټول له يوه مخه بايدپدې ښه پوه وي چي لوي خو پرېږده آن يو افغان ماشوم هم په دې پوهېږي چي ددغو ټولو ناارامیو ،ورانيو ،انسان وژنو ،مسجدو ورانه ولو، عالمانو وژلو يوازنۍ عاميلين پاکستاني چارواکي او دپردې شاته دهغوي ملاتړ کوونکی دي . هرهغه څوک چي وجدان ولري په دې پوهېږي چي ددغو ټولو ټګيو برګيو او دوه مخي سياست ،او نړۍ وال غولونې ټاکلې موخه داده چي پاکستان غواړي په خپل بغل کي يو غلام افغانستان چي هلته يوګوډاګۍ حکومت چي هر څه دکرنيلانو په اشاره سرته ورسوي غوښتونکی دی . پاکستان يو غښتلۍ پر ملي بنسټونو او دملي ملاتړ خاوند حکومت اوپرمختللی افغانستان چي دهرې درغلۍ دمخنيوې جوګه وي هيڅ وخت نسی منلاي .دخپلو خبرو دپخلي لپاره به يوازې يو مثال راوړم : دروان کال داګست په نهمه ورځ دشپې بې بې سي راډيو اعلان وکړ چي افغان دولت دمولانا فضل الرحمن خبرو په کله غبرګون ښودلی . مولانافضل الرحمن دپاکستان په پارلمان کي داپوزيسيون مشر او دجميعت العلماي اسلام رهبردافغاني بنسټپالومظبوط ملاترۍ ؤ نه پوهېږم چي پر څه يې دحاکمو چارواکو څخه خوا بده شوې وه دپاکستان له مداخلو نه پرده پورته کړه اودپاکستان په حکومت يې تورولګاوه چي دپاکستان له خورې نه افغانستان ته داورپکوداستولو په تړاوهم امريکا ،هم لويديځ او هم پاکستان خپل ولس تيرباسي . مولانا په څرګندونو کي وويل اورپکي له وزيرستان څخه دزده کړو لپاره په ((منسهره)) کي پوځي کمپونوته ځي او پسله هغه افغانستان ته استول کېږي . مولاناپه دغو کارونو کې دپاکستان دلاس لرونکو کسانو او دا ډول افغانستان ته داستول کېدونکو کسانو دنومونو دډاګيز کولو ږغ هم وکړ . دا څرګندوني پداس وخت کي وسوې چي له يوې خوا افغان چارواکي په دې ورستيو کي دپاکستان څخه داورپکو پر راتګ نيوه کې کوي اوله بله پلوه امريکا هم ظاهرا په دغه جګړه کې پاکستان او دپاکستان ولسمشر خپل ملاترۍ بولي . دمولانا داڅرګندونې دژورناليستانو دعلاقي وړ وګرځېدې دهغه جملې دافغانستان ديوشخصي تلوېزيون ژورناليستانو وغوښتل دموضوع دسپيناوي لپاره له دمولانا سره مرکه وکړې ،دوعدې سره سم هغوي پاکستان ته ولاړل اد دمولانا دکور په دروازه کې تر زيات انتظار وروسته دکوره يوعسکر راووت او هغوي ته وويل مولانا وخت نه لري ستاسو سره مصاحبه وکړي مخته موښه ،له دغه نه داسې څرګنديږي چي مولاناته دهغه تر څرګنده ولو وروسته ددولت لخوا اخطار ورکړه سوې او هغه يې دژورناليستانو سره دليدو کتو نه منع کړی دی ، تر څو دا ډاګيزه نشي چې پاکستان نه يوازې دافغانستان پر خلاف بلکه دمنطقې او نړيوال تروريزم مرکز دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حال پاکستان دامریکا ولسمشر او کرزي ته دهمکارۍ وعده ورکوې ،کله کله چي افغانستان ته راشي او یا کرزی پاکستان ته سفرو کړی ددواړو هیوادو تر منځ ځیني دګډې همکارۍ او مرستو پروتوکولونه هم لاسلیک کېږې . خو زموږ په هیواد کې لاسوهنه او لمسونه په هیڅ ډول پاي ته نه ده رسېدلې،دروان کال دسرطان دمیاشتي په پنځمه نیټه دپاکستان داطلاعاتو اوکلتور وزیرشیخ رشید احمد دسرحد ایالت دبنو په ښارکې یوې غونډې ته وویلي وو: (( پښتانه په افغانستان کې اکثریت لرې خو بیا هم دوي سره ښه چلند نه کېږي او نه ورته دشمیراو اهلیت سره سمه موقع ورکول کېږي .)) پژواک خبري اژانس 2005.06.28 ، اوس تاسو قضاوت وکړۍ دغه شان څرګندونې که زموږ په هیواد کي دپښتنو پارونه او لاس وهنه نه ده نو څه ده ؟ کوم وخت دافغانستان دولتې چارواکې ویلې دي چي په پاکستان کي پنجاپیان دیوکوچنی اقلیت په توګه بیله استحقاقه په ټول پاکستان حکمراني کوې . په دا ))58 ((کاله دپښتنواو بلوڅو په سیمه کي ولې په هغه پیمانه بدلون او اوښتون رانه غلیلکه په پنجاپې سیمو کښې؟ که رښتیا وویل سي تر اوسه دهغوي ژبه دانګلیسي له ښکیلا ک څخه نه ده خلاصه سوې ،ډیر یي دمنځنیو پیړیو په دود ژوند لرې ،پښتانه او بلوڅ تر اوسه دوهم سورت خلک دي ،دتاریخ جبر مجبور کړې چي پاکستاني تذکره او پاسپورت واخلي خوامتیاز یي بیانسې تر لاسه کولاي .دغه بربند پښتون دښمنه زموږ په کورکې دپښتنو سره دروغجنه خواخوږې ښکاره کوي . که تاسو درواغ نه وایاست پخپلو کړنو یي داسي ثابته کړۍ چي یو عادي افغان ووایي پاکستان زموږ دوست هیواد دی، اوس خو بیله دېنه چي څوک او یادولت ورته ووایي هغه په وسلو سمبال سړې چي ستاسو په خاوره کې روزل کیږي او دلته یي دافغانستان له ورانیې لپاره رالېږۍ هر څوک دسر په سترګو وینې ،که ښاغلی کرزی هم چغې ووهي چي پاکستان زموږ سره مرسته کوې ، څوک یي نه منې .افغانان به په هغه مرسته چي دترهګروپه وسیله له بمانو سره راوړسوې وې څه وکړې ؟ په رښتیا سره پاکستان ورته اوس ددوستی په نامه افغانانو ته یوازي مرګ ډالۍ کوي . دا چي زموږ په هیواد کې څه ستونزي شته او له چاسره یې لرو ،دا زموږ کورنۍ موضع ده کولاي سم په ډاګ ووایم په ټول ژوندکي به یواصیل افغان او یا پښتون تاسو تاریخي دښمن ته درنښې او ستاسو نه به دکورنیو ستونزو دحل په خاطر مرسته ونه غواړې ،دا تاسو یاست چي اوبه خړوۍ او ماهیان پکې نسۍ . تاسوبه وواياست څه موده پخوا راغلې وه ولې هغه هم لومړې ستاسو روزل سوې درغلل او بیامو دهغو په وسیله دموقع نه په استفادې سره افغان ولس څومره چي موزړه غوښت په امریکا یي او روسي راکټو کي وریت کړ خپل کورمو ورته دجګړې په نغرې بدل کړ پسله هغه دوې مجبور شول چې هلته درسې له بده مرغه پاکستانې جنرالان او استخبارات یې تل توانېدلې دې په افغان افغان او خپل کور له منځه یوسې.

زموږ دهیواد مشهور تاریخ پوه او څېړونکې کاندیداي اکادمیسین اعظم سیستانی صاحب لاپه 2004زکال په یو علمي لیکنه کښبي دافغانستان په اړوند دپاکستان سیاست داسې ګڼې : ((پاکستان برای بی ثبات کردن اوضاع کشور ، گروه های تند رو مذهبی مشتمل بر طالبان و القاعده و نیروهای حکمتیار و مولوی خالص که بنابر اعلامیه حکمتیار ، نیروهای جمیعت اسلامی ربانی و اتحاد اسلامی سیاف نیز با آنها همنوا اند، مورد حمایت خود قرار داده و با تخطی از تمام موازین حقوق بین الدول و معاهدات حسن همجواری و احترام به استقلال و تمامیت ارضی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشور ما ، از آنسوی مرز بداخل افغانستان می فرستد تا برموضع نیروهای ایتلاف بین المللی و دولتی حمله کنند و ثبات و امنیت را درکشور برهم زنند و یاری و همنوایی پشتونهای این سوی خط دیورند را که به دلیل به حاشیه رانده شدن شان از حاکمیت چندان دل خوش از دولت انتقالی حامد کرزی ندارند ، به یاری پشتونهای آنسوی خط دیورند فرا بخواند و افغانستان را که بسیار آسیب پذیر شده ، بسوی تجزیه و نابودی تاریخی بکشاند .)) دا هغه رښتیادي چي له هغه څخه هیڅوک سترګې نشي پټولای.

پدې ورستیو کې دملګرو ملتوپه کلنۍ عمومي غونډکې دبرخې اخیستلو په پلمه جنرال مشرف امریکا ته تللی و ،هغه دوخت نه په ګټې ترلاسه کولو کوښښ وکړ دافغانستان په مسله کې دښکیلو هیوادو له مشرانو سره له نږدې خبري وکړي تر څو هغوي په دې باورې کړې چې پاکستان دترهګرۍ او دهشتګرۍ سره په نړېواله مبارزه کې درغنده ګامونو په اچتولو سره دامریکا او نورو هیوادو کلک ملاتړ کوونکی او په افغانستان کې دامنیت دراوستلو ټینګ پلوی دی . دهمدغه تاکتیک دپلې کولو په خاطر یې دامریکا دبهرنیو چارو دوزیرې میرمن کانډولیزارایس سره هم دروان 1384 ش کال دوړې په 21 ورځ په واشنګتن کې ملاقات وکړ .

په دغه لیدنه کې د پاکستان ولسمشر دا ځل بېله دېنه چې په 1893زکال له خپل دمورنۍ ټاټوبې څخه جلاسوو قومونو او افغانې چارواکو نه پوښتنه وکړي ،غواړې دنړېوالو په ملاتړ دډیورنډ دکرښې سرنویشت و ټاکې ، په خپله خوښه په دې نامه چې افغانستان ته دتروریستانو اومشکوکوکسانو دورتګ مخه نیول سوې وې پرهمدغه کرښه داغزن دیوال دجوړېدو وړاندیز وکړ . پاکستانې جنرال په دې هوښیارانه وړاندیزسره غواړې امریکا او نړیوالوته ښکاره کړي چې پاکستان حاضر دی په افغانستان کې دترهګریو دمخنیوی په خاطر دده په ویناپرسرحد اغزې لرونکی او ځینو سیمو کې برېښنالرونکی سیمانو دیوار تیر کړی . دابه دموافقې په صورت کې پخپل ذات کښې دسرحد په رسمیت پېژندل وې ، او له بلې خوا غواړې امریکا ته ښکاره کړې په هغه ملګرتیا کې چې دتروریزم پر ضدېې دامریکا سره کړېده څومره صادق دی . پاکستانې چارواکې دا وړاندیز په داسې شرایطو کې کوې چې په افغانستان کښې یې ددوسله والو بریدونو ،ځان وژونکو حملو ،او تروریستې اعمالو په تر سره کولو سره حالت دومره نا ارامه سوې چې ټولو دپاکستان نه غوښتنه کوې تر څو داورپکو دراتګ مخه ونیسې او په افغانستان کې دملې شورا دټاکنو په وخت کې له افغانې چارواکو سره دامنیت په ساتلو کې مرسته وکړې . دطالبانو او القاعدې دسازمان جرړې ددیورنډ دکرښې پر هاخوا پرتو سیمو کې وباسې .دافغانانو اونړېوالوداوړاندیزونه هغه پلمه شوه چې پاکستان وکولاې سول دپښتنو په سیمه کښې دهغوي دبیلتون په خاطر داغزې لرونکې دیوال دجوړېدو وړاندیز وکړې ، پاکستان وتوانېدلاې سو په تاریخ کې چې دوې یې په خوب کې هم فکر نسو کولاې دپښتنو په سیمه کې)) 80 ((زره پوځ دالقاعدې او طالبانو دپټېدو دځایو دلټون په نامه ځاې پر ځاې کړ. دغو پوځې کسانو هغوي په خپلو کورو کې تهدید او توهین کړه ،طبعې ده چې هلته به یې ځینې کسان نیولې وې ،مګر ایا ددغو کسانو نیول ددغو قومونو سره په دومره سپک برخور او ددوې په سپکاوې ارزېدل ؟نه شوه کیداې بیله اتیازره پوځ نه دګوتو په شمار کسان نیول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوې واي ؟ فکرکوم داکار بيله دېنه چي هلته يي اتيا زره پوځ ځاي پر ځاي کړی تر سره کېداي سو . مگر دوي په همدغه پلمه دډيورنډ پر کرښه دتروريستانو او خرابکارو عناصرو دمخنيوې په خاطر تر )) 770 ((زياتي امنيتي پوستي چي درادار په وسايلو سمبال دي جوړې کړې . مگر پردغه ټولو دورغجنو منډو ترږوسربيره دروان )) 1384 (( ش کال دتلې دمياشتي په25 ورځ دخيبر تلوېزيون لخواد جوړ سوې گردي ميز په بحث کې ښاغلي اسفنديار ولي څرگنده کړه چي : (( پاکستان دتروريزم پر خلاف جگړه کې صادق نه دی ... هغه زياته کړه په افغانستان کې تل بې امنې دپاکستان پولو ته نږدې سيمو کې رامنځته کېږي ، هغه ورستنيو نا ارامیو او بي امنيو ته په ننگرهار،پکتيا ،پکتيکا او خوست کي په اشاره کولو سره وويل دپاکستان له لورې اوس هم دافغانستان په وړاندې منظمه جگړه روانه ده،او په افغانستان کښې يې دورستيوبريدو او ترووريستيو پېښو پړه پر پاکستان واچول ،هغه وويل طالبان په يوازې توگه دداشان حملو توان نه لرې ،دهغوې ددغو غلچکيو بريدو شاته دبل چا لاس دی . دهشت گر دقبايلو ميلمانه نه دې دا دحکومت او پوځ ميلمانه دې ،دحکومت او دهشت گر و تر منځ پټ تړاو او روابط شته ،دبيلگې په توگه هغه څرگند مثال راوړ : کله چي پوځ تيرا او کرمي ته لاړ،نو بيا ولي يي دوزيرستان لاره خلاصه پرېښودله ،دا ددې لپاره وه چي دهشت گر و ته لار پرېږدې تر څو هغوي له همدې لارې ځانونه دکرمي او تيرانه وزيرستان ته وباسې)).

پاکستاني پوځيان په دي ورستيو کي دالقاعدې او طالبانو دتعقيب په نامه د خوست ،ننگرهار اوکنړ ولايتو په مربوطاتو کښې دافغانستان پر خاوره تيری کړی دی ، له دغه شان تيريو څخه ددوي هدف دترهگرو تعقيب نه دی ، هغو خوهلته په کور کي ورسره دي ، بلکه هدف يي دادی ترڅو په افغاني چارواکو ومنې چي سرحد چيرې دی . دا کار دوي دوه ځله پخوا يو ځل دطالبانو دحاکميت دترلاسه کولو په لومړيو ورځو کي دکندهار په سپين بولدک کې وکړ، چي په اصطلاح پر سرحد باندې پرتې ډبري يي څومتره دکندهار په لور ورنږدې کړ ې ،هلته ددوي له دغه کار نه موخه داوه چي په طالبانو کي دملي احساس لرونکو کسانوکچه معلومه کړې ، دوي داکار دشپې لخوا تر سره کړ، کله چي سهار دبولدک خلکو هغه ډبري چي پاکستانيانو دکندهار وخوا ته رانږدې کړې وي وليدې سمدستي يي هغه دپاکستان وخوا ته ورنږدې کړې ،عينې عمل دشورويانو سره دجگړې په وخت کې په خوست او پکتيا کي تر سره سوی و او افغانانو دوباره ددوي پخوانې ځاي ته هغه دډبرو علامې انتقال کړې دې،په دواړو وختوکې يې پاکستانيانو ته ويلي وه تاسو زموږ سره مرسته کوی اوکه مو خاوره لاندې کوی ؟

دپاکستان دمشرددغه وړانديز په اړوندچي غواړې اغزې لرونکې دېوال جوړ سې دوړې په 22 مه ورځ دافغانستان دکورنيو چارودوزارت ويناد لطف الله مشعل دپژواک دخبرې اژانس سره په مرکه کې وويل چي لومړی بايد دا پوله دنړيوال قوانينو سره سمه معلومه کړه سي . هغه وويل همدا اوس په غلام خان ،ځاځيو او دبرک تانې په سيمو کې دپاکستان امنيتي پوستې وړاندې راغلې ،چي دسرحد له معلومولو څخه وړاندې دافغانانو لپاره دمنلو وړ نه دې .دحکومت ويناد ددغه وړانديز په ځواب کي وويل زموږ له نظره اغزن سيم گټه نه لرې ،... زموږ له انده دا دحل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره نده ،ځکه دا اغېزمن توب نه لري او نه هم ستونزه هواورولاي سې . دستونزی دهوارولو اصلې لار او چاره دهغو سر چینو خلاف پل اخیستل دي چي دترهگری ملاتړ کوي او وده ورکوې ، موږ عقیده لرو او ترجیح ورکوو چي ،نا اغېزمنو چارو باندې دلگښت پر ځاي ،ښه ده چي دغه پدیده له ریښو وایستل سې او ریښو ته یې پاملرنه وشې .
13دسپتمبر2005

قسیم اخگر دافغانستان دسیاسي مسایلو څېړونکی وباختر اژانس ته وویل : پاکستان په دغه وږاندیز سره غواړي ښکاره کړي چي دتروریزم په مقابل کي پرېکړنده دریځ لري .هغه علاوه کړه پاکستان دتاریخ په اوږدو کې دتروریزم سره د مبارزې او یاپه سیمه کې دتشنج دله منځه وړلو په وخت کې تل داکرښه پر افغانستان تحمل کړې ده . هغه وویل افغانستان په دي موردکې باید جدي غبرگون ښودلی واي ، دده په اند دافغانستان دولت ډېر محافظه کارانه برخورد کړئ دی.

یو بل سیاسي څېړونکي سمیع الله تازه دپاکستان وړاندیز یوه خالي بهانه بولې ،هغه وایي ډېرې نوري لاري شته چي پاکستان دهغو په وسیله کولاي سي افغانستان ته دترهگرودراتگ مخه ونیسې.

نور پوهان اوڅېړونکې ورته نظرونه لرې . دپاکستان داډول وړاندیز په داخل او له هیواد نه بهر افغانانواونورو څېړونکو دبحث توده مسله وگرځېده . زه پدې باور یم دافغانانوغوڅ اکثریت به داغزن اوپابل هر ډول دیوال دجوړېدوله وړاندیز سره تر څوچي دډیورنډ دکرښي برخلیک معلوم سوی نه وی سخت مخالفت وکړې.

مسله داده چي ایا په افغانستان کې دناارامیو او ترهگریو دبندېدو یوازنی لار ه همدا داغزن دیوالو تیر ول دي؟ او که دا یوازي یوه داسې بهانه ده چي دډیورنډ کرښي ته د قانونیت په ورکولوسره دلر او بر پښتنوپه منځ کې دبیلتون راوستلو یوه خاینانه هڅه ؟

بله مسله دا ده پاکستان دا اغزن دیوال پر کومه سیمه تېروي ؟ هغه چي دډیورنډ کرښه ورباندې تېره سوې ده؟ او که هغه چي دجهاداو خپل مینځې جگړوپر مهال له چتراله تر بولانه پر عایقه سیمه باندې چي پاکستان نوې تاڼې جوړې کړې او زیاته سیمه یې لاندي کړې ده غواړی داغزن سیم په وسیله جلا کړی ؟

که پاکستان په رښتیاسره غواړې دتروریستانو او القاعدې دسازمان جرړي وباسې ،په سیمه او افغانستان کې دترهگریو مخه ونیسې نو دطالبانو او القاعدې یو شمیر جگپوړې تل په پاکستان کې نیول سوې دي چي وروستی بیلگه یې دروان کال دنومبر دمیاشتې په نمه نیټه دطالبانو دوخت دهرات او کابل والې مولوې عبدالمنان په پاکستان کې دهغه دنیول کېدو خبر ورکړه سو ،په دې ټینگ باور لرم چي دنیولودا لړی به په همدغه پاکستان کې دامریکا فشارته دځواب ورکولوپه خاطر دپاکستان داستخباراتو دپلان له مخې دوام ولرې . په پاکستان کې دطالب او القاعده جگپوړو چارواکو نیول کېدل ددې علامه ده چي دوي ټول تر اوسه په پاکستان کې ژوند کوې او له هغه ځایه خپل ترهگریز پلانونه پلې کوې . د2001 زکال دسپتمبر د11نېټې راپدې خوا چي برېوال دهغه په سر کې امریکا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترهګريزو بريدونوته متوجه سوي او تر هر تروريستي بريد وروسته څېړنې سوې په ټوله نړۍ چې کوم تروريستې بريد تر سره شوی ريښه يې په پاکستان پورې مستقيم يا غير مستقيم تړاو پيداکړی دی . دهمدغو او نورو زياتو دلايلو او اسنادو په تر لاسه کولو سره دنړۍ زيات څېړونکې په دی نظر دې چې په سيمه ايزه او نړېواله کچه دتروريزم درېښو دايستلو په موخه په پاکستان کې بنسټيز او رښتيانې عملې ګامونه ګامونه اوچت سې . هلته بايدټولې هغه مدرسې اوکمپونه په کومو کې چې يوازې او يوازې تروريستان او فناتيکان دتروريستې اعمالو دسرته رسولو لپاره روزل کېږي وتړل سې . دپولې پر سر داغزنو سيمانو دديوار جوړول دتروريسم او په افغانستان کې دنا امنيو دله منځه وړلو عمده دليل کېداي نسې . ځکه هم دپاکستان په سنا کې مخالف ګوند دداشان ديوار دجوړېدود وړانديز او طرحې سره خپل مخالفت اعلان کړ. هغوي وويل چې دا کاربه قبايل سره جلاکړي په همدې دليل يې دخپل هيواد دمشرانو دا وړانديز مسخره اميز وباله . ډير په دې باور دې چې له پاکستان څخه درالېږل سوو په وسيله دلته په افغانستان کې ترهګر عمليات او بريدونه دپاکستان او امريکا په مشوره تر سره کيږي ، امريکا غواړي په سيمه کې دناارامۍ په نامه ، داچې داځل افغانستان تنها نه پرېږدوعلاقه لرې امنيتې حالت تر يو وخته په همدغه نا آرام شکل وساتې . دوې دليل دا راوړې چې که امريکا او اروپايي هيوادونه په رښتيا سره وغواړي په افغانستان کې امنيت راسې ،ساده او اسانه لار يې پاکستانې چارواکو ته دا ښودل دې چې نور نه غواړي په افغانستان کي وضعه ناارامه وی . کله چې پاکستان دا احساس کړه په ههغه لهظه هر څه په ټپه دريږي او په هيواد کي ارامې راځې . که دنړۍ دنورو هيوادو په مقابل کې چې دنړيوالو وژانديزونه نه منې دملګرو ملتود امنيت شورا پر هغه غور کوي ،بنديزونه پرې لګوې په دې ورستيو کې خو دهمدغې شوراد‌پرېکړې په اساس پر افغانستان دوسله وال تيري واک هم امريکا او نړيوالو تر لاسه کړ.عجبه داده چې په افغانستان کې دامنيت دراوستلو په منظور په ميلياردو ډالر لګېږي امريکايي او اروپايي مور بې زويه کېږي ،هر ورځ تر لسو زيات افغانان ژوند دلاسه ورکوي ،ټوله نړۍ په دې ښه خبره ده چې ددغو بريدکونکو اصلې جونګړه پاکستان دې اوهلته روزل کېږي مګر څوک څه نه ورته وايي ؟ دا هغه سوال دی چي تر اوسه هيچادهغه له پاره وړ ځواب بيله دېنه چې ممکن همدا زبرځواکې غواړي دکومې پټې موخې لپاره جګړه دوام پيداکړي!

امريکايانو دسپتمبر د11تروريستي حملې نه وروسته تل په تکرار ويل : په نړۍ کې ترطالبانو او القاعدي دسازمان ظالم او خطرناک هيڅ يو تروريستي سازمان اوبنسټپال ګروپونه وجود نه لري ،مګر اوس امريکا ولې اجازه ورکوي چي هغوي په افغانستان کې تروريستې بريدونه او حملې تر سره کړي ؟

دپاکستان پخوانۍ دکورنيو چارو وزير جنرال بابر هم دپژواک سره په مرکه کښې دغه ټکې ته اشاره کوي وايې : جنګ ديوي ځانګړي موخې لپاره و،خونوم ورته دبل څه ورکړه سو،ټوله ستونزه داوه چې امريکا له طالبانو دبريډاس په نوم دګاز دکمپنۍ پر ځاي ديونيکال له کمپنۍ سره دګازدنل ليکې تېرولوتړون غوښت ،موږ هم په دې لړ کې له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا سره مخالفت کړی و،امریکا یو شمیر طالب چارواکې دامریکا بوستن ښارته بو تلل او هلته یې پرې له یونیکال سره پر تړون کولوفشار راوست.

پرافغانستان دامریکا برید اقتصادي جنګ وچې اوس هم روان دی ،دغه راز امریکا په سیمه کې دخپل حاکمیت لپاره دایران،چین،او شمالي کوریاهیوادونوپر خلاف پوځې اډوته هم اړتیا لرله چې دغه اړتیا یې په افغانستان کې پوره کړه.

عمده اومهمه مسله داده چي دپاکستاني چارواکو لخوا داغزن دیوال جوړولو وړاندیز موخه په رښتیاسره په افغانستان کې دترهګریو مخه نیولو په خاطرنه ده ؟ دخپلې دغه خبرې دپخلې لپاره څو لاندټکوته ستاسو پاملرنه را اړوم:

ما پخپله لیکنه کې کوښښ وکړ په لنډه توګه دافغانستان په کورنیوچاروکې دپاکستان پټو اوبربنډو لاس وهنو ته ګوته ونیسم . دامنلووړ نه ده چي داغزن دیوال جوړول افغانستان ته له پاکستان څخه دترهګرو دمخنیوې په خاطر دی ؟ که ترهګر له پاکستان څخه راځي نو ددیوال دجوړېدو دمیلیارډوعبث مصرف په عوض ښه نه وه ؟ چي دالقاعدې دسازمان څخه نیولې ټولو تروریستې ګروپو ته کوم چي په غټ ګمان ستاسو استخباراتو ته معلوم دې او حتا اړېکې هم ورسره لرې له پاکستان څخه وباسی ؟

-داځنګه ردوی چي په پاکستان کې دمذهبې بنسټپالو لخوا ستاسو دحکومت او بهرنیانو په مالې او مادي مرستو دشوروي سره دجګړې په مقابل کې پخواجوړوسو مدرسوکې تر اوسه ترهګرنه روزل کېږی ؟ پوهېږم چي دابه راسره ومنی ؟ ځکه کله چي پر تاسو امریکا او انګلیستان فشار راوړي تاسو سمدستي ملایان نسی او یا له مدرسو طالبان شړی ،داکار دا معنا لری چي دا دیوبندې مدرسې اوس هم ددینې عالمانو پر ځاې تروریستان روزې .ځکه اړینه بریښي چي داغزن دیوال جوړولوپه عوض ددترهګرو دروزلو مدرسي وتړل سې . - دډیرو نړیوالو نشراتي ارګانو سره دپاکستان دولسمشر نه نیولې بیاتر نورو جګپوړې چارواکوپورې دافغانستان دسیاسي او امنیتې حالت په اړوند دټولو څرګندونې دبربندو لاس وهنو بیلګې دي دا لاس وهنې په کوم دیوال ګرځوی ؟ ستاسو یوپخوانی وزیر (بابر) په افغانستان کې دحالت په خرابیدودومره ډاډه دی چي تاسو یې ویناخپله دپژواک په نشراتو کي ولولی ، دا چې دبې بې سي سره په خبروکي دپاکستان داطلاعاتو وزیر دافغانستان دولت یو ناکامه دولت بولې ،اېادغه شان څرګندونې لاس وهنه نه بولی ؟ ددغه چارواکو او نوروجنرالانوخوله په کوم اغزن تار ګنډی؟ بابر پژواک خبرې اژانس ته وایي : زه درته غوڅه خبره کوم ،په حقیقت کې امریکا او ددوي نور اتحاد یان په افغانستان کې داوږدې مودې لپاره نشې پاته کېدلاي ،دا مهال په افغانستان کې یو کمزوری او ضعیف حکومت دی او ددې خبرې قوي امکان شته چې په افغانستان کې له پارلمانې ټاکنو وروسته حالات نور هم خراب شي ،چي له امله به یې امریکا او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورواتحاديانو ته په افغانستان کې پاتې کېدل ګران وي . دا ښاغلی کومې پټې وينې که په پاکستان کې دافغانستان پر خلاف له بريدو او ترهګريودنووپلانو څخه خبر نه وي ؟

-پاکستان له افغانستان سره پر پوله )) 770 ((په رادار سيسټم مجهزې پوستې جوړې کړې دې که په هره پوسته کې لس تنه وې نو شمير يې 7700 تنو ته رسېږي ،دتروريستانو دنيولو او زموږ هيواد ته دهغوی دراتګ دمخنيوې په خاطر يې يوازې دپښتنو په سيمه کې تر )) 70 (( زره زيات عسکر ځای پر ځای کړه ،دافغانستان او پاکستان تر منځ که دکرښې اوږدوالې تخمينې (( 2400)) کيلو متره په نظر کې ونيسو څنګه ومنل سي چې دادومره پوځې قوت نسی کولای دڅو تر هګرو مخه ونيسي ؟ دلته داګمان په حقيقت بدلېږي چې رښتيا هم پاکستان غواړې خپل وسله وال پوځ دامريکا او اروپايانو په پيسو دتروريزم سره دمبارزې په نامه وروزې ، اعاشه اباطه يې کړې . که رښتياغواړی له هغه ورځې چې پاکستان دترهګری پر ضدمبارزه شروع کړې ، زموږپه هيواد کې تروريستي حملې زياتې سوې دي .ددوی پر دغو ټولو دوه مخو تلاښو سر بيره وضعه هره ورځ نوره هم خرابېږې او دبې ثباتی په لور درومې . د دوکلو په موده کې پاکستان تر 78ميليونه ډالره زيات دتروريزم سره دمبارزې په نامه تر لاسه کړې ،او داسي هم يووخت ماولوستل چې امريکا هره مياشت پاکستان ته دتروريستانو سره دمبارزې لپاره يو ميليون ډالر ورکوې ،مګر ددغو ټولو مصرفونو ثمر چاونه ليد .دا خبره رښتياده که په افغانستان کې وضعه آرامه سې داپيسې به پر پاکستان په هغه لهظه ودرېږې ځکه پاکستان سوله نه غواړې.

-دغه کسان چې دپاکستان داستخباراتې سازمانو لخوا افغانستان تې دجاسوسې او ترهګری لپاره رالېږل کېږې چې ځينې يې نيول سوې هم دې ددوې مخه په کوم ديوال نيول کېږې؟

-دپاکستان ددولت يوتن پوځې جنرال ښاغلی صفدرحسين ددې خبرې پخلی کړی چې دپاکستان ځينې مذهبې ګوندونه يا تنظيمونه اوس هم دطالبانوسره مرستې کوي ،دغه ګوندونه په پاکستان او ځانګړې توګه قبايلي سيمو کې خلک هڅوې چې په افغانستان کې دطالبانو له غورځنګ سره خپلې مرستې جارې وساتې . فکر کوم دوې دا کار ځکه کوې چې دالقاعدې سازمان په سيمه کې هر څه دطالبانو په نامه تر سره کوې او دغه مدرسې او خاوندان يې پيسې له همدغه سازمان له لارې تر لاسه کوې . جنرال صاحب پرويز مشرف داډول مرستې چې موخه يې زموږ په هيواد کې ترهګريده په کوم دېوال يې مخه نيسې ؟

-داچې همدا اوس زمږ په خاوره کې ستاسو پوځيان پراته دې او څه موده پخواد ننګرهارپه مربوطاتوکې تر 45کيلومتره ، دکنړ،او نورو شرقې سيمو کې چې مخ کې مې نومونو ته اشاره کړې ده ، پاکستانې پوځيانوتيري اولاس وهنوهڅوونکی کوم ترهګردی ؟ دداشان تيريو مخه به څنګه نيول کېږې ؟ دوې ته هم اغزن ديوال ضروردی؟

په 2003زکال ددسمبر په دوهمه نيټه دالاهرام مصري ورځپانې دساندي تلګراف ورځپاڼې په حواله ليکلې وه چې د ISIجګپوړې چارواکې دطالبانو سره دوسلو مرستې کړې دې ،ددې ورځپاڼې په ليکنه دپاکستان داستخباراتې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمان ځيني كسان دطالبانو سره دراكټونو،كلاشينكوفونو ،دبېسيم ارتباطي مجهزې شبكې او سيسټمونه ،په لسهاوپه سپوږمكيو پورې تړلو موبيل تليفونوسر بيره 700موترسايكلونه اونور شيان په واک كښې وركړې دى .نه پوهېږم جنرال صاحب پرويز مشرف داشان مرستې چې همدا اوس په پېخر ترهگرو ته وركول كېږي څنگه ارزوى ؟ فكر نه كوم ديوال به ددغو مرستو مخه ونه نيسي . همدا اوس دنړۍ 37 هيوادونه په افغانستان كې دامنيت په ساتلو مصروف دي ،خوهغوې په خپلو مډرنو وسلو او تر بيه سو پوځيانوچې شمير يې تر )) 30 (( زروزيات دى ولې نسې كولاي په هيواد كې امنيت ټينگ كړي ؟ په كوم دليل ومنل سي چې ددغو ترهگرو تر شادپاكستان او دهغو دملگرو هيوادو لاس نشته ؟

دا نظر ورځ په ورځ غښتلى كېږي چې امريكا هم تر اوسه دافغانستان دحالاتو په اړوند دخپلو سياسي ،اقتصادي گټو اواو سيمه كې خپلې سياسې اغېزود ساتلو په خاطر نه غواړي وضعه ارامه سي ،زموږ په هيواد كښې بې ثباتې دامريكايي او نوروبهرنې پوځونو دشتون لپاره دجواز حيثيت پيداكوې . ځكه نو دادبن لادن ،القاعدې او طالبانو سريال بايد دوام پيداكړي.

اساسي خبره داده چې ددغو ترهگريو رېښه زموږ او پاكستان تر منځ دډيورنډ دكرښې پرسر په اختلاف كې پرته ده .اغزن او اوسپنيز ديالونه هم تر څو چې دامسله دابد لپاره حل نشي نسې كولاي افغانستان له دغو بدبختيو خلاص كړي . ځكه داسي ديوالونه دبشر په تاريخ كي له شرق نه تر غرب پوري دنړۍ په زياتوهيوادوكې جوړ سوې دې مگر مشكل نه دى حل سوى . زه اوس نه غواړم دداسي ديوالو دجوړېدو تاريخ او هيوادو په هكله معلومات وليكم .

متأسفانه تر اوسه پاكستان توانېدلى دي نړېوال په دې قانع كړي چې دوې دهغوى سره دتروريزم پر ضد مبارزه كې صادق دى دا هغه تريخ واقيعت دى چې افغانانو ته په هيڅ ډول دمنلو وړ نه دى . دهمدغه دوه مخې پاليسى بركت دى چې پاكستان ته دامريكا لخوا ټول پخواني قرضونه ور وبخښل سوه او يو په بل پسې F16 جنگې الوتكې له امريكا څخه پلاس راوړې.

متاسفانه دديورنډ دكرښي په اړوند په هيواد كې دننه مختلف نظرونه موجود دې .نه پوهېږم چې ولې دشوروې دموجوديت تر وروستى ورځې په افغانستان كې دټولو سياسي چپو،ښيو او منځپالو گوندو نو په كړنلاره كې دسياست او بهرنيو اړيكو په برخه كې دډيورنډ دكرښې يا دپښتنو او بلوڅودسرنويش دمسلې دسياسي او عادلانه حل په غتيو ټكو ليكل كېده ،پسله هغه چې په افغانستان كې د امريكا په ملاتړ دطالبانو دحاكميت تر ړنگېدو وروسته سياسي گوندونوته يو ځل بياد ښارنود قيرسړكونو پر سر دسياسي مبارزې امكان پيداسوى دى ،او يو په بل پسې دمختلفو مختاړو او ورستاړو په لړلو سره جوړېږي دغه مسله چې دا نيمه پيړۍ دهغې پر سر افغانان له مختلف ستونزو سره مخامخ سوې دې چوپه خوله پاته كېدل يوه سوال پيداكونكې مسله ده ،په دې هليه چې سياسي گوندونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورځي په نرخ او بهرنيانو په اشاره زموږ په ملک کښې دسياست پلې کول تر سره نه کړې ،اود هغه پخوانې کلاسيک سياسي دودچي سياسي غورځنگ بايد دبهر په اشاره او ملاتړپه يوه هيوادکښې سياست شروع کړې دزمان له ازمون څخه ناکامه راووتل .يو ولس هغه وخت په يوه سياسي ځواک (گوند) اعتبار پيداکوې او دهغه ملاتړ کوې چي دملې گټو په درک کولو سره دهيوادوالو دژوند دښېرازۍ او پر مختگ لپارهدزمان دغوښتنو مطابق تلاش وکړې . ځکه نو ددغې تاريخي لانجې دحل په هکله څه نه ويل دخلکو سره دداشان گوندونو په هکله سوالونه پيداکوي او ددوې سياسي خپلواکی هرومرو له سوال سره مخامخ کېږې.

متاسفانه پدې ورستيو کي څونفره دبل په اشاره او ياپښتنو سره ددښمنۍ په وجه داسې ليکنې کوې ،او په زيات زيار يې هغه دليلونه راټول کړې چي هر يو يې ددوباره څېړنو وړ دی ،کله چي سرۍ هغه لولې نو فکر کوې بيله دانگليستانو استازې ډيورنډ څخه نور ټول ملامت دی چي دډيورنډ دکرښې په هکله خبرې کوې . دليکنو څخه يې چي کله دافغان اوکله دفدراليانو په نامه د نورومسايلو طرحې بوي راځې ،دوي وايي که پښتونستان غواړۍ؟ بيانو ولې دتاجکستان ، ازبکستان نه پوهېږم له ايران سره هم دسرحد په هکله دپښتونستان پشان خبرې نه کوی ؟ اوداسې نورې خبرې چي هر کليمه يې بايد ساعتونه پرې بحث وسې . داډول کسان غواړې داسې ښکاره کړې چي پاکستان پر حق دی ،اوپه افغانستان کې څرنگه چي پښتنو حکومت کړی نو يې دخپلو گټو لپاره افغان ولس ددوې په اصطلاح دپښتونستان قربانې کړی دی ،دوې داهم بيله کوم سنده وايې چي په 1949زکال دافغانستان پارلمان دشاه محمود خان تر فشار او زورلاندې دا پرېکړه وکړه چي دډيورنډ کرښه په رسميت نه پېژنې ،ولې داښاغلې يا په افغانستان کې نه دې اوسېدلې او يا افغانانو ته سپکاوی کوي که نه دوې دې مهربانې وکړې يوه وطنپرست هزاره ،تاجک،ازبک،ترکمن په مخ کې دې وايې چي پاکستان پر حق دی ،بيابه وگورې چي دغه خلک کوم ځواب ورکوي ، دپښتنو خبره خو زه ځکه نه کوم چي تر اوسه يوه واکدار هم داجرات نه دی ځانته ورکړی چي دپښتنو دغه د حق غوښتلو ارادې ته دې په سپکه سترگه وگورې ،اوياده خرگنده کړې چي دپښتنو او بلوڅو سيمه دپاکستان خاوره ده . زه نه غواړم يوځل بياخپله ټوله مقاله ددو، درو نفرو دليکنو په اساس تکرار کړم . دومره ويل غواړم هر چاچې زموږ دخاورې څخه دټوټو دجلاکولو پروتوکولونه امضا کړې دې دافغانولس سره يې ستر خيانت کړی او دهغوي دنفروږ دې . پدې ټکې ښه پوهېږم چي دلوي احمدشاه باباامپراتوري ساتل او يادهغې پر سر دعوه کول محال او قانونې خبره نه ده ، مگر دخپلو ځانگړتياوله مخي دډيورنډ کرښې د مسلې په هکله بحث بيل دی ،کله چي داکرښه عبدالرحمن خان لاسليک کړه دډيورنډ دکرښې هاخوا پرتو قومونو، او نه هم دې خوا پښتنوته دمنلو وړوه ؟ دا علت و چي عبدالرحمن خان يوه مصنوعې او په خپل لاس جوړه سوې جرگه راوغوښتل ،او هگه ليک چي دافغانانو په استازيتوب وويل شو پخوا ليکل سوې و . نه پوهېږم چي ولې پر دغه سترگې پټوې ؟ او پښتانه په مختلفو شکلو متهم کوې؟ چي گويا دا په افغانستان کې يوازې پښتانه دې چي دپښتونستان نارې وهې،دډيورنډ معاهده چي لاس ليک سوې ده هغه اولې او اخيرې وه .که داسې ده ؟بيانو ولې دپاکستان چارواکو هر يوه پخپل وار سره هر هغه چاته چي په افغانستان کې يې واک تر لاسه کړی دی مراجعه يې کړې او يايې دومره نظامې او سياسي فشار راوستلی چي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني چارواکې يې خبرو ته اړيستې ،دپاکستان او افغانستان تر منځ په خبرو کې لومړی شرط په افغانستان کې دارامي راوستلواو افغانستان سره دمرستو او دوستانه مناسباتوټينګولويولپاره همدا دډيورنډ لعنتي کرښه مطرح سوې ده ؟ زه خپله دا نسم منلاي دا 112کاله چي خلکو دې خوا او هاخوا دپښتنو او بلوڅودمسلې دعادلانه حل او سرنويشت ټاکلو پر سر مشکلات ګاللې ،زندانو ته تللې او شهيدان سوي دي ، دا ټول ليونيان او ددوې په اصطلاح نادان وه او يامغرووره؟ دغو ښاغلو ته بايد وويل سې چي افغانانو هيڅ وخت يوازې دالحاق خبر نه ده کړې تل يي مشرانو په خپلو ويناو کي ويلې چي دپښتنو او بلوڅو دسرنويشت مسله دې ددوې په خوښه او ددوې دارادې داصل پر اساس حل سې ،دپښتنو او بلوڅو دسرنويشت دټاکلو حق په دوي پوري اړه لري ،مګر تر اوسه دوي ته داحق چانه دی ورکړی ،په افغانستان کې ټول افغانان (( زه يي دبيګانه پرستو په دود پر قومو نه ويشم ،زما لپاره تاجک ،هزاره ،ازبک،ترکمن اونور ټول افغان او يو دي)) داتاريخي مسوليت لرې تر څو دکرښې هاخوا پرتو قومونو پښتنو او بلوڅو دسرنويشت دټاکلو مسله دنړيوالو په مټ دابد لپاره دهمدغو قومونو په خوښه دحل لاره پيداکړي . زموږ دهيواد پياوړی تاريخ پوه او څېړونکی سيستاني صاحب دپاکستان ددسيسو په اړوند روڼ اندي خپل وطني رسالت ته متوجه کوي او ليکي : بر روشنفکران و قشر آگاه و چيز فهم افغانستان است تا با افشای دسايس شوم پاکستان ، اين ولدزنای استعمار بپردازند و اهداف توسعه طلبانه آن را در منطقه برملا کنند. باشد که جلو اين شراندازی های حکام و دستگاه استخبارات نظامی پاکستانی گرفته شود و مردم افغانستان به نيات ناپاک اين کشور بظاهر پاکان بيش از پيش پی ببرند.اعظم سيستاني 29.06.05 ټول افغان

زما په عقيده داغزن دېوال جوړ ولو مثبت تأثيرپه لاندي دلايلو عملې نه برېښي:

اول : ديوال ددواړو هيوادو تر منځ ستونزه نسې حل کولاي . ځکه په افغانستان کې مداخلې ددولتوارسمې ادارولخوا تنظيم سوې او پلان سوې دې . دهمسايه هيوادو په منځ کې دداسې پلان سوو مداخلو مخه دسيمانوپه ځغلولو نسې نيول کېداي.

دوهم : دا ديوال به دډيورنډ دکرښې دواړو خواو قومونه سره جلاکړې ،په تګ راتګ کښې به يې ستونزې جوړې کړې ، هغوي ته به هم دمنلو وړ نه وي اونه به کوم درد دواکړې.

دريم : تر اوسه دافغانانو لپاره دډيورنډ کرښه دمنلو وړ نه ده . نو دا ديوال به پر کومه برخه تېرېږي ؟

څلورم : ددغه اغزن ديوال سروې او جوړول به هرومرو څلور،پنځه کاله دوام لري ،نو دا په دي معنا ده چي داڅو کاله بايد په افغانستان کي همدا بې امنيتی او وژني به دلته جريان ولري ؟.

پنځم : دداشان دېوال دجوړېدو لګښت چي په ميلياردو ډالرکيږي څوک پر غاړه اخلې ؟ افغانستان دخپل ويجاړ اقتصاد په لرلو سره ((شل)) کاله نور هم دا توان نسې پيدا کولاي چي ددغه دېوال يو پر څلور لګښت دې پرغاړه واخلې ،پس دا دېوال به پاته وي تر څو افغانستان هم دهغه دجوړېدو لګښت توان پيداکړې . دايو بيځايه اوايضافې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرف دی ، یوازې کیداې سې دپاکستان - افغانستان تر منځ ددوستۍ ، متقابل احترام او یو دبل په کورنیو چاروکې دلاس نه وهلو، ښو اقتصادې او فرهنګې اړیکو د ټرون په اساس دااوسنۍ امنیتي ستونزه حل سې.

ددې لپاره چې زموږ او پاکستان تر منځ دا تاریخې لانجه حل سوې وې او په سیمه کې همیشنۍ سوله ټینګه سوې وې زما په اند لازمه ده دتاریخې حوادثواو اسنادو په نظر کې نیولو سره د ملګرو ملتو دسازمان تر نظارت او څارنې لاندې ،داسلامې هیوادو دکنفرانس ، دامریکا ،اروپایې هیوادو پارلمان ، انګلیستان ، روسیه ،چین، هندوستان،تاجکستان ،ازبکستان ،ترکمنستان ، ایران ،پاکستان او افغانستان دجګړو چارواکو په ګډون ، دډیورنډ دکرښې پر سر داختلاف د سیاسي او عادلانه حل لپاره نړیوال کنفرانس جوړسې.

په کنفرانس کې دګډون لپاره باید کسان راوغوښتل سې:

/1دډیورنډ دکرښې سهیلې طرف ته پرتو پښتنواو بلوڅو ټولو لویو او وړو قومونو هغه استازې چې دپاکستان ددولت دهر ډول مداخلې نه پرته دنړیوالو تر جدې کنټرول لاندې ټاکل سوې وې . ځکه یو ځل دانګلیسانواو پاکستان نوې جوړې سوې ادارې لخوا دټول پوښتنې تر نامه لاندې په 1947زکال درغلې وسوه،نه یوازې داچې مقدس کتابونه کښېښودل سوه بلکې دنظر ورکولوپه وخت کې انتخاب غلط او ډوکه بازې وه یعنې دوه انتخابه وه پاکستان او هندوستان ،دافغانستان نوم هلته نه و،په داسې حال کې چې دوی نه له پاکستانه او نه هم له هندوستان څخه جلاسوې وه ، دوی له خپل وطن افغا نستان څخه جلاسوې وه ځکه نو منطقأ باید له دوې نه داسې پوښتنه سوې وای چې غواړۍ له افغانستان سره دوباره یوځای سۍ او که له هند یا پاکستان سره . په دې هکله پر خپل وخت دافغانستان دولت کلک غبرغون ښکاره کړ ،او خدای بخښلې خان عبدالغفارخان هم پدې هکله مفصله وینا وکړه ، او دخپل مخالفت دلایل یې ښکاره کړه ، ما مخکې ورته اشاره کړې ده . 2/ دهمدې کرښې شمالې لورته (افغانستان ) د پرتو قومونو استازې هغوی هم باید په عین شکل وټاکل سې . 3/ ددواړو هیوادو هغه پوهانو ،عالمانو او فرهنګې شخصیتونو کوم چې په حکومتونو پورې تړاونه لرې او تل دمستقل سیاسي نظر خاوندان وه.

/4دافغانستان دپارلمان او مشرانو جرګې لخوا غوره سوې استازې په هیوادکې دڅبو او مذهبې تړاو دانډول په نظر کې نیولو سره ،(دلږو لږ ،دډیرو ډیر ).

/5دپاکستان دپارلمان استازې دسوبو دویش او قومي کمیت په نظر کې نیولو پر اساس.

دکنفرانس پرېکړې باید دتعقل او علمې منطقوپر اساس چې موخه یې په رښتیانۍ توګه دتر یوې پیړۍ زیاتې لانجمنې مسلې حل ته دپای ټکی ایښودل وې.

دغه کنفرانس ته امادګې به څو میاشتې دوام وکړې ،لګښت به هم ولرې ،ولې دومره به ډیر نه وې زیات لکه همدا اوس چې په سیمه کې دامنیت پر راوستلو تر سره کېږې . په دغه کنفرانس کې باید په آزاده او دیموکراتیکه توګه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمحکومو پښتنو او بلوڅو اراده تمثیل شوي وي ،او دهغوي رواغوښتنو او پوښتنو ته مثبت ځواب وویل سې . په هغه صورت چي دپښتنو او بلوڅولپاره دقبول وړ وي.

کنفرانس دتاریخي اسنادو تر مطالعي او څېړلووروسته باید ددغو مسایلو په هکله پرېکړې وکړي:

اول : دپښتنو او بلوڅو په خوښه او اراده دتل لپاره ددوي برخلیک ټاکل . که لازمه ولېدل شي هلته دنړېوالو تر نظارت لاندي آزاد او له مداخلې نه خلاص ریفرنډم سرته رسول . که پر ټول پوښتنه اړونده خوا سره موافقه وکړي په هغه صورت کې باید دټول پوښتني په پاڼه کې واضح لیکل سوي وي چې : الف : غواړی یو آزاد او خپلواک هیواد اوسی ؟ ب : علاقه لری له پاکستان سره پاته سی ؟ ت : غواړی دخپل مورني ټاټوبي افغانستان سره یو ځاي سی ؟ داټول پوښتنه باید بیله هر ډول مخکني پروپاګنډ .یودبل پر خلاف دتبلیغ ،دافرادو رانیولواو نورودرغلیو څخه په خلاصه توګه کاملا په پ[ه توګه دنظر په څرګندولو سره تر سره شي . یوازي دا تبلیغ ورته وسي چي تاسو حق لری خپل سرنویشت پخپله وټاکې او کله چي کاغذ صندوق ته اچوی هلته بیله خدایه بل څوک نسته . ډیره ضرورې ده چي هر پوښتنه په بیل کاغذکې چي بیل رنګ او جلا دپېژندګلوی علامه ولرې لیکل شوي وي . ځکه هلته هم دیر زیات نالوستي دي دارپا په دود چلیپاکولو کي هر ډول درغلې ځکه کېږي چي رایه ور کوونکی دبل چا مرستي ته اړ کیږي په هغه صورت کي مرسته کونکی کولاي خپله اراده په هغه قبوله کړي.

دریفرنډم ټول پروسیجر باید دبېپرې نړیوالوپوهانو او حقوق دانانو په مشوره ،روڼ اوڅرګندوي.

دوهم : دافغانستان او پاکستان تر منځ دسرحدي پولې ټاکل .او پر هغه هر ډول تیری منع ګڼل.

دریم : دنړیوالو منل سوو اصولو پر بنسټ افغانستان ته دنړی له نورو هیوادو څخه دایران دعباس بندر اوپاکستان د کراچي بندرله لارې بیله قیدوشرط نه دنړیوال ترانزیتي قانون په نظر کې نیولوسره دسوداګری دمالونودواریدولواو صادرولو په خاطر دافغانستان حق په رسمیت وپېژندل سي . دا ځکه چي له یوې خوا افغانستان له بهر سره پوله نلرې مګر داګا ونډې هیوادونه یې لرې او بل داچې همدا اوس ایران او پاکستان له هغو اوبو څخه وړیا استفاده کوي او ځانته داستفادې قانوني حق ورکوې کوم چې سر چینې یې دافغانستان په خاوره کې دي ،که افغانستان ته دپورته یادسوو بندرو څخه دسوداګریزو مالونو دوړلو او راوړلو ترانزیتي حق ورنه کړه سي ، افغانستان هم باید ځانته دا حق خوندي وساتې چې په هیوادکي دننه پیداسوی اوبه چې پاکستان او ایران تي بهیږي همسایه هیوادونه یې باید رانیسې او کله چي افغانستان نه غواړې اوبه وپلورې دا حق ور سره خوندي پاته وي . لکه همدا نن د10.11.2005زکال د(دسمبر لسمه) مي په بینوا ویب پاڼه کي ولوستل چي پاکستان له پاکستان څخه د نفتی موادو صادرول بند شوی دی .د افغانستان د اوبو او بریښنا وزیر ویلی دی چې څلور ورځې کیږی چې پاکستان � افغانستان ته د نفتی موادو صادرول بند کړی دی .دوزیر پر وینا نفتی مواد چې حرارتی توربینو نه په یوه ساعت کي ۹۰۰۰ لیتره تیل لګوی اوس له بازار څخه رانیسی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخ دا ثابته کړې ده چې پاکستان په افغانستان کې ديوقوې ،پر ملې اساساتواو بنسټو ولاړ ،غښتلې او پرمختللي افغانستان سره علاقه نه لرې ،غواړې په افغانستان کې داسي يو لاس پوڅے رژيم حاکم وي چې هر څه ددوې په قومانده او اشاره سرته ورسوې . په همدې اساس لازمه او اړينه بريښې دهمدغه کنفرانس دڅانګړې پرېکړې له مخې چې دپلې کېدوڅارونکے به يې دامينت شورا ،امريکا ،انګليستان ،چين او روسيه وې دافغانستان او پاکستان تر منځ ديواوبل په کورنيو چاروکي دهر ډول مداخلې او دخالت نه کولو موافقت نامه لاسليک سې.

ددې لپاره چې هر ورځ دپاکستان او افغانستان تر منځ پر دغه شان مسايلوپرابلمونه را پيدا نسې پر ځاې يې بولم ددغه نړېوال کنفرانس پرېکړې چې دعدالت او انصاف پر بيادبه تر سره سوې وې دملګرو ملتو او امنيت دشورادسازما ن په دفترونو کې راجستر او لاسليک کونکې يې په پلې کولو مکلف وګڼل سې.

يوازې نړېوال سياسې تعقل او بې پرې سياست به وکولاې سې په سيمه کې ددغودوهيوادو تر منځ دسل کلنې کړکېچ اوتاريخې مسله حل را منځته او دافغان ولس له ګرېوان څخه به دنړېوال تروريزم لاس لنډ کړې.

تر څو ددواړو خواو په خوښه دامسلې د عادلانه حل لاره ونه لټول سې ،امريکا او دنړے دغو ټولو هيوادو ته چې په شکل داشکالو په افغانستان کې مصروف دې داطمنان ورکوم چې خپلو هيوادوته به بيله دمړو له جسدونه بله هيڅ ګټه يونسې . او پايله به يې دا وې لکه بابرجنرال چې فرمايلي دې ((امريکا او دانور ټول به دوباره خپلو هيوادو ته ستانه سې )) که دبابر دا ارمان داځل تر سره سو افغانستان به په رښتياسره په هغه اورکې وسوځېږې چې داورلوګې به يې هرومرو په نيويارک ،لندن ،مسکو ،پيکنګ ،پاريس ،اروپا، کاناډااو جاپان او دعربې نړےپه ښکلو ښاروکي ډير نازولې ړانده کړې .افغانستان به نه يوازې تر هيروئنو دتوليد او سوداګرے مرکزوې بلکه دنړېوال افرطې تروريزم دتربيې او نړې ترهګريزو کړنو دپلې کولومرکزوې . اوس بايد ټول پدې پوهېدلې وې چې دډيورنډ کرښه هغه تورښامارد‌ے که مړ نسې او غم يې ونه خوړل سې ، په ټوله نړے که به څوک ارام پرې نږدې.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**